د قیامت په ورځ به تر ټولو ډیر سخت عذاب هغو خلکو ته وی کوم
چې عکس جوړونکې (اخیستونکی) دی
(مشکوٰۃ (قدیمی)، باب التصاویر؛ ص۳۸۵)

کوم شخص چې (د روح لرونکی) عکس جوړ کړی الله تعالیٰ به هغه ته
لازمی عذاب ورکړی، تر دې حده چې هغه په دغه عکس کی جان، روح
وانه چوی او هغه به هیڅکله روح نسی پکښې اچولای
(صحیح البخاری: باب من صور صورۃ، ج۲ ص۸۸۱)



د اوسنی عصر غټه فتنه

# سمارټ فون

## تاوانونه، بربادی او د ځان ساتلو طریقې


از افادات
عارف باللہ حضرت اقدس شاہ فیروز عبداللہ میمن صاحب دامت برکاتہم
خلیفہ مجاز بیعت
شیخ العرب والعجم عارف باللہ مجدد زمانہ
حضرت مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ



ادارۂ تالیفات اختریہ
hazratmeersahib.com

# ضروری تفصیل

**دکتاب نوم:** د اوسنی عصر غټه فتنه سمارټ فون
تاوانونه، بربادی او د ځان ساتلو طریقې

**افادات:** عارف باللّٰه حضرت شاه فیروز میمن صاحب مدظله

**دبیان تاریخ:** د مختلف بیانو او ارشاداتو مجموعه

**مقام:** مسجدِ اختر گلستانِ جوهر بلاک ۱۲

**موضوع:** د غټ موبایل زیانونه او د ځان ژغورنې طریقې

**مرتب کونکی:** د حضرت شیخ صاحب یو خادم

**نشرونکی:** اداره تالیفات اختریه

سندھ بلوچ سوسایټی، گلستان جوهر، بلاک ۱۲ کراچیی

# فهرست

**عنوان ــــــ صفحه**

مقدمه: عارف بالله حضرت شیخ فیروز میمن صاحب حفظه الله............................ ۱۰

اوله حصه/تاوانونه

زموږ د ژوند مقصد دخدای معرفت او تقوا حاصلول دی................................. ۱۲

①باب: سمارټ فون ـــــ . . . . . . . . . . . د ځان ـــــ مال او وخت تاوان ـــــ

د مال او تقوا بربادی....................................................... ۱۵

نوی نوی موبایلونه د رانیولو بد عادت.................................... ۱۵

د اسراف ګناه.................................................................. ۱۶

د مالداری وروسته فقر او فاقه............................................... ۱۶

ښځی موبایل ته څه ضرورت لری؟............................................ ۱۷

په ضرورت کی بخل او فضولیاتو کی خرڅ.................................... ۱۸

د مسنون اعمالو څه غفلت.................................................... ۱۹

ژوند په خطر کی اچول......................................................... ۱۹

جمع کړی پیسې بربادول....................................................... ۱۹

د لمانځه، ذکر او تلاوت څه محرومه کیدل.................................. ۱۹

د وخت بربادی.................................................................... ۲۰

په فضول کارو اخته کیدل ................................................... ۲۰

کاروبار برباد او په امانت کی خیانت......................................... ۲۱

②باب: سمارټ فون ـــــ . . . . . . . . . . . . . د رذیل اخلاقو چینه

د غیبت بازار ګرم .............................................................. ۲۱

د موبایل د استعمال په خاطر اخلاق خراب.................................. ۲۱

د ریا او ځان ښکاره کولو مرض.............................................. ۲۲

د ناشکری او حرص مرض..................................................... ۲۲

تر خپل وس ګران شیان د رانیولو دپاره پور کول........................... ۲۲

د قناعت نه کیدو په خاطر د ایمان بربادی.................................... ۲۳

په تجسس او پروپاګند کولو سره بدنامه کول........................................ ۲۳
يو څوک پر ذليل کولو باندی وعيد ................................................... ۲۴
د واټس اپ ګروپ په خاطر شخړی.................................................... ۲۴
زهيرول کول ........................................................................ ۲۵

③باب: سمارټ فون . . . . . د دې زمانې دجالی فتنه

ټوله ګناوی په يوه آله کی راجمع دی................................................ ۲۵
د دې زمانې دجال.................................................................. ۲۵
انټرنيټ د ګناوو جال.............................................................. ۲۶
کافران او فاسقان زموږ اتلان..................................................... ۲۶
د کافرانو مشابهت.................................................................. ۲۶
مسلمانانو هم د کافرانو رواجونه شروع کړه....................................... ۲۷
د تاريخی فلمو تاوانونه............................................................ ۲۷
د ميډيا خوږ لاکن د زهرو ډک دين................................................. ۲۸
الحاد نشرول....................................................................... ۲۸
د علماوو څه د ليريوالی وبال...................................................... ۲۸
د غير عالم پر دينی مسايل بيانولو باندی وعيد.................................... ۲۹
د موبايل په سبب نورو جرمنو ته رغبت............................................. ۳۰
د ډيپريشن لوی سبب............................................................... ۳۰

④باب: سمارټ فون . . . . . . . . . د ويډيو او عکسو نشرولو آله

د علماوو پر ميډيا باندی د راتللو تاوان........................................... ۳۰
دين د ميډيا محتاجه نه دی......................................................... ۳۱
د يو غلط فکر ازاله................................................................ ۳۱
دا غلط خيال چی پر تلويزيون بازی کتل څه پروا لری؟............................. ۳۱
د ډيجيټل عکس په باره کی د غټو مدرسو نظر...................................... ۳۱
د مولانا اشرف علی تهانوی صاحب مهم فرمان..................................... ۳۲
پر عکس جوړولو /اخيستلو باندی وعيدونه......................................... ۳۲
عکس کتل هم ګناه ده............................................................... ۳۳

د عکس اخیستلو ټولنیز او خاندانی تاوانونه............................................۳۴
په خوشحالی او غم کی عکسونه اخیستل..................................................۳۴
پر خپلو ګناوو شاهدان جوړول...............................................................۳۴
مقدس مقامونه هم د عکسو د لعنت څه محفوظه نه دی...................................۳۵
د موبایل په پروفایل کی د خاوند او ماندینې یو د بل عکس ورکول......................۳۵
د عکس حرمت د زړه څه ووتی...............................................................۳۵
د موبایل په سبب د عبادتو د ثمراتو څه محرومی..........................................۳۶
په عکس اخیستلو سره اولیاوو ته اذیت.....................................................۳۶
په دینی مجلسو کی د عکس اخیستلو په باره کی د دارالعلوم کراچی فتوا..............۳۷

## ⑤باب:سمارټ فون. . . د بدنظری او مجازی عشق سبب

په بدنظری سره د حق تعالیٰ حکم ماتیږی...................................................۳۸
بدنظری د سترګو زنا او دخدای لعنت.........................................................۳۹
د تقوا د لس انعامونو څه محرومی...........................................................۴۰
د بدنظری په خاطر عبادتونه بې خونده........................................................۴۰
بدنظری د زنا ابتدا ده...........................................................................۴۱
د بدنظری په خاطر د محبت د وادونو رواج ډیر سو.........................................۴۱
د خاوند او ماندینې په تعلقاتو کی د تریخوالی سبب.........................................۴۱
بدنظری دونه خطرناکه ګناه ولی ده؟.........................................................۴۲
موبایل د غزلو او سروز آله....................................................................۴۲
په زنګ کی د غزلو یا ساز تاوانونه............................................................۴۴
بې له ضرورته د نامحرمه ږغ اوریدل هم منع دی............................................۴۴

## ⑥باب:سمارټ فون. . . . . . . . . . . . . . . . .عبرتناکه قصې

د برصیصا عبرتناکه انجام او د موبایل د فتنې سره ربط.................................۴۴
د شیخ ابو عبدالله اندلسی د نصیحت ډکه قصه.............................................۴۹
د مجازی عشق څه تر ارتداد پوری.............................................................۴۹
د تکبر او بدنظری وبال........................................................................۵۱
دوستانو عبرت حاصل کړی....................................................................۵۱

## ⑦باب: سمارټ فون.....د بې حیایۍ او فحاشۍ طوفان


په بې حیایی کی ډیروالی........................................ ۵۲
پوښتنه به ستا څه کیږی........................................ ۵۲
د مشرانو ذهن سازی........................................ ۵۲
بې حیایی د ګناوو څاه دی........................................ ۵۳
آه مسلمان هم د دوږخ داعی جوړ سوی دی........................................ ۵۴
د غلط فلمو تلاښ........................................ ۵۴
بې خطره ګناه........................................ ۵۴
د بې حیایی په خاطر نوی نوی مرضونه........................................ ۵۵
جنسی جرمونه او دهغه اسباب........................................ ۵۵
د بې حیایی په خاطر د رزق څه محرومی........................................ ۵۶
د حیا حق څه شی دی........................................ ۵۶


## ⑧باب: سمارټ فون............. د ښځو د پاره غټه فتنه


په ښځو کی د بې مهاره آزادی غټ سبب........................................ ۵۷
ډیری نیکی ښځی د موبایل په سبب برباد سوې........................................ ۵۸
یو روا شی چی د ګناوو سبب جوړ سی نو شیخ څه حکم وکړی؟........................................ ۵۸
د سمارټ فون خواهش........................................ ۶۹
د موبایل په خاطر د شیخ څه بدګمانی........................................ ۶۰
بې شماره حلال نعمتونه پریښوول د حرام خواهش کول........................................ ۶۰
دخدای روی دی خپلو ښځو ته غټ موبایل هیڅکله مه ورکوی........................................ ۶۱
د محبت د واده خراب انجام........................................ ۶۱
په غټ تعداد انجونی زهیرول کیږی........................................ ۶۲
د موبایل په خاطر د خاوند په حقوق کی لاپرواهی........................................ ۶۲
خپلی لونی خپله بربادول........................................ ۶۳
د موبایل د غلط استعمال پر وخت که مرګ راغلی نو؟........................................ ۶۳
موبایل موږ دخدای څه لیری کړو........................................ ۶۴
د ناول زهر........................................ ۶۴
د ښځی د آواز هم پرده ده........................................ ۶۴

په نفس هیڅ باور نسته........................................................۶۵
آیا ته په ما باور نه لرې.........................................................۶۶
دیني مجلسو ته د راتلونکو انجونو دپاره هدایت.............................۶۶
د بد همنشین څه د ځان ساتلو نصیحت......................................۶۷
په جهیز کې لور ته غټ موبایل یا تلویزیون ورکول.........................۶۷
د موبایل په خاطر د کور په کارو کې لاپرواهي...............................۶۸
تر خاوند موبایل ډیر محبوب سو................................................۶۸
د غټ موبایل څه ځان خلاص کړی..............................................۶۸

## ⑨باب: سمارټ فون . . . . . . . . . . . د ګیم او کارټون تاوانونه

کارټون کتل ناروا او حرام دي..................................................۶۹
د ګیم لړ غوندي ګنجایش ورکولو تاوان......................................۶۹
ټوله شپه ویښ ټوله ورځ بیده....................................................۷۰
بې عکسه کارټون کتل څنګه دي...............................................۷۰
د کوچني د قرآن د حفظ زیار وربربادول.......................................۷۰
د کارټون او ګیم پر صحت باندي تاواني اثرات..............................۷۱
سمارټ فون یو خطرناکه نشه.....................................................۷۱
د خوفناکه فلمو او جوشناکه ګیمو تاوانونه....................................۷۲
د مور و پلار سره د بد اخلاقي سبب..........................................۷۲
د اولاد هر خواهش د پوره کولو تاوان.........................................۷۳
اولاد ته د موبایل او کمپیوټر ورکولو تاوان.................................۷۳
د سترګو په رپ کې د نفس وار..................................................۷۴
د کوچنیانو د تعلیمي زوال سبب................................................۷۴
کارټون کتل او ګیم د کافرانو سازش............................................۷۴
ایمان په خطر کې اچونکي ګیمونه...............................................۷۵
د کوچنیانو د جنګو مهم سبب....................................................۷۵
فحش ګیم او فحش کارټون........................................................۷۶
کوچنیانو ته روا نعمتونه د نه ورکولو تاوانونه..............................۷۶

⑩باب: سمارټ فون . . پر دینی او دنیاوی تعلیم باندی بد اثرات

درس ته د توجه نه کیدو سبب........................................................۷۶
حافظه ولی کمزوره ده..................................................................۷۷
د قرآن په حفظ کی د سخت تاوان سبب...........................................۷۷
د ارزانه پیکیجو تاوانونه................................................................۷۷
نه د دین سوه نه د دنیا...................................................................۷۷
آنلاین درس یو نوی مصیبت...........................................................۷۸
فاکولتې او پوهنتونونه د مجازی عشق اډې جوړی سوې........................۷۸

⑪باب: سمارټ فون . . . په حقوق الله او حقوق العباد کی کوتاهی

په مسجدو کی پر دنیاوی خبرو باندی وعید.........................................۷۸
د خالق سره رابطه قطع کول د مخلوق سره ټینګول.................................۷۹
د بیان څه د فایده نه کیدو سبب.......................................................۷۹
د موبایل په خاطر د سهار لمونځ قضا.................................................۷۹
کله چې والدین یا خاوند د کور خلکو ته وخت ورنه کړی........................۸۰
زموږ بې انصافی..........................................................................۸۱
زموږ د ګناوو پر ماندینې او اولادو اثر................................................۸۱
د ابتدا څه د اولاد بربادی...............................................................۸۱
په کورو کی نیک منظرونه بدل سوه....................................................۸۲
د اولاد دینی تربیت د نه کولو نتیجه...................................................۸۲

⑫باب: سمارټ فون . . . . . . . د اکابرینو او دینی مدرسو اعلان

د شیخُ الاسلام حضرت مفتی محمد تقی عثمانی صاحب ارشادات..................۸۳
سمارټ فون د دې زمانې عظیم فتنه.....................................................۸۳
اوس دینداره هم نه دی محفوظ..........................................................۸۳
سمارټ فون د هر وخت خطر............................................................۸٤
علماوو ته خاص نصیحت ...............................................................۸٤
د تاوانه ځان ساتل مقدم دی پر ګټه اخیستلو باندی................................۸٤
د بخاری شریف د افتتاح پر وخت طلباء کرامو ته بیان............................۸۵
د شیخُ الاسلام حضرت مفتی محمدتقی عثمانی صاحب د تقلید وړ عمل.........۸۵

د وفاق المدارس العربیه د طرفه اعلان.......................................۸۶
ضروری اعلان جامعة العلوم الاسلامیة، بنوری ټاؤن کراچی..........................۸۷
ضروری اعلان جامعه دارالعلوم کراچی.......................................۸۷
د زړه څه درخواست، د جامع عرض.......................................۸۸

## دوهمه حصه: علاجونه

د ګناه او د ګناوو د آلاتو څه لیریوالی یو اثر لرونکی تدبیر..........................۸۹
د موبایل ضرورت او د هغه اصول.......................................۸۹
په ضرورت کی د موبایل او انټرنیټ کارولو طریقه..................................۹۰
د بدنظری کونکو د یوې بهانې جواب.......................................۹۲
دخدای محبت او عظمت او د آخرت فکر.......................................۹۳
د ګناه پریښوولو خوندوره طریقه، د اولیاوو صحبت.................................۹۵
د ملک او کور د مشرانو ذمه واریانی.......................................۹۶
اولاد او کور کسان د خرافاتو څه د ساتلو طریقې..................................۹۶
① پر اولاد باندی سخت نظر وساتی.......................................۹۶
② خپله سل فیصد پر دین باندی عمل وکړی..................................۹۷
③ اولاد د روا تفریح څه مه راګرځوی.......................................۹۷
④ د ګناوو څه پر راګرځولو باندی په صبر سره اولاد ولی سی..........................۹۸
⑤ د اولاد په تربیت کی د دعا اهمیت.......................................۹۸
زموږ د شیخ صاحب یو الهامی دعا.......................................۹۹
د نفس او شیطان د شر څه د حفاظت دپاره څو دعاګانی..............................۹۹
امامُ المتقین یا امامُ الفاسقین، موږ څه شی جوړیدل غواړو ؟.........................۱۰۰
قرآن مجید پر سینه ومښلوی.......................................۱۰۰
د فکر لمحه.......................................۱۰۱
دینداره والدینو ته تسلیت.......................................۱۰۲
د اُمّت د مصلحینو په خدمت کی درخواست.......................................۱۰۲
دینی او دنیاوی تعلیم حاصل کونکی ځوانانو ته نصیحت..............................۱۰۳
راځی چی توبه وکاږو او خپل ربّ راضی کړو.......................................۱۰۴

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# مقدمه

## اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ وَ کَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی عَبۡدِہِ الۡمُصۡطَفٰی

د الله تعالیٰ بې حسابه شکر دی چې په ۱۹۹۱ء کی یې بې له استحقاقه د شیخُ العَرب وَالعَجم عارف بالله حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ خدمت ته اوله حاضری راپه نصیب کړه. شیخ صاحب به همیشه د نظر پر حفاظت باندی بیان کاوه، اول سر خو د بدنظری معامله فقط تر لغړزنو هلکوانو او ښځو پوری وه، بیا تلویزیون او سینما راغله، په دې فتنه کی ډیر مسلمانان مبتلا سوه لاکن اکثریت ځنی محفوظه وه، بیا د کمپیوټر او انټرنیټ زمانه راغله، دې هم ډیر خلک په خپل منګولو کی ونیول، لاکن ډیر خلک بیا هم ځنی محفوظه وه، تر دې حده چې د یوویشتمی پیړی د سر څه د سمارټ فون فتنه داسی شروع سوه چې عوام او خواص ټوله یې په ځان اخته کړه الاماشاءالله. د دنیا په کونج کونج کی تر دې حده چې د خدای کور مسجدو ته هم دغه فتنه خلکو داخل کړه او د دې فتنې دروازه داسی خلاصه سوه چې بندول یې ډیر مشکل سوه. زموږ ټول مشایخ حیران او پریشانه دی، د دې فتنې د تاوانو په باره کی په خپلو بیانو کی پاملرنی کوی لاکن دغه فتنه مخ پر زیاتیدو ده.

زه هم د الله تعالیٰ په خاص فضل او د خپلو بزرګانو په برکت د خپلو مریدانو ومخته د سمارټ فون دینی او دنیاوی تاوانونه شپه او ورځ بیانوم او زما به څه بیان وی بس د خپلو مشایخو او بزرګانو په خاصه زما د اول پیر شیخُ العَرب وَالعَجم عارف بالله حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ دوهم پیر د وخت قلندر حضرت عشرت جمیل میر صاحب رحمۃ اللہ علیہ اور دریم پیر شیخُ الحدیث د اکابرینو ترجمان حضرت مولانا شاه عبدُالمتین صاحب حفظہ اللہ نصیحتونه وی. په دغه خاطر د ډیرو مریدانو دا خواهش وو چې یو داسی کتاب تیار سی چې په هغه کی د سمارټ فون زیانونه راجمع سی او تر څنګ یې د ځان ساتلو طریقې هم پکښی بیان سی چې د هغه څه ځان ساتل ممکن سی.

زما په ویلو سره زموږ امام مفتی انوارُالحق صاحب زما د بیانو څه د سمارټ فون زیانونه لیکل شروع کړه تقریباً ۲۰۰ زیانونه هغه ولیکل، بیا یو بل دوست یو څه بیانونه ساتلی وه د هغه څه هم د موضوع په حساب خاص مضمونونه راجلا سوه، بیا دواړی نویشتې د کمپیوټر ماهر راحیل اعجاز صاحب ته ورکړل سوې چې تکرار سوی خبری ځنی جلا کړی او مختصره کتاب تیار کړی. په آخره کی زموږ د کتابو مسئول مولانا سهیل صاحب په مشوره او کومک سره کتاب پر دغه موجوده ترتیب باندی تیار سو او د کتاب دوې حصې مقرره سوې، اوله حصه "تاوانونه" دوهمه حصه "علاجونه". اوله حصه پر دوولسو ابوابو باندی تقسیم سوه او په هر عنوان کی مختلف تاوانونه راجمع سوی دی، نن الحمدلله! دغه کتاب ستاسی ومخته دی.

دلته دغه خبره ښه په یاد وساتی چې د دې کتاب دا مقصد نه دی چې موږ باید د موبایل استعمال پریږدو. کوم خلک چې یو شرعی ضرورت لری لکه درس، دنده او د کاروبار مجبوری نو په دې کتاب کی دغه ښوول سوی دی چې موبایل په تقوا سره استعمال کړی او که خدای مکړه څوک په یو ګناه اخته وی نو په خپلو مشایخو او بزرګانو دی خپله اصلاح وکړی. افسوس دا دی چې زموږ د خوندو، مندو، لوڼو او میرمنو څه هم غټ موبایلونه او انټرنیټ سته، هغه غټ موبایل یا انټرنیټ ته څه ضرورت لری؟ کاشکې هغه په دغه کتاب کی زیانونه په ویلو سره غټ موبایل دستی پریږدی او الله تعالیٰ او رسول الله ﷺ خوشحاله کړی او د خدای د رحمت سایه تر لاسه کړی. حق تعالیٰ دی دغه کوښښ قبول کړی او د جمله معاونینو دپاره دی په آخرت کی د کامیابی ذریعه وګرځوی.

اٰمِیْنَ یَارَبَّ الْعٰلَمِیْنَ بِحُرْمَةِ سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ عَلَیْهِ الصَّلٰوةُ وَالتَّسْلِیْمُ

حقیر فیروز میمن عفا اللہ عنہ

۳ رجب ۱۴۴۳ھ / ۵ فروری ۲۰۲۲ء

غرفۃ السالکین، گلستانِ جوہر، بلاک ۱۲

د اوسنی عصر غټه فتنه

# سمارټ فون

## تاوانونه، بربادی او د ځان ساتلو طریقې

## اوله حصه: تاوانونه

**اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى**

### زموږ د ژوند مقصد د خدای معرفت او تقوا حاصلول دی

حق تعالیٰ دی موږ ته د خپل ژوند په مقصد د پوهیدلو توفیق راکړی، کله چې انسان د یو کار په مقصد نه پوهیږی نو د هغه کار هیڅکله صحیح نسی کیدای لهٰذا موږ باید د خپل ژوند په مقصد پوه سو چې موږ دنیا ته ولی راغلی یو؟ زموږ شیخ حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ فرمایي ؎

*مری زندگی کا حاصل مری زیست کا سہارا*
*ترے عاشقوں میں جینا ترے عاشقوں میں مرنا*
*مجھے کچھ خبر نہیں تھی ترا درد کیا ہے یارب*
*ترے عاشقوں سے سیکھا ترے سنگِ در پہ مرنا*
*کسی اہلِ دل کی صحبت جو ملی کسی کو اخترؔ*
*اسے آگیا ہے جینا اسے آگیا ہے مرنا*

**ترجمه**: زما د ژوند حاصل او مقصد، ستا په عاشقانو کی ژوند او مرګ، زه خبر نه وم چې ستا محبت څه شی دی اې ربّه!، ستا د عاشقانو څه می زده کړه پر تا قربانیده، د یو بزرګ صحبت چې چاته حاصل سو نو هغه ژوند او مرګ زده کړی

دلته د ژوند مطلب څه شی دی؟ نیک کار کول او د مرګ مطلب دی پر حرام خواهشاتو او ګناوو باندی عمل نه کول، همداغه زموږ د ژوند مقصد دی. د دنیا ژوند زموږ مسافری ده آخرت زموږ وطن دی، په دې دنیا کی چې یو ډیر مالداره یا پاچا هم وفات

سی نو وواياست د هغه سره کوم شی ځی؟ کله چې يو څوک د دنيا څه رخصت سی او قبر ته يې جنازه تاسی نو آيا د دنيا يو دولت، ډالر، پونډ، سره زر، سپين زر د ځانه سره وړی؟ نه اسباب وړی نه نغدی وړی، د هغه وخت حال يو شاعر داسی بيانوی؎

**شکریہ اے قبر تک پہنچانے والو شکریہ**
**اب اکیلے ہی چلے جائیں گے اس منزل سے ہم**

**ترجمه:** ډيره مهرباني تر قبره را رسونکو ډيره مهرباني، اوس به زه يواځی د دې ځايه څه ولاړ سم

د کوم وخت څه چې حضرت آدم علیه الصلوٰة والسلام پيدا سوی دی آيا يو چا وليده چې يوه مړی د ځان سره خپل کور، غالۍ او مال ټوله وړی وی. کله چې موږ په کفن کی ويېچل سو نو موږ به خپل مال، سره زر، آل اولاد، غالۍ، موبايل، پيسې او داسی نور هيڅ شی نسو وړای، همداغه دليل دی چې دا زموږ د ژوند مقصد نه دی، دا فقط د ژوند وسايل دی، وسايل واخيستل سی مقصد نه اخيستل کيږی. زموږ د ژوند مقصد تقوا حاصلول يعنی دخدای دوستی ده. حق تعالیٰ فرمايي

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾

**(سورت الذاريات: آيت ۵۶)**

***ترجمہ:*** او ما پيريان او انسانان نه دی پيدا کړی مګر د دې دپاره چې دوی زما عبادت وکړی(آسان ترجمه قرآن) کله چې يې د خپل عبادت دپاره پيدا کړی يو نو بس د خدای عبادت به کيږی. حق تعالیٰ خو د خپل عبادت دپاره پيدا کړو لاکن موږ په حرام عشق او د حسن د خاوندانو په قصه اخته يو. موږ د خدای بندګی پريښوول په غلاظت کی مو ژوند ضايع کړی، د دې موږ خپله ذمه واره يو. که حق تعالیٰ په قرآن کی اعلان نه وای کړی نو موږ ويلای سوای چې ياالله! تا د پيدا کولو وروسته موږ ته نه دی راښوولی لاکن حق تعالیٰ را وښوول چې ما تاسی د خپل معرفت او عبادت دپاره پيدا کړی ياست.

زموږ په معاشره کی د ځوانانو قيمتی وخت د ضايع کولو يو لوی سبب موبايل جوړ سوی دی، د موبايل سره د وخت تيرولو يو عام عادت جوړ سوی دی، څو ساعته په دې کی ضايع کول، د شپې خوب ورته خرابول يو عادی خبره ده. يو وخت دې ته خيال نه ورکرځی چې زما قيمتی وخت ضايع کيږی. لهٰذا زما دوستانو! موږ خپل

وخت باید ارزښتناکه کړو او په خاص توګه موبایل د غلط استعمال څه د ځان ساتلو کوښښ وکړو. د موبایل ضرورت زه منم او تسلیموم، یو نوی سړی دی دغه په اوریدلو سره وارخطا کیږی نه چې دا څنګه شیخ دی چې موبایل منع کوی، روا شی څوک منع کوی لاکن په فضولیاتو کی وخت ضایع کول، د شپې ویښ پاته کیدل، لمونځونه پر قضا کول، په لوی لوی ګناوو اخته کیدل نو څوک به د دې اجازه ورکړی؟ ډیر دینداره خلک هم د دې موبایل په فتنه اخته دی، مخ ته چې یې وګورې نو به داسی معلوم سی چې تر ده لوی بزرګ نسته او کارونه یې شیطانی دی، فحش فلمونه ګوری، د پردیو ښځو او نامحرمو سره خبری کوی. زموږ مخان په لیدلو سره خلک موږ ته سلامونه کوی، عزت راکوی او زموږ دغه حال دی چې موږ بس غټ موبایل غواړو، نعوذبالله! په تقوا حاصلولو سره د خدای محبت نه غواړو، که خدای غواړو نو موږ د خپلو ګناوو اصلاح په خپل شیخ ولی نه کوو؟ په دغه خاطر زه د خدای دپاره وایم چې کومو خلکو د اولیاوو پر لاس بیعت کړی دی هغه دی پټ پټ غلط شیانو ته د ورتګ او د ګناه کولو څه لاس واخلی، د خدای د عذاب انتظار دی نه کوی.

ما خپلو مریدانو ته هم ویلی دی چې زموږ پر ویب پاڼه باندی فقط آنلاین بیانونه د اوریدلو دپاره هیچاته د غټ موبایل رانیولو یا انټرنیټ لګولو هیڅکله اجازه نسته، دغه ویب پاڼه د هغو خلکو دپاره جوړه سوې ده چې غټ موبایل یا انټرنیټ کارول یې سخته مجبوری ده او د هغو دپاره هم لازم دی چې پر هر پنځلسو ورځو باندی د استعمال په باره کی خبر راکړی چې غلط خو یې نه کاروی. الحمدلله! د نورو کسانو دپاره پر ساده موبایل باندی د کنفرانس کال په ذریعه ټوله بیانونه د اوریدلو انتظام سته، د دې ماسوا زموږ د ادارې څه په میموری کارډ کی بیانونه په اخیستلو سره په خپل ساده موبایلونو کی هم اوریدل کیدای سی او که څوک ساده موبایل هم نه لری نو هم څه خبره نه ده زموږ د شیخ کتابونه دی د ویلو دپاره را وغواړی.

**د آخرت څه غفلت:** د موبایل سره زموږ د شوق مثال همداسی دی لکه زموږ منزل چې د غرب خوا وی او موږ د شرق خوا ته روان یو نو به غرب ته څنګه رسیږو؟ حضرت ډاکټر عبدالحی صاحب رحمة الله علیه د حضرت تهانوی رحمة الله علیه غټ خلیفه وو د هغه ډیر ښه شعر دی ؎

**قدم سوئے مرقد نظر سوئے دنیا**

**کہاں جارہا ہے، کدھر دیکھتا ہے**

**ترجمه**: قدم د قبر پر خوا نظر د دنیا پر خوا، چیری روان یې چیری ګوري

یعنی د هر سړی قدم ورځ په ورځ قبر ته نژدې کیږی، هغه روان خو قبر ته دی لاکن ګوری دنیا ته. ما د یو ځوان څه پوښتنه وکړه چې پر تلیفون کولو باندی چې ته دونه مصرف کوې نو تاته هم د یو چا تلیفون راځی؟ وې ویل یا بس هم زه شپه او ورځ نورو ته تلیفونان ورکوم. واویلاست! په څونه مصیبت کې یې ځان اچولی دی.

## ①باب: سمارټ فون .......... د ځان، مال او وخت تاوان

**د مال او تقوا بربادی:** د حدیث شریف مفهوم دی چې مالداری غنیمت وبوله د فقر تر مخه، فراغت تر مصروفه کیدو تر مخه، ژوند د مرګ تر مخه، ځوانی تر سپین ږیروالی تر مخه، صحت د ناجوړی تر مخه غنیمت وبوله. د غټ موبایل او انټرنیټ په خرافاتو کې په اخته کیدو سره د مال، وخت، ځوانی او صحت ټولو بربادی ده. غټ موبایل د مکمل استعمال دپاره انټرنیټ فعاله کول ضروری وی، کله چې انټرنیټ فعاله سی نو لیکلی راسی چې دونه ډالر جمع که یا دغه اپلیکیشن خلاصیږی، اوس نو د کریډټ کارډ په ذریعه خو یې اپلیکیشن رانیوی لاکن سر یې نه په خلاصیږی یا په هغه د سر خلاصولو دپاره په انټرنیټ کې Help(کومک) ولیکی یا معلومه نه ده چې د کوم ځای څه کوم ځای ته ولاړ سی، په داغه کې یې د سهار لمونځ پریښووی، په زرهاوو روپۍ یې جلا برباد کړې او په آخر کې په شی پوه هم نسی یا اپلیکیشن والاوو ته بد وایی چې دا ټوله د پیسو دپاره چل دی بیکاره زما ډالر ضایع سوه. اوس په کوچنی موبایلونو کې هم د انټرنیټ، یوټیوب، فیسبک خرافات راشروع سوی دی چې کوم خلک ځنی محفوظه وه هغه هم په اخته سی. په دغه خاطر موبایل او یا په هغه کې انټرنیټ لګول خپله د خطر خبره ده، یو وخت هم نفس ښویدلای سی او زیاتره یې استعمال فضول وی که ستاسی ایمیل ته ضرورت پیښیږی یا ستاسی کاروبار، دنده او درس داسی دی چې د دنیا سره رابطه ساتل وی نو د استعمال طریقه یې زده کړی چې بې له ګناه یې څنګه کار کړو.

**نوی نوی موبایلونه د رانیولو بد عادت:** زړه می ډیر کړیږی چې موږ خپل د ژوند مقصد هیر کړی دی، ځنی خلک هر وخت نوی موبایل د رانیولو فکر لری. هم پرون

زما يو ملګري ګران موبايل رانيوی، ما د شپږو اوو مياشتو څه کټله چې هر وخت به د هغه په لاس کې نوی موبايل وو که څه هم هغه زما سره وعده کړې وه چې اوس به زه موبايل بې له ضرورته نه بدلوم که مې بدلوی نو د شيخ سره به صلاح کوم، کله چې شيخ درته وويل که دی بيا نفس د موبايل بدلولو خواهش وکړی نو ته د دين په کار کې هغونه پيسې ولګوه چې نفس ته سزا ورکړل سی، آيا تر ننه دی پيسې ولګولې؟ نفس داسې نه فنا کيږي. افسوس! خلک خپل ځان د اصلاح دپاره نه رامخته کوی او څوک چې يې رامخته کړي نو اطاعت نه کوی.

**د اسراف ګناه :** موبايل هر واری بدلول آيا دا اسراف نه دی؟ په قرآن پاک کې دی چې اسراف کونکی د شيطان ورور دی

**﴿اِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْۤا اِخْوَانَ الشَّيٰطِيْنِ﴾ (سورت بنی اسرائيل: آيت ٢٧)**

***ترجمہ:*** يقين وکړی چې کوم خلک په بيکاره کارو کې مال مصرفه وی هغه د شيطان وروڼه دی(آسان ترجمه قرآن) دلته حق تعالیٰ اسراف د يو شي سره نه دی قيد کړی بلکې مطلقاً يې وفرمايل چې تاسې اسراف مه کوی، نو اوس په دغه اسراف سره په هر شي کې اسراف کول ناروا سوه که څه هم هغه د وخت ضياع وی او که د مال او دولت يا بدني قوت بې ځايه مصرف په شکل کې وی. په يوه حديث شريف کې هم د اسراف څه د ځان ساتلو سخت تاکيد بيان سوی دی

**((عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِسَعْدٍ وَّهُوَ يَتَوَضَّأُ فَقَالَ مَا هٰذَا السَّرَفُ يَا سَعْدُ؟ فَقَالَ اَفِي الْوُضُوْءِ سَرَفٌ؟ قَالَ نَعَمْ وَاِنْ كُنْتَ عَلٰى نَهْرٍ جَارٍ))**

**(مشکوٰة المصابيح: (قديمی)، باب سنن الوضوء، ص٤٧)**

***ترجمہ:*** د عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه څه روايت دی چې سعد(بن ابی وقاص) رضي الله عنه اودس تازه کوی رسول الله صلی الله عليه وسلم پر را تير سو نو ورته وې فرمايل دا څنګه اسراف دی؟ هغه ورته وويل آيا په اوداسه کې هم اسراف کيږی؟ ورته وې فرمايل هو! که څه هم ته پر بهيدونکې وياله(يعنی د هغه پر غاړه ناست) يې.

**د مالداری وروسته فقر او فاقه:** دا فکر مه کوی چې زموږ سره ډيره پيسه ده، دغه کوچنی کوچنی شيان انسان برباد کړی، وروسته بيا خيال کوی چې کاشکې ما داسې نه وای کړی او هسې نه وای کړی. که ته په مشترکه کورنۍ کې ژوند کوی نو تاته په کټلو

سره به ستا ورور، ستا زوی حتی چې ستا ښځه هم هغسې کوي، ښځه به هم درته وايي چې ماته موبايل راوړه که څه هم ارزانه وي، تا ساده موبايل هغې ته راوړی، هغه موبايل کوچنی ورخراب کړی، د دې وروسته شپږ زرو والا موبايل ورته راغلی، بيا کامرې والا موبايل ورته راغلی، په آخره کې ښځه وايي چې ستا سره شپيته زرو والا موبايل دی زما سره شپږ زرو والا ولې دی؟ زه په ځان باور لرم، زه په تقوا سره اوسيږم زه هم شپيته زرو والا غواړم. په سفر يو ځای ته ولاړم نو ملګرو راته وويل چې دلته د اتو او نهو کالو هلکوانو څه مو داسې ګران موبايلونه وليده کوم چې زموږ سره هم نسته.

**ښځې موبايل ته څه ضرورت لري؟** يو څو ښځو چې د اصلاح دپاره تعلق هم لري هغو بې اجازې غټ موبايل رانيوی، د هغو څه پوښتنه کوم چې تاسې دې ته څه ضرورت لرئ؟ د ضرورت مطلب دا دی چې بې له هغه تاوان وي، کله چې غټ موبايل د خرڅولو ورته وويل سوه نو خط يې راغلی چې ښځې بيا پسخند راوهی چې دا غريبه سوه، آيا دا ځان ښکاره کول نه دي؟ که ضرورت ورته لرې نو زر دوه زرو والا موبايل رانيسه. څونه ښځې په تقوا سره اوسيدلې، ساده موبايل يې کاروی لاکن بيا يې بې اجازې غټ موبايل رانيوی او په ګناوو اخته سوې، د نامحرمو سره خبرې کول، خپل عکسونه استول، لاحول ولاقوة الابالله! که د بيان اوريدلو دپاره موبايل رانيول سوی دی نو آيا بيان اوريدل دونه ضروري دي چې په ګناه اخته سئ؟ په ياد يې وساتئ! هيڅکله پر نفس باندې باور ونه کړئ. ما چې د څه وخت څه د موبايل پر تاوانو باندې نصيحتونه شروع کړي دي نو د ډيرو نارينه وو او زنانه وو پيغام راغلی يا يې په خط کې راته وليکل چې اوس موږ د اصلاح دپاره تعلق ټينګ درسره ساتو، وعده درسره کوو چې په آينده کې به بې پوښتنې هيڅ کار ونه کړو، په دغه مجلسو خو زموږ سترګې خلاصې سوې موږ ته خو معلوم هم نه وه چې دا اسراف دی ان شاءالله نور تاته د شکايت موقع نه درکوو.

څو کسانو راته وويل چې موږ غټ موبايل رانيوی په رشتيا هم د دې په استعمال کې اسراف راځخه شروع سو او د ګناه څه ځان ساتل مشکل سوه. د غټ موبايل ضرورت څه شی دی؟ ضرورت خو فقط تليفون کول يا تليفون اوريدل يا يو يادښت لګول يا قرآن شريف يا يو ديني کتاب پکښې اېښوول دا صحيح دي، نور انټرنيټ، کرکټ، ګېمونه يا په تليفون کې بيکاره خبرې کول، آيا دا د وخت ضايع کول نه دي؟ هم د

داغه فضولیاتو وروسته سړی په ګناه اخته سی. د یوې ښځې خط راغلی چې زما خاوند ماته غټ موبایل په تحفه کی راکړی اوس چې شیخ څنګه ستا حکم وی زه څه وکړم؟ نو ما ورته ولیکل کاشکې ستا خاوند د تحفې تر مخه صلاح کړی وای موږ روا تحفه کله منع کوو؟ د سرو زرو انګوشتری به یې درکړې وای، ستا خاوند نیک سړی دی اوس د هغه په اجازه دغه موبایل خرڅ که ساده موبایل واخله، د خاوند خدمت ته ترجیح ورکه. کله چې په موبایل کی وخت ضایع کیږی نو د خاوند خدمت به څنګه کیږی؟.

**په ضرورت کی بخل او فضولیاتو کی خرڅ:** نن سبا خلک پر خپل موږ و پلار باندی مصرف نه کوی خو بې ځایه موبایل ته پیسې اچول، پیکیجونه، بې ضرورته ګران موبایلونه او داسی نورو باندی ډیری پیسې ضایع کوی، دا اسراف دی. ډیر ګران موبایلونه خو لری لاکن د زکوٰة فکر نسته، صدقه د ورکولو فکر نسته، ولی زموږ زړه نه غواړی چې ګران موبایلونه رانه نیسو او کاشکې داغه پیسې جمع کړو عمرې ته ولاړ سو، دخدای کور ووینو، د رسول الله ﷺ روضه مبارک ووینو، هغه لاری پر سترګو ونیسو چیری چې رسول ﷺ او اصحاب کرام رضوان الله علیهم اجمعین خپل قدمونه ایښی وه، د هغه ملتزم سره ومښلو چیری چې د زرهاوو انبیاء کرام علیهم السلام اصحابِ کرام رضوان الله علیهم اجمعین، تابعین، تبع تابعین او اولیاء کرام رحمة الله علیهم مبارکی سینې مښتې وې لاکن موږ خو د موبایل سره مښتی یو او موږ احساس هم نه لرو. زړه می ډیر غمجن سی، زموږ کار خو ویل دی او حق تعالیٰ ته ژړا کول دی د ځان دپاره، د خپلو مریدانو دپاره او د ټول اُمّت دپاره، بس نور څه کولای سو؟ د چا سره زور خو نسو کولای. هر شخص چې دینداره دی، ذکر هم کوی، تلاوت هم کوی هغه دی خپله فکر وکړی چې زه په موبایل اخته یم که یا؟ حق تعالیٰ موږ د دې دپاره نه یو پیدا کړی چې موبایل او کمپیوټر ته فضول کښېنو. په یوه حدیث شریف کی رسول الله ﷺ وفرمایل

**((لَيْسَ يَتَحَسَّرُ أَهْلُ الْجَنَّةِ إِلَّا عَلَى سَاعَةٍ مَّرَّتْ بِهِمْ لَمْ يَذْكُرُوا اللهَ فِيهَا))**

**(المعجم الکبیر للطبرانی: (مکتبة ابن تیمیة، القاهرة) جزء ۲۰ ص ۹۳، رقم ۱۸۲)**

*ترجمه*: د جنت خاوندانو ته به په جنت کی د هیڅ خبری ارمان نه وی لاکن په دنیا کی د خدای څه په غفلت کی چې کومی لمحې او وختونه تیر سوه پر هغو به هلته هم ارمان وی.

**د مسنون اعمالو څخه غفلت:** د موبایل په خاطر زموږ داسی حالت سوی دی که مو د شپې پنځه واری سترګی خلاصی سی نو د ټولو تر مخه موبایل ګورو، د خوب څخه د راپورته کېدو وروسته هم زموږ داغه حال وی چی اول موبایل ګورو، د خوب څخه د راپورته کیدو سنتونه، په دواړو لاسو سترګی مږل، دعا ویل ټوله مو هیر سی فقط موبایل مو په یاد وی. آخر په یو شی نه یو شی کی زړه بندیږی، هم په دغه غافل کونکو شیانو اخته یو او خپل وخت ضایع کوو.

**ژوند په خطر کی اچول:** داسی هم لیدل سوی دی چی موټر خو موټر په موټر سایکل چلولو کی پر موبایل باندی پیغام لیکی. زه خو خپل دوستان منع کوم چی په موټر چلولو کی هم پیغام بالکل مه کوی، که ضروری پیغام استول وی نو موټر یو طرفته ودروی، که په موټر چلولو کی تلیفون اوریدل وی نو کوشکی استعمال کړی. موټر چلوی او په یوه لاس یې موبایل غوږ ته نیولی وی یا پیغام استوی نابوبره ټکر وسی یا ترافیکی جریمه پر راسی، د ځان یا مال تاوان راسی، په دغه خاطر دوستانو پر ځان باندی رحم وکړی.

**جمع کړی پیسې بربادول:** زموږ یو شناخته پنځه پنځوس زره ټولی کړې د هغه یې موبایل رانیوی، دوهمه ورځ د خپلو دوستانو سره د ملاقات وروسته په موټر کی کښنیستی یو غل باندی راغلی او د هغه څخه یې موبایل یووړی، په یوه لحظه کی د پنځه پنځوسو زرو موبایل ولاړی. په څو واری یې د موبایل په خاطر ژوند د لاسه ورکړی. داسی داسی ځوانان سته چی کور یې غربت دی کوم لږ غوندی د جیب خرڅ چی ورکول کیږی هغه یې جمع کړی او د نورو په شان یې د دیرشو زرو موبایل رانیوی چی د فلانکی سره سته نو زې ولی وانه خلم، په دغه خاطر د دې خبری خیال وساتی چی حق تعالیٰ کومی پیسې درکړی دی د هغه حفاظت وکړی فضول یې مه ضایع کوی.

**د لمانځه، ذکر او تلاوت څخه محرومه کیدل:** قرآن پاک یې په صحیح تجوید سره ویل زده نه دی، د تلاوت، ذکر، لمانځه فکر نسته، بس په مفت پیکیج لګولو سره په خبرو اخته دی، خپل عبادت ځنی هیر دی د سهار لمونځ په جماعت نسته. آیا زموږ خوندی مندی پر وخت لمونځ کوی؟ د قرآن شریف تلاوت کوی؟ درود شریف وایی؟ ذکر کوی؟ بهشتی زیور کتاب ته یې د څو میاشتو څخه لاس نه دی وروړی؟ اصلاحِ اخلاق کتاب یې په څو میاشتی نه دی ویلی؟ مناجاتِ مقبول کتاب خونه وایی؟ څو ساعته په

موبایل کی خبری، غیبت او د بې ځایه قصو په خاطر یې د تلاوت غوندی نعمت څه ځان محرومه کړی دی. د موبایل د ټولو خرافاتو دپاره وخت سته، ټوله شپه ویښ په موبایل اخته وی لاکن د سهار لمونځ نه کوی، تهجد نه کوی، که څه هم د تهجد څونه فضایل دی، ووایاست څوک چې ټوله شپه په موبایل اخته وی هغه ته به د دې فضایلو فکر وی؟ لږ فکر وکړی چې دغه موبایل موږ د خدای څه څونه لیری کوی. د خپل طبیعت په ژوند سره د خدای محبت نه تر لاسه کیږی، شیخ ته په خط کی حالات ولیکی چې څونه ذکر کوم؟ څونه تلاوت کوم؟ خپل تجوید صحیح کوم که یا؟ لاکن په زړه کی چې طلب وی نو اصلاح کیږی. د شپې تر ډیره ویښ کسان که څه هم په موبایل کی یو ویډیو ونه ګوری یا یو ګناه هم ونه کړی لاکن که حق تعالیٰ پوښتنه وکړه چې زما سره دی نیم ساعت خبری ولی ونه کړې نو به څه جواب ورکړی؟ د حق تعالیٰ سره خبری څه شی دی؟ د قرآن شریف تلاوت کول.

**د وخت بربادی:** په غټ موبایل کی دونه شیان وی چې د خدای پناه! یو سړی پر خپل موبایل باندی یو روا شی ماته راښکاره کوی نو په موبایل کی یې مختلف شل خانې جوړی وې، په یوه کی یې وکتل نو دننه نوری څو خانې، هغه چې یې ایسته کړه نو بله خانه راغله، په هغه کی هم پنځلس شیان. قیمتی وخت په دغه شیانو مصرف کیږی. کله یو سویچ ووهه کله بل، فقط دغه د کتلو دپاره چې په دې خانه کی څه شی دی. دا خو د هغه دوستانو حال دی کوم چې د خرافاتو څه ځان ساتی لاکن وګوری څونه وخت په ضایع سی. زموږ د کومو خوندو مندو سره چې ساده موبایلونه دی نو هغه دی هم د ضرورت پر وخت کاروی داسی نه چې هر چاته بې ځایه تلیفون ورکوی. په خپل شیخ باید اصلاح وسی چې پر موبایل باندی زما څونه وخت تیریږی؟

**په فضول کارو اخته کیدل:** داسی پیغامونه راځی، تاسی ته به هم راځی چې دغه خبره دونه نشر کړی چې تا ته بیرته راسی، داسی معلومیږی چې په دنیا کی بل کار نسته بس کښینو داغه کار کوو. د پوره دنیا خبرونه د ټولو ترمخه د نشرولو بد عادت رالویدلی دی چې اول زما نوم سی چې ما خبر ورکړی، دستی یې نشروی، که یو څوک غوځار سی یا داسی یو خبره چې خلک په هغه پسخند ووهی حتیٰ چې یو سړی ټکر وکړی هغه زخمی پروت وی د هغه سره کومک نه کوی بلکې ویډیو یې جوړوی او په نشرولو سره یې زړه ازاروی.

**کاروبار برباد او په امانت کی خیانت:** د انټرنیټ، ډیش انټن او موبایل په خاطر خلک د شپې تر ډیره په دغه اخته وی یا د خوب د لړوالی په خاطر خپل دندې او کاروبار ته پر وخت باندی په ورتګ کی سستی کوی چی په دې سبب د کاروبار تاوان کیږی یا په دفتر کی د کار پر وخت پر ځای د خپلی وظیفې پر موبایل باندی په غیر ضروری خبرو اخته وی چی په دې یې تنخوا په ناروا کیدو سره د کار دپاره راغلی کسانو ته تکلیف او د هغو په کارو کی ځنډ راځی لاکن دوی هیڅ پروا نه لری.

## ②باب: سمارټ فون ........... د رذیل اخلاقو چینه

د غټ موبایل په خاطر عوام او خواص که څه هم نر وی که ښځی په مختلف قسمه رذیل اخلاقو اخته سی او هغو ته د خپل اصلاح فکر هم نه کیږی.

**د غیبت بازار ګرم:** زه خپلو خوندو مندو ته هم وایم چی د الله سره دوستی وکړی، دونه وخت د الله سره خبری وکړی، آیا په موبایل کی په اوږدو خبرو کی څوک غیبت نه کوی؟ په اوږدو خبرو کی د غیبت څه څنګه ځان ساتلای سی؟ حضرت تهانوی رحمه الله فرمایي هر چیری چی دوو ښځو خبری شروع کړې یو ګړی وروسته به غیبت شروع سی، الاماشاءالله او دغه هم د حضرت تهانوی رحمه الله خبره ده فرمایي آیا خپل جنجالونه مو کم دی چی موږ د نورو په جنجالو کی ځان واچوو. اول سر چی پیکیجونه نه وه نو د خپلوانو او دوستانو سره مو څنګه خبری کولې؟ اوس هم هغسی وکړی، پنځه دقیقې لس دقیقې خبری وکړی، څو ساعته د موبایل پر پیکیج باندی فضول خبری کول آیا دا ګناه نه ده؟ آیا الله تعالیٰ به پوښتنه ونه کړی چی تا وخت چیری استعمال کړی؟ زه دا خبره داغسی نه کوم، ښځی څلور څلور پنځه پنځه ساعته پر مفت پیکیج باندی خبری کوی.

**د موبایل د استعمال په خاطر اخلاق خراب:** د موبایل د فضولیاتو سره نه د خاوند اطاعت کیدای سی نه د مور و پلار، خواښی او خسر خدمت کیدای سی، نه د اولادو تربیت کیدای سی. ښځه چی کله د موبایل یا انټرنیټ په ذریعه په پیکیج کی خبری کوی او په دا حال کی کوچنی ورته وژاړی یا هغه وږی سی یا مرداری ورته وکړی نو ښځه به هغه ته لغته ورکړی چی ته چیری مابین ته راغلې، خوشکه به ورته وکړی، په چپلاخه به یې ووهی ځکه چی تلیفون خو به هغه بند نه کړی، آیا کوچنی په وهلو سره به حق تعالیٰ راضی سی؟

**د ریا او ځان ښکاره کولو مرض:** کومې ښځې چې غټ موبایل لري د هغه څه په فیشن پرستۍ کې د اخته کېدو امکان هم سته، ښځې خو د کالو د فیشن په شان موبایل هم د نوي فیشن غواړي، وایي چې د فلانکۍ ښځه سره سته نو زه یې هم باید ولرم. د کمترۍ احساس، ریا، ځان ښکاره کول او په پټ شرک کې مبتلا دي چې زې نورو ته ورښکاره کړم چې زه هم غټ موبایل لرم، بیا په انټرنیټ کې د کالو په ډیزاینو پسې ګرځي په هغه کې بې حیا ښځې ښکاره کېږي یا د ډوډۍ پخولو طریقې د زده کولو په بهانه موبایل رانیسي. ګران موبایل په رانیولو کې ځان ښکاره کول هم پټ وي چې زما شهرت وسي او خلک مې صفت وکړي چې د دې څه ګران موبایل دی، عجبه عجبه ډیزاینو والا ګران موبایلونه رانیسي، بیا نورو ته یې د ورښکاره کولو دپاره د خپل خبرو انداز هم بدل کړي او په خبرو خبرو کې قصداً موبایل ښکاره کوي چې زما څه دونه ګران موبایل دی، آیا دا ریا نه ده؟ اوس نو چې کومې ښځې غټ موبایل نه لري نو که هغه عقل لري نو به خوشحاله وي چې د دې بلا څه حق تعالیٰ وساتلو او که عقل نه لري نو به د کمترۍ احساس ورپیدا سي.

**د ناشکرۍ او حرص مرض:** د غټ موبایل څه د ناشکرۍ او حرص مرض هم پیدا کیږي، څنګه؟ ښځې پر کامره یا واټس اپ باندې د خپلوانو د کور مختلف شیان مثلاً پردې، لوښي، د بازۍ شیان، کالي او داسې نور په کتلو سره ناشکري کوي چې زموږ څه دغه ټوله شیان ولې نسته. همدا رنګه یې د مختلف مملکتو د خپلوانو سره رابطه کیږي نو هغو ته وایي چې خپل کور راښکاره که، د ناستې ځای راښکاره که، لوښي راښکاره که، فرش او غالۍ راښکاره که، کوم شیان چې د پټ ساتلو دي هغه ټوله په کامره کې ورښکاره کوي یا ویډیو جوړوي را استوي یې، د چا څه چې دغه شیان نه وي هغه ارمان کوي، هغه به د ناشکرۍ په ګناه اخته سي او ښکاره کونکې به د ریا په ګناه اخته سي، دا ټوله د ښکاره کولو مقصد څه وي؟ همداغه چې ټوله پوښتنه وکړي چې دا شیان دي په څو رانیول؟ او زموږ هیبت پر کښېنې چې ښه دونه ګران دي رانیولي دي، همدا رنګه د خپلو لوڼو د جهیز شیان، سره زر او کالي بل چاته په موبایل کې په ورښکاره کولو سره نظر هم سي، بیا په ژړا ګرځي چې یو چا نظر کړو، که څه هم دغه ښکاره کول ریا ده.

**تر خپل وس ګران شیان د رانیولو دپاره پور کول:** دوهمه خبره دا ده چې کله دغه شیان د رانیولو وس نه وي نو به د بانک د سودي کارډ په ذریعه قرض واخیستل سي او

په قرضو کی به ډوب سی، هر وخت قرضداره وی، هر وخت بل چاته ګوری. د کور د ښځو فرمایشونه هم نه کمیږی. لکه یو غټی مغازې او مارکيټ ته چي ځوک ورسی نو یا خو ناشکری شروع کړی یا تر خپل وس ډیر شیان رانیسی. اوس نو چي د بل ملک شیان ووینی چي هلته د یخ کالی دونه ګران دی نو دستی د دې ځایه ورته وویل سی چي موږ تاسی ته ډالر درلیږو تاسی دغه کالی رانیسی د یو چا په لاس یې راواستوی، ورځ په ورځ به مصرفونه دونه ډیر سی چي په قرضداره کیدو سره به د مخ ښکاره کولو لایق پاته نسی، د داسی خلکو نس هیڅکله نه ډکیږی ځکه چي نه پر موجوده نعمت باندی شکر کیږی نه قناعت کیږی، په دنیا کی تر ځان کښته ته نه ګوری او په دین کی تر ځان لوړ ته نه ګوری، د حق تعالیٰ څه په هیڅ حال کی راضی نه وی، ناشکری د کوم ځای څه کوم ځای ته ورسول.

**د قناعت نه کیدو په خاطر د ایمان بربادی:** هر وخت په زړه کی ناشکری او ارمان کوی چي کاشکي! زه هم کاناډا او امریکا ته تللی وای، په ډیر سخت کوښښ سره د کافرانو د مملکتو تابعیت واخلی، هلته ولاړ سی بیا نه چي فقط خپل ایمان ضایع کوی بلکي خپل راتلونکی نسلونه هم بربادوی، په ناشکری کولو سره ښځی خپلو خاوندانو ته وایي چي تا ماته راکړی څه دی؟ ګران شیان ته رانیولای نسې ځکه چي ستا تنخوا کمه ده لهذا کاناډا او امریکا ته درځه، شپه او ورځ په داغه خبرو سره د کور آرام برباد کړی. د کافرانو په مملکتو کی د تابعیت اخیستلو په باره کی دلته حضرت مولانا موسیٰ عراقی صاحب حفظه الله بیان کړی وو ټوله خلک باید هغه بیان واوری.

**په تجسس او پروپاګند کولو سره بدنامه کول:** نن سبا خلک یو د بل په راز پسی ګرځی، تجسس کوی، په غلطیو پسی ګرځی او ځنی بې حیا موبایل په هیک کولو سره ټوله معلومات غلا کړی بیا عزت ته سپکاوی په رسولو سره خوندونه اخلی، که څه هم حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه کعبې شریفی ته په کتلو سره فرمایلی وه اې کعبې! ستا عزت پر سر او سترګو دی لاکن د مومن عزت در تا بالا دی. د بل چا پر عیبو باندی د پرده اینښولو پر ځای هغه نور نشروی، که څه هم د بل عیبونه خو د پټولو حکم دی، د موبایل په ذریعه عیبونه بیانول، پروپاګند، درواغ رشتیا کول او رشتیا درواغ کول هم عام سوی دی، د ګناوو عکسونه یې په اخیستلو سره رسوا او ذلیله کوی، که څه هم عیب کتل منع دی او عیب ښکاره کول هم ګناه ده.

**يو څوک پر ذليل کولو باندی وعيد:** د حضرت ابو هريرهؓ څه روايت دی چې رسول اللهﷺ وفرمايل

**((لَا يَسْتُرُ عَبْدٌ عَبْدًا فِي الدُّنْيَا إِلَّا سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ))**

**(الصحيح لمسلم :(قديمی)، کتاب البر والصلة والاداب، ج۲ص۳۲۲)**

*ترجمه:* کوم بنده چې په دنيا کی د يو بنده عيب پټ کړی د قيامت په ورځ به الله د هغه عيب وریټ کړی. ټول مخلوق د الله عيال دی او د الله د خپلو بندګانو عيب بيانول او هغه بدنامول سخت ناخوښه دی، دونه يې ناخوښه دی چې هغه يې تر زنا ډير بدتره وبلی

**((اَلْغِيْبَةُ اَشَدُّ مِنَ الزِّنَا))**

**(مشکٰوة المصابيح :(قديمی)، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم، ص۴۱۵)**

*ترجمه:* رسول اللهﷺ وفرمايل چې غيبت تر زنا هم ډير شديد دی. زموږ شيخ صاحب به د دې مثال ورکوی چې ګوره! خپل زوی چې هر څونه نالايقه وی او پلار هغه ته خوشکی هم کوی لاکن پلار دغه نسی برداشتولای چې زما پر زوی بل څوک تبصره وکړی په دې د هغه زړه ازاريږی، همدا رنګه الله تعالیٰ حق لری خپلو بندګانو ته د خوشکی کولو، لاکن تاسی ولی پر هغه تبصره کوې؟ که ته رشتيا مخلص يې نو هغه په ادب او اکرام پوه که، د هغه دپاره دعا وکه وژاړه چې ياالله! هغه بې لمانځه دی لمونځ ګزاره يې که، يو څه اوښکی توی که بيا وګوره ستا په زړه کی څنګه نور ډيريږی.

**د واټس اپ ګروپ په خاطر شخړی:** په غټ موبايل کی د خاندان او دوستانو واټس اپ ګروپونه جوړ دی، په هغه کی د فضول بحث او مجلسو سره، غيبت، بهتان تړل او د تنقيد بازار تود وی، دا ګناه هم نه بولی، په فضول خبرو کی وخت جلا بربادوی او شخړی جلا وی. د خواښی او ندرور يو څه شخړه سره راغله ندرور خوابدې سوه د پلار کره ولاړه نو په ګروپ کی غيبت، بد ويل او خبری پر ترلو سره نور ليريوالی پيدا کوی. د خاندان شخړی، د خاوند او ماندينې، خواښی او ندرور شخړی ټيپ کری بيا د هغه څه خپل غلطی خبری وباسی د بل غلطيانی نشروی، په خاصه ندرور، وريندارګانی او داسی نور په بدنامولو سره جنګوی. د صلح پر ځای په اور لګولو سره يې په طلاقه کړی ځکه چې نژدې کونکی لرې او ليری کونکی او په تماشه کولو سره خوشحالی کونکی ډير وی.

**زهیرول کول:** د موبایل په ذریعه د زهیرولو سلسله هم عام ده، د ښځو، هوټلانو او دوکانو عکسونه په پورته کولو سره هغه زهیروی، د خلکو ښیراوی ټولوی، د عزت خاوندان بدنامه سی او دا خلک خوشحالی جوړوی چې موږ غټ کار وکړی، همدا رنګه ځنی خلک د علماوو او بزرګانو ویب پاڼی غلا کړی پر هغه باندی غلط شیان په لګولو سره هغه بدناموی او د حق تعالیٰ خوابدتیا تر لاس کړی.

## ⑨باب: سمارټ فون ............ د دې زمانې دجالی فتنه

**ټوله ګناوی په یوه آله کی راجمع دی:** دغه موبایل نن موږ د الله تعالیٰ څه غافل کړی یو، دا داسی فتنه ده چې په ځان کی یې ټوله ګناوی راجمع کړی دی لکه څنګه چې زموږ شیخ حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب رحمه الله علیه مثال ورکړی چې یو سړی څو ګناوی وکړې فلم کتلو ته ولاړی، بیا د هغه ځایه یو کلب ته ولاړی، بیا د انجلۍ د ملاقات دپاره د هغې د فاکولټې ومخته ودریدی، د فلمو دوکان ته ورغلی، دا ټوله کارونه په یوه وخت کی څنګه کیدای سی؟ بیا په مختلف مملکتو کی د بې حیایې ځایونه دی، دغه موبایل ټوله ګناوی په ځان کی راجمع کړی دی، لکه تلویزیون، انټرنیټ او داسی نور دا د ډیرو ګناوو ریښې دی، اوس دا ټوله ګناوی په یوه کوچنی آله کی راجمع سوی دی، اول به په یوه وخت کی یوه ګناه کیده، اوس سړی په ناستی په یوه وخت کی په څو ګناوو په آسانی سره اخته سی، دلته هلته د سترګو په رپ ګناه هم ګناه ده، کله به د لندن خرافات ګوری، کله به د اروپا خرافات ګوری، په نیمه شپه کی د تهجد پر وخت دغه کارونه کوی، که څه هم هغه وخت د عبادت څونه ثواب دی او دا په کبیره ګناه کی ډوب دی.

**د دې زمانې دجال:** غټ دجال خو په آخره زمانه کی لازمی راځی لاکن د هغه تر مخه به کوچنی کوچنی دجالی فتنې راځی. ډیر علماء فرمایي چې موبایل د دې زمانې دجال دی چا چې ډیره غټه فتنه جوړه کړې ده، عوام او خواص ټوله یې په ځان اخته کړی دی الاماشاءالله! څنګه چې د دجال فتنه به هر ځای ته ورسیږی دا رنګه د موبایل فتنه هم هر ځای ته ورسیده، تر دې حده چې د غرو سرونه، دښتونه او ځنګلونه یې هم نه دی پرې ایښی. اکثره په سفر کی تر لیری ځایو پوری دغه حال او دغه جال په نظر راځی، بلکې په کلو کی خلک نور زیات په اخته دی ځکه چې کار او روزګار خو وی نه، ټوله ورځ د تلویزیون او موبایل غلاظت په کتلو کی تیره کړی.

**انټرنیټ د ګناوو جال:** ځنی خلک په دینی جذبې او د دین نشرولو په نیت انټرنیټ یا غټ موبایل واخلی او په خپل نفس باور وکړی، که څه هم نفس خو اَمَّارَہ بِالسوء دی یعنی په کثرت سره د ګناه حکم کونکی دی، فکر کوی چی موږ به د هوسی ښکار وکړو(یعنی د دین خدمت به وکړو) لاکن د ګناوو د زوزانو څه ځنګلی خنزیر(یعنی فحش فلمونه) هغه ونیسی، بیا ژاړی چی یاالله! زه خو روان سوی وم ستا ذات د حاصلولو دپاره زه خو د ګناوو ځنګلی خنزیر ونیولم او زه په جال کی راغلم. د www مطلب هم دی world wide web یعنی ”نړیوال غزیدلی جال“ او دغه رنګه د انټرنیټ مطلب دی ”یو د بل سره مښلوونکی جال“ د کافرانو د دې سازشو سریره موږ په دې جالو کی بندیږو. موږ چی څونه فضول پیسې پر دغه شیانو مصرفه وو د هغه یوه حصه کفارو ته هم رسیږی، په خاصه بیا د فحش فلمو او بې حیا ویب پاڼو پیسې، بیا داغه پیسه پر مسلمانانو باندی د ظلم کولو دپاره کاریږی.

**کافران او فاسقان زموږ اتلان:** میډیا کرکټران او د فلمو هلکوان دونه روښانه کړه، پر لوحو یې د هغو غټ غټ عکسونه ولګول، د سړک پر غاړه او چوکو یې د هغو مجسمې ولګولې چی د نن ځوان داغه فکر کوی چی همدا خلک کامیابه دی، هم دوی خپل اتلان بولی. د رسول الله ﷺ او اصحاب کرام رضوان الله علیهم اجمعین او بزرګانو سره دونه محبت نسته څونه چی د دې کافرانو سره دی. خپل شکل هم د هغو په شان جوړوی د سنت په شان یې نه جوړوی، داسی معلومیږی لکه د مدینې شریفی ګران پیغمبر ﷺ سره چی زموږ هیڅ تعلق او خپلوی هم نسته.

**د کافرانو مشابهت:** په فلمو او ډرامو کی د یهود و نصاری او هندوانو ثقافت، لباس، عادتونه او طریقې په لیدلو سره نر او ښځی په هره خبره کی د هغو مشابهت کوی چی پر دې باندی په احادیثو کی سخت وعید راغلی دی

**((مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ))**

**(مشکوۃ المصابیح:(قدیمی)، کتاب اللباس، ص۳۷۵)**

**ترجمہ:** پیغمبر ﷺ وفرمایل کوم شخص چی د یو قوم مشابهت اختیار کړی د هغه شمار به په هغه قوم کی وی. یعنی چا چی د کفارو (یا د یو قوم) یو مخصوص شی اختیار کړی نو د هغه شمار به په هغو کی وی، د کومی درجې چی هغه شی دی د

هغه درجې به يې ګناه وي. ځوک چې د کفارو مشابهت اختيار کړي نو مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله عليه فرمايي چې دا علامت دی د کفر او د کفارو د عظمت، ځکه چې بې له د اعتقاد د عظمت څه مشابهت نسی کيدای او د کفارو د عظمت اعتقاد حرام دی (حياة المسلمين: روح بست و پنجم) او ملا علی قاری رحمة الله عليه فرمايي هر چا چې مثلاً په لباس او داسی نورو کی د کفارو يا د فاسقانو سره يا د صلحاوو سره مشابهت اختيار کړی نو هغه شخص به په ګناه او نيکی کی هم د هغو سره وی (مرقاة: کتاب اللباس) او د مشکٰوة په شرح مظاهرِ حق کی ليکلی دی چې د مشابهت مطلب دا دی کوم شخص چې د هر قوم او جماعت مشابهت اختيار کړی هغه ته به د هغه قوم او جماعت غوندی خير يا ګناه حاصليږی، مثلاً که يو شخص د خپل لباس او طريقې په ذريعه د يو غير مسلم قوم يا فاسقانو مشابهت اختيار کړی نو هغه به هم په هغو کی شمار سی. د دې فرمان الفاظ ډير جامع او همه ګير دی چې په دې کی ډيری خبری او ډير شيان راځي يعنی د مشابهت مفهوم د عموميت حامل دی چې مشابهت که څه هم په اخلاقو او طريقو کی وی که په افعالو او کردار کی وی يا که په لباس او د ژوند په طرز کی وی او يا که د خوراک چيښاک يا په ناسته ولاړه، ژوند و زندګی او خبرو کی وی د ټولو داغه حکم دی (مظاهرِ حق شرح مشکٰوة شريف جلد۴، صفحه ۱۶۶)

**مسلمانانو هم د کافرانو رواجونه شروع کړه:** يهود و نصاری او ټول کفار خپل رسمونه او رواجونه پر تلويزيون او انټرنيټ باندی ښکاره کوی کوم چې زموږ اولادونه پر موبايل باندی په ډير شوق سره ګوری مثلاً کال نوی کيده، د محبت ورځ، کرسمس، آتش بازی، سالګره، اپريل فول، ديوالی، هولی او داسی نور. موږ مسلمانان د جسم په اعتبار خو د هغو سره ګډون نه کوو لاکن په زړه ګډون ورسره کوو، په دغه سبب زموږ په زړو کی د کفارو د طريقو څه د نفرت پر ځای محبت راسی بلکې ظلم خو لا دا دی چې هغه طريقې اوس زموږ عملی ژوند ته هم راغلی دی، هم هغه رواجونه موږ هم کول شروع کړه، زموږ د زوال انتها ده چې نن مسلمان هم په دغه رواجو کی درمسال او کليساوو ته روان دی.

**د تاريخی فلمو تاوانونه:** همدا رنګه نن سبا د ترکی تاريخی فلمونه ښکاره کيږی، په هغه کی د حرام عشق منظرې او اولياء يې په دريشيو او بې ږيری ښکاره کړی دی. فلم کتونکی نامحرمو ته ګوری او دا ګناه هم نه بولی، بلکې دا د اسلام تبليغ بولی. حال دا چې

په دې د شريعت حدود او شريعت احکام تر پښو لاندې کيږي آيا دا هم د خير کار کيدای سي؟ دا ډير شرمناکه کار دی کوم چي کنټل هم د يو مسلمان د غيرت خلاف دی. د نن سبا ناپوه مسلمانانو دا فکر کړی دی چي دخدای محبوب بندګان د دې فاسقانو په شان وه، نعوذبالله! څونه د دين بدنامي ده. دغه ډرامې د فحش فلمو په شان دی چي خلک حرام خوندونه پر اخلي. ځنې قصې خو يې بيخي درواغ پکښې شامل کړی دی چي په دې د اسلام دښمنانو اسلام او اسلامي پاچاهان د بدنامه کولو کوښښ کړی دی.

**د ميډيا خوږ لاکن د زهرو ډک دين:** په قرآن مجيد کی د الله تعالیٰ فرمان دی

﴿فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ﴾

**(سورت الانبياء: آيت٧)**

**ترجمه:** که ته خپله علم نه لرې نو د نصيحت علم لرونکو څه يې وپوښته (آسان ترجمه قرآن) يعني مسايل او د دين راهنمايي د علماوو او مفتي صاحبانو څه واخله لاکن نن سبا خلک پر انټرنيټ باندی مسايل پيدا کوی چيری چي هغو ته خوږ دين وړاندی کيږی ځکه چي پر ويب پاڼو باندی د بې دينانو او ګمراهانو اکثريت دی کوم چي خپله هم ګمراه دی او نور هم ګمراه کوی.

**الحاد نشرول:** د ګمراه مذهبو، باطل فرقو او ګمراه خلکو ويب پاڼو ته په ورتګ سره ډير خلک په خاصه د مکتب، فاکولتې او پوهنتون ځوانان په اثر اخيستلو سره باطل مذهب او ګمراه عقايد اختيار کړی، ځنې خو د خدای د ذات په انکار سره ملحد جوړ سی، د اسلام علم لری نه او پر انټرنيټ باندی د سکهانو او هندوانو مذهب وايي. پر انټرنيټ باندی په دين زده کولو زده کولو سره د ايمان څه لاس پريولی.

**د علماوو څه د ليريوالی وبال:** بې له مجبوری په کور کی پر انټرنيټ باندی بيانونه په اوريدلو سره د کوم خلکو تعلق چي د علماوو او اولياوو سره لږ غوندی هم وو هغه هم کمزوری سو چي په دې سبب د اولياوو د صحبت د برکتو څه محرومه سوه. ځای ځای په واټس اپ ګروپو کی پر اکابر سلف صالحين علماوو او مفتي صاحبانو باندی اعتراضات کيږی، په بې ادبي کولو سره د ځان دپاره وبال رانيسی. خپله بې علمه دی لاکن د سر سری معلوماتو په زور يو بل د کښېنته کولو په فکر کی بې ادبي وکړی او ځنې وخت داسی کفری الفاظ ووايي يا يې وليکی چي ايمان يې هم په خطر کی ولويږی.

**د غیر عالم پر دینی مسایل بیانولو باندی وعید:** د دینی مسایلو په باره کی باید خوله بنده وساتل سی کنې سخت خطر دی. حدیث شریف دی

**((اَجْرَؤُكُمْ عَلَى الْفُتْيَا اَجْرَؤُكُمْ عَلَى النَّارِ))**

**(کنز العمال:(دار الکتب العلمیة)؛ کتاب العلم؛ ج۱۰ص۸۰؛ رقم۲۸۹۵۷)**

پیغمبر ﷺ وفرمایل کوم شخص چې(بې له تحقیق) په مسئله بیانولو کی جری وی هغه دوږخ ته د تللو دپاره جری وی. نن سبا په کمپیوټر او انټرنیټ کی د کتابو ذخیرې او مسایل د پیدا کولو چیری چې فایدې سته هلته یې تاوانونه هم سته. یو سړی فقط په کمپیوټر پوه دی د دین هیڅ علم یې نه دی حاصل کړی لاکن په انټرنیټ کی یې په پیدا کولو سره د مسایلو جواب وایې بلکې د مختلف فتوو حصې په را اخیستلو سره فتوا هم ورکوی حال دا چې مفتی نه دی، که څه هم د فتوا ورکولو کار تر ټولو مشکل او نازک کار دی، تر څونه مرحلو وروسته بیا مفتی صاحبان د الله تعالیٰ په نیابت کی فتوا لیکی او پر هغه باندی امضاء کوی او د نن سبا ناپوهان په تلوار کولو سره خپل ځان د دې حدیث په وعید کی په داخلولو سره خپل ځای په دوږخ کی جوړوی. د رشتیا ښې ویلی دی چې نیم حکیم خطرۂ جان نیم ملّا خطرۂ ایمان.

د خپل مطلب فتوا په لیکلو سره په آخر کی د غټو غټو مدرسو د مفتی صاحبانو امضاوی او مهرونه د انټرنیټ څه د ګرافک په ذریعه په لګولو سره یې په اخبار کی چاپ کړی، لکه د انشورنس د جواز په باره کی په یوه اخبار کی د یوې غټی مدرسې په نامه سره د جواز فتوا چاپ سوه، کله چې تحقیق وسو نو خبر درواغ ثابت سو. په دغه خاطر د داسی فتوو په باره کی اول تصدیق وکړی. د موبایل په ذریعه درواغ خبری، د ځانه جوړ سوی احادیث نشرول او دوکه کول عام سوی دی، خلګ د علماوو څه پوښتنه هم نه کوی چې دغه پیغام کوم چې راغلی دی دا حدیث هم دی که یا؟ آیا دا مخته استولای سو؟ د نورو لیکوالانو د کتابو څه معلومات د انټرنیټ په ذریعه په غلا کولو سره په خپل نامه کتاب ولیکی. ځنی خلګ یوازی په خونه کی د خپلو بیانو ویډیو جوړوی او ښه په لاس ښورولو سره په جوش بیان کوی او د غټو جلسو عکسونه او نعرې او د سُبحان الله، ماشاءالله ږغونه په لګولو سره یې خپل ګروپ ته پورته کړی چې ما په دونه غټه جلسه کی بیان کړی دی چې زما صفت وسی. په دې کی ریا، درواغ، دوکه کول، ځان ښکاره کول غوندی ګناوی دی کوم چې ټوله حرام دی.

**د موبايل په سبب نورو جرمنو ته رغبت:** د موبايل، تلويزيون او فلمو څه زموږ ځوانانو څه شي زده کړي دي؟ شراب چيښل، هيروين او نشه، زنا، قمار، وژل، ډاکه، غلا کول، په کم سنه کوچنيانو باندې د پيسو په لالچ غلط کارونه کول ويډيو يې جوړول بيا يې د رسوا کولو دپاره بيرول، په هغو غلاوې کول او په آخر کې يې وژل، دا ټوله د ميډيا او موبايل څه زده سوي دي. اوس خو ډاکټران هم وايي چې د موبايل عادت منفي نفساني شوق، ديغت، دهني مرض، خپل سرې او نور امراض پيدا کوي، موبايل ته په وارو وارو د کتلو سخت عادت هغه شخص د نشې د عادت په شان ونيسي او د انساني دماغ تخليقي لياقت او خوب وربرباد کړي.

**د ډيپريشن لوی سبب:** اکثره ميډيا د ملک حالات په وارو وارو په منفي انداز سره په عامه بيانوي چې کتونکي همداغه فکر کوي چې د ملک هر څه برباد سوه، يا پر موبايل باندې په وارو وارو د ناجوړيانو مثلاً کرونا، سرطان او داسې نورو داسې اعلانونه نشر کيږي کوم چې په اوريدلو سره خلک په نفسياتي توګه مريضان سي ځکه چې کله يوه خبره هم په وارو وارو وکورې او واورې نو تر څه وخته به اثر ونه کړي، په داغه خاطر کوم خلک چې هر وخت په ميډيا اخته وي په خاصه فارغ کسان، ټوله ورځ خبرونه او پر موبايل باندې د ټولې دنيا حالات په معلومولو سره ناحقه خپل ځان په تکليف کوي بلکې اکثره خو د ډيپريشن مريضان سي.

## ④باب: سمارټ فون........ د ويډيو او عکسو نشرولو آله

**د علماوو پر ميډيا باندې د راتللو تاوان:** پر ميډيا چې کوم خلک راځي د دين خبره کوي چيرې چې د هغو په نيز مثبت اړخ لري خو تاوانونه يې هم ډير زيات دي مثلاً د علماوو عمل خلک د نورو ګناوو دپاره حجت او دليل جوړوي لکه بنځې چې وايي پر تلويزيون باندې چې کله موږ دغه عالم ته کتلای سو نو د ډرامو او فلمو نارينه وو ته ولې نسو کتلای؟ بيا ليور، اخښي او نورو ته کتل څه تاوان لري؟ اوس که د عکس او ويډيو جوړولو څه يو څوک منع کړې نو دستي درته وايي فلانکې عالم پر تلويزيون باندې راځي آيا ته تر هغه بالا سوې؟ د ډيرو مستند علماوو په نيز په ناروا اسبابو سره دين نشرول روا نه دي او په دې کې د دين بې احترامي ده، لکه پر يوه کاچوغه چې د لکهاوو روپو غميان لګيدلې وي او په هغه د کوچني مرداري ټوله سي او بيا په پريمنځلو سره په

هغه کاچوغه میلمه ته حلوه ورکړل سي نو هغه به یې هیڅکله ونه خوري. د لهو و لعب پر کومه آله چې ګناه نشر کیږي پر هغه د دین خبری کول ځونه غلط کار دی.

**دین د میډیا محتاجه نه دی:** ځنی خلک میډیا دونه غټوی چې د دې ماسوا د دین خدمت او نشرول شاید امکان نه لري. که رشتیا داسی وای نو الله تعالیٰ د پیغمبر ﷺ په زمانه کی میډیا پیدا کولای سوای لاکن الله تعالیٰ ښکاره کړه چې زما دین د میډیا محتاجه نه دی، د دین د خدمت دپاره تقوا، اخلاص او ناقراري ضروري ده چې په دغه سبب نن الله تعالیٰ د مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله، د تبلیغی جماعت بانی مولانا الیاس رحمه الله، زموږ شیخ مولانا شاه حکیم محمد اختر رحمه الله او د ډیرو اولیاوو فیض بې له میډیا نن په ټوله عالم کی وغوړوی. د کوم آلاتو اختراع چې د ګناه، کفر و الحاد او شر دپاره وی د هغه څه د خیر امید نسته. یو ځوک دی راته ووایې چې تر اوسه د دغه میډیا څه ځونه خلک کامل مسلمانان سوی دی؟ د دې برعکس ګمراه فرقې، ګمراه خلک نور روښانه سوه.

**د یو غلط فکر ازاله:** ځنی دینداره خلک په دې غلط فکر کی مبتلا دی چې موږ پر تلویزیون باندی فقط خبرونه اورو څه غلط شی نه ګورو، داسی خلک هم باید په هوښ کی راسی چې خبرونه اوری او که یې ګوری؟ خبر ویونکی نر وی که ښځه؟ د دې ماسوا په تلویزیون کی چې کوم خرافات دی آیا هغه لیدل روا دی؟

**دا غلط خیال چې پر تلویزیون بازی کتل څه پروا لری؟** ځنی خلک وایې چې کرکټ یا نوری بازۍ پر تلویزیون یا موبایل باندی کتل څه فرق لری؟ نو فتوا معلومه کړی چې فټبال یا داسی بازی د کتلو څه حکم دی چې په هغه کی د لوبغاړو ستر معلومیږی، په کرکټ کی یې چسپ کالی اغوستی وی، په ټولو بازیو کی غلط اعلانونه راځی، مستقل ساز پکښی شروع وی، پر بې پرده ښځو باندی خاص کامره نیول کیږی، خلاصه یې دا چې څو ګناوی په دې کی راجمع کیږی، اوس د روا کیدو کوم صورت پاته سو؟ بازی د بایللو په صورت کی غیبت او بهتان تړل شروع سی چې پیسې یې اخیستی وې ماته یې وخوړه او داسی نوری خبری، که د قیامت په ورځ زموږ څه دلیل وغوښتل سو نو الله تعالیٰ ته به څه جواب ورکوو؟

**د ډیجیټل عکس په باره کی د غټو مدرسو نظر:** د کامرې استعمال هم نن سبا د دغه موبایل په ذریعه ډیر کیږی، بیا د دې کامرې په ذریعه چې کوم کوم خرافات کیږی

زه هغه بیانولای هم نسم. کوم څوک چې په حرام عشق اخته دی هغه په دې کامرې ځنګه ځنګه غلط کارونه کوی چې په اوریدلو سره به شرم درسی او څوک چې په حرام عشق نه دی اخته هغه هم د نظر حفاظت کله کوی؟ څونه وخت په دې ضایع کوی، په داغه سبب یې د عکس اخیستلو او ویډیو جوړولو عادت جوړ سوی دی. په دې باره کی د دارالعلوم دیوبند هند، مظاهرالعلوم سهارنپور هند، جامعه بنوری ټاؤن کراچی، جامعه فاروقیه کراچی، جامعه اشرفیه لاهور، جامعه خلفاء راشدین کراچی، جامعه یاسین القرآن کراچی، دارالعلوم کبیر والا ملتان، دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک او د نورو غټو غټو مدرسو ډیرو مفتی صاحبانو فتوا ده چې د هر جاندار ډیجټل غیر ډیجیټل عکس او ویډیو حرام ده. د ویب کامرې په باره کی د بنوری ټاؤن فتوا ده چې د دې استعمال هم روا نه دی.

**د مولانا اشرف علی تهانوی رحمۃ اللہ علیہ مهم فرمان:** کله چې علماء د یو فعل په جواز او عدم جواز کی اختلاف وکړی او څوک هغه واجب او ضروری ونه بولی نو د ایمان سلامتیا په داغه کی ده چې هغه فعل دی ترک کړی ځکه چې په اختلاف سره به په زړه کی شبهه ضرور پیدا سی او د شریعت یو قاعده دا هم ده **اَلْاِثْمُ مَاحَاكَ فِیْ صَدْرِكَ** ګناه هغه ده چې په هغه ستا په زړه کی شبهه پیدا سی. (انفاسِ عیسیٰ، جلد۲۱، صفحه۲۷۹)

**پر عکس جوړولو/ اخیستلو باندی وعیدونه:** دغه د عکس اخیستلو ګناه په کثرت سره په خپرولو او عامولو کی د موبایل ډیر غټ لاس دی، په جیب جیب کی کامره ده، هر ځای عکسونه اخیستل کیږی، دا د ګناه کیدو خیال هم د زړنو څه مخ پر ختمیدو دی، اوس خو عکسونو والا غټ غټ پوسټران چاپیری حال دا چې د عکس ګناه کبیره ګناه ده. پر دې باندی سخت وعیدونه دی

**① قَالَ اللهُ تَعَالٰی: وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذَهَبَ یَخْلُقُ كَخَلْقِیْ فَلْیَخْلُقُوْا ذَرَّةً اَوْ لِیَخْلُقُوْا حَبَّةً اَوْ شَعِیْرَةً** (مشکوٰة:(قدیمی)، باب التصاویر، ص۳۸۵)

***ترجمه:***(په قدسی حدیث کی د حق تعالیٰ فرمان دی) تر هغه شخص به بالا ظالم څوک وی کوم چې زما په شان پیدا کول(جوړول) وغواړی، هغه ته په کار ده چې یو میږی، یوه دانه یا اوربشه خو دی جوړه کړی.

② اَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللّٰهِ الْمُصَوِّرُوْنَ (مشکوٰة:(قدیمی)، باب التصاویر، ص۳۸۵)

**ترجمه:** د قیامت په ورځ به تر ټولو ډیر سخت عذاب هغو خلکو ته وی کوم چې عکس جوړونکی (اخیستونکی) دی.

③ اِنَّ الْمَلٰٓئِكَةَ لَا تَدْخُلُ بَيْتًا فِيْهِ صُوْرَةٌ (صحیح البخاری: (قدیمی)، ج۲ ص۸۸۱)

**ترجمه:** بېشکه ملایکی هغه کور ته نه داخلیږی چې په هغه کی عکس وی.

④ مَنْ صَوَّرَ صُوْرَةً فِي الدُّنْيَا كُلِّفَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَنْ يَّنْفُخَ فِيْهَا الرُّوْحَ وَلَيْسَ بِنَافِخٍ

(صحیح البخاری: باب من صور صورة، ج۲ ص۸۸۱)

**ترجمه:** کوم شخص چې (د روح لرونکی) عکس جوړ کړی الله تعالیٰ به هغه ته لازمی عذاب ورکړی تر دې حده چې هغه په دغه عکس کی جان، روح وانه چوی او هغه به هیڅکله روح نسی پکښې اچولای.

⑤ يَخْرُجُ عُنُقٌ مِّنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ لَهَا عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ وَاُذُنَانِ تَسْمَعَانِ وَلِسَانٌ يَنْطِقُ يَقُوْلُ اِنِّيْ وُكِّلْتُ بِثَلٰثَةٍ مبِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ وَّ كُلُّ مَنْ دَعَا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ وَبِالْمُصَوِّرِيْنَ (مشکوٰة: (قدیمی)، ص۳۸۶)

**ترجمه:** د قیامت په ورځ به د دوږخ څه یوه غاړه راووځی (یعنی د اور یوه ټوټه به د غاړی په شکل راښکاره سی) د هغه به دوې سترګی وی کوم چې به دید کوی، دوه غوږونه به یې وی کوم چې به اوریدل کوی او یوه ژبه به یې وی کوم چې به خبری کوی، هغه به ووایی چې زه پر درو کسانو باندی مقرره سوې یم، پر هر سرکښ ظالم باندی، پر هر هغه شخص باندی چې د الله ماسوا بل ته خواست کوی او پر عکس جوړونکو باندی.

**عکس کتل هم ګناه ده:** د کوچنی ماشوم د لمبیدو پر وخت بې لباسه عکس واخلی کله چې داغه کوچنیان غټان سی نو خلک پسخند په وهی حال دا چې مفتی صاحبان فرمایی څنګه چې د ذی روح عکس اخیستل روا نه دی همدا رنګه د هغه کتل هم روا نه دی. مور د خپل کوچنی عکسونه د اخیستلو ډیر زړه غواړی چې انا ته یې استوم، خاله ته یې استوم، دغه رنګه یې عادت خراب سی، کله چې کوچنیان لویان ووینی چې عکسونه اخلی نو هغه هم داغسی کول شروع کړی.

**د عکس اخیستلو ټولنیز او خاندانی تاوانونه:** داسی قصې هم سوی دی چې کوچنیانو د مور او خور عکسونه واخیسته، بیا هغه د غلط خلکو په لاس ورغله چا چې د کور آرام او قرار برباد کړی. کوچنیانو ته موبایل په لاس ورکړی چې پر دې باندی کیم وکه، بیا عکس اخیستل شروع سی، بیا فلمونه کتل شروع سی، په کراره کراره عکسونه او ویډیو نورو ته استول هم شروع سی، ګناوی نور نشروی. ځنی نارینه د خپلو ښځو سره د خاص حالت ویډیو جوړه کړی، که موبایل د کوچنیانو په لاس ورغلی نو د شرم د لاسه کوچنیانو ته کتل مشکل سی او که موبایل ورک یا غلا سو نو بربادی تر کوم ځایه ورسیږی. ځنی خلک چې په سفر یا نورو وطنو کی وی خپلو ښځو ته د خپل خاص وخت عکاسی ورلیږی یا د کامرې په ذریعه یې ورښکاره کوی بیا په خیالاتو سره په حرام کار اخته سی ځکه چې کله شهوت راپورته سی او د لیریوالی په سبب خواهش نسی پوره کولای نو د دواړو شوق د نامحرمو وطرفته سی، وروسته بیا ژاړی چې ښځه می د بل په محبت ګرفتاره سوی ده.

**په خوشحالی او غم کی عکسونه اخیستل:** نن سبا د واده ټوله ترتیب د کامرې په ذریعه په نورو مملکتو کی خپلوانو ته هم ورښکاره کیږی او په ګناوو کی هغه هم شریک کړی، همدا رنګه که د غم موقع وی نو د هغه هم ویډیو جوړوی، حتی چې د مریض زکندن دی هغه وخت هم د قرآن شریف تلاوت نه کوی ویډیو جوړوی او هغه وخت هم د کامرې په ذریعه د مرګ ساعت خپلوانو ته ورښکاره کوی او که د جمعې په ورځ جنازه وی نو د خلکو عکسونه په اخیستلو سره وایې چې دونه خلک راغلی وه، د مرګ څه تر غسل او ښخولو پوری ویډیو جوړوی، د مړی زاړه عکسونه او دغه ویډیو په کتلو کتلو سره ژړا کوی چې غم یې همیشه په تازه وی او هم په داغه کی سوځی، حال دا چې درې ورځی وروسته سوګ منع دی.

**پر خپلو ګناوو شاهدان جوړول:** دغه موبایل نوی نسل بلکې هر عمر والا یې برباد کړی دی الاماشاءالله. د ځنی ښکاره دینداره خلکو موبایل چې کله د هغو د مرګ وروسته وکتل سو نو هغه د نامحرمو ښځو د عکسو، عشقی پیغامو او لڅو فلمو ډک وو، د ټولو په نظر کی بې عزته سوه، د خاندان خلک د همیشه دپاره ځنی بدګمانه سوه او مړی پر خپلو ګناوو باندی نور خلک هم شاهدان جوړ کړه.

**مقدس مقامونه هم د عکسو د لعنت څه محفوظه نه دی:** نن سبا په ځنی مسجدو کی د مخ پر دیوال باندی غټ سکرین لګیدلی وی پر هغه باندی د امام او خطیب صاحب ویډیو لګول کیږی. خلګو د الله تعالیٰ کور ته هم دغه خرافات داخل کړه چې لموڅ کونکی الله تعالیٰ ته د مناجاتو پر ځای په دغه اخته وی.

**د موبایل په پروفایل کی د خاوند او ماندینې یو د بل عکس ورکول:** ځنی خلګ په پروفایل کی چی د هر چا نمبر وی د هغه عکس هم لګوی، کله چی تلیفون راسی نو د هغه عکس هم راځی. کله د خپل ښځی او خور عکس لګوی چی د نورو نظر باندی مبتلی، کله په لمانځه کی مخ ته موبایل ایږدی چی تلیفون په راتللو سره هغه عکس هم راسی، که موبایل ورک سی یا غلا سی نو هغه بیا د بربادی جلا داستان دی. که د ماندینې څه د خاوند موبایل وی نو په هغه کی د خاوند د ملګری عکس راتلای سی او که د خاوند څه د ماندینې موبایل وی نو په هغه کی د ماندینې د شریکی عکس راتلای سی. حضرت تهانوی رحمۃ اللہ علیہ فرمایی اې بیبیانو! هیڅکله د خاوند ومخته د خپلی شریکی ذکر مه کوه که هغه ښځه یې په زړه کی ځای سوه نو په ژړا به کړځې. دا رنګه خاوند دی هم د خپلی ښځی ذکر د خپل ملګرو ومخته نه کوی. دغه موبایل موږ په داسی داسی شیانو کی برباد کړی یو چی هغو ته زموږ خیال هم نه ورګرځی. دا هغه خبری دی چی موږ ته د اصلاحی خطونو او ایمیلونو په ذریعه رامعلومیږی.

**د عکس حرمت د زړه څه ووتی:** په دغه خاطر پر نفس باندی هیڅکله باور مه کوی، په ډیجیټل او غیر ډیجیټل کی په اخته کیدو سره د عکسو حرمت د زړونو څه ووتی. اول خو فقط تر ډیجیټل پوری معامله وه اوس خو غټ غټ عکسونه په چاپ کی هم راشروع سوه، خلګ دا ګناه هم نه بولی، په دغه خاطر د توبې توفیق نه کیږی، توبه خو به هغه وخت وسی کله چی ګناه ګناه وبولی. لږ تر لږه د مفتی صاحب څه د نامحرم د عکس په باره کی د شریعت حکم معلوم کړی. نن سبا عکس اخیستنه او ویډیو هر ځای دونه ډیر سوی دی په خاصه په دینی مجلسو کی چی ځان ساتل او هغه راګرځول مشکل سوه، داسی معلومیږی لکه نعوذبالله عکس اخیستل چی د ثواب کار او ضروری بولی. زموږ مشایخ خو چیری چی دغه ناروا کارونه وی هلته ورځی هم نه ځکه چی فقهی قاعده ده

**لَايَجُوْزُ الْحُضُوْرُ عِنْدَ مَجْلِسٍ فِيْهِ الْمَحْظُوْرُ**

**(مرقاة المفاتيح:(رشيديه)، ج۴ص۲۰۷)**

*ترجمه:* هغه مجلس ته ورتګ روا نه دی چیرې چې ګناه کیږي.

**د موبایل په سبب د عبادتو د ثمراتو څخه محرومي:** ځنې خلک په کعبه شریفه کې او د نبی ﷺ روضې مبارکې ومخته ویډیو جوړوي، آوازونه په پورته کولو سره بې ادبي کوي د خدای دپاره پر داسې ځایو باندې د موبایل څخه پرهیز وکړي. د عبادتو مثلاً حج، عمره او بیانو ویډیو په جوړولو سره د عبادتو خوږوالی او اخلاص ختم سې او د ریا، ځان ښکاره کولو او شهرت په مرض اخته سي. نن سبا موږ ته د خپلو عبادتو، ذکر، د اولیاوو د صحبتو، د دین په شعبو کې د وخت لګولو او داسې نورو کامله فایده هم په داغه خاطر نه حاصلیږي چې موږ د دین دغه ټولو شعبو ته بدن خو ورکوو لاکن زړه نه ورکوو، زموږ زړه په موبایل، غلط فکرو، ګیمو، کارټون، غلط تعلقاتو، عکس اخیستو زړیږي.

**په عکس اخیستلو سره اولیاوو ته اذیت:** یو بزرګ وفرمایل چې د طواف په دوران کې یا د بیان کولو په دوران کې چې کوم خلک زما ویډیو جوړوي ماته داسې احساس کیږي لکه ما چې په ډبرو ولي، آه! د خدای دوستان د خپل ربّ سره خبرې کوي او موږ هغه په ډبرو ولو. په ډیر غټ تعداد کې علماء، مشایخ او امام صاحبان عکسونه نه اخلي نو هغه سخت دریځه بلل کیږي. ځنې خلک په پټه د هغو عکسونه په اخیستلو سره خوشحاله کیږي او پر انټرنیټ یې نشروي چې بزرګانو ته اذیت په رسیږي. فقط په دغه یوه کار کې څونه ګناوې دي (۱) د عکس اخیستلو ګناه (۲) بې اجازې د یو چا خبرې او عمل داسې د نقل کولو ګناه چې هغه په تکلیف سي (۳) اولیاوو ته د اذیت ورکولو ګناه. که څه هم په قدسي حدیث کې الله تعالیٰ فرمایي

**((مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ اٰذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ))**

**(صحیح البخاري: (قديمي)، کتاب الرقاق، باب التواضع، ج۲ص۹۶۳)**

*ترجمه:* څوک چې یو ولي الله ته غم ورکوي او اذیت وررسوي د هغه دپاره د الله تعالیٰ د جنګ اعلان دی یعنی په خپل قول او فعل سره چې څوک د اولیاوو سره دښمني وساتي یا هغه په تکلیف کړي د هغه سره الله تعالیٰ د جنګ اعلان کوي او داسې

شخص به یقیناً برباد او رسوا سی، هو! که توبه وکاږی جلا خبره ده. د اذیت ورکولو یو صورت دغه هم دی چي خلک شرایط او حدود په ماتولو سره او په ګناه کولو سره مفتي صاحبان بدناموی چي فلانکی مفتي د عکس اجازه کړې ده، حال دا چي د هغه ځایه څو فتوې راغلی دی چي زموږ د فتوو په بهانه ځنی خلک حدود په ماتولو سره موږ بدنامه کوی، موږ د عکس اخیستلو قطعاً اجازه نه ده کړې.

## په دینی مجلسو کی د عکس اخیستلو په باره کی د دارالعلوم کراچي فتوا

**سوال**: په دینی مجلسو، اصلاحی بیانو، د بخاری شریف ختم او داسی نورو کی اکثره لیدل کیږی چي خلک په مسجدو کی دننه عکاسی کوی او کله چي هغه منع کړل سی نو وایي چي شیخ الاسلام (حضرت) مفتي محمد تقي عثمانی صاحب د ډیجیټل عکس په باره کی تحقیق کړی دی چي دا د محرم(حرام) عکس په زمره کی نه راځی، آیا د حضرت مفتي صاحب د تحقیق دغه مطلب اخیستل صحیح دی چي په مسجدو کی دننه، په دینی مجلسو او اصلاحی بیانو کی دی دا رواج سی او دا دی په قاعدې سره مشغله جوړه سی؟ نیز په مسجدو او دینی مجلسو کی د ویډیو جوړولو شرعی حیثیت واضح کړی.
المستفتی رشید احمد،صوابی

**جواب**: د ډیجیټل عکس په باره کی د حضرت مفتي محمد تقي عثمانی صاحب مدظلهم د موقف مطلب دا دی چي پر دغه به د عکس احکام نه جاری کیږی لاکن د دې دا مطلب اخیستل هیڅکله صحیح نه دی چي د ډیجیټل عکس په استعمال کی شرعاً که نور مفاسد پیدا سی بیا به هم د هغه استعمال صحیح وی بلکي په داسی صورت کی که څه هم پر هغه باندی د عکس احکام جاری نسی لاکن دغه مفاسد د پیدا کیدو په سبب به د هغه استعمال ممنوع وبلل سی، فقط د دغه خبری په سبب چي پر دې باندی د عکس احکام نه جاری کیږی د استعمال مفاسد یې تر نظر اړول صحیح نه دی، په مسجدو او دینی مجلسو کی د ډیجیټل کامرې په ذریعه عکس یا ویډیو جوړولو کی هم ډیر مفاسد سته لهذا د دغه مفاسدو په خاطر په داسی مجلسو کی عکسونه او ویډیو جوړول صحیح نه دی، هغه مفاسد دا دی (۱) دا د مسجد د ادب و احترام او تقدس خلاف دی (۲) په دغه رنګه مجلسو کی ویډیو او عکسونه په اخیستلو سره به خلک حقیقتاً(عکس) اخیستل او کتل روا وبولی، دا رنګه به د هغو د زړنو څه د عکس

حرمت ووځی کوم چې ناروا دی (۳) په دینی مجلسو کی دغه رنګه عکسونه او ویډیو جوړولو سره به عام خلک په ناروا مجلسو کی هم دا روا وبولی (۴) د دینی مجلسو ویډیو او عکسونه د کتلو په بهانه به غلط او فحش قسمه افعالو باندی مشتمل مجلسو ته د کتلو لار خلاصه سی کوم چې روا نه دی (۵) د اسلامی مجلسو ویډیو او عکسونه په استعمالولو سره به د هغه د ناروا استعمال ستاینه وسی کوم چې صحیح نه دی(ماخذه تبویب۱۴۴۴۔۸)
لهٰذا د دې مفاسدو د پیدا کیدو په سبب په اسلامی مجلسو کی پر ذکر سوی طریقې باندی د عکسو او ویډیو جوړولو څه پرهیز کول لازم دی.
واللہ تعالیٰ اعلم بالصواب۔محمد عاطف

الجواب صحیح:(مفتی)محمد یعقوب،(مفتی) محمود اشرف عثمانی،(مفتی)اصغر علی ربانی

(فتوانمبر:۱۵۱۴/۱۱ا)۲۰ربیع الثانی ۱۴۳۴

## ⑤باب:سمارټ فون .... د بدنظری او مجازی عشق سبب

**په بدنظری سره د حق تعالیٰ حکم ماتیږی:** پر موبایل، تلویزیون او کمپیوټر باندی په بدنظری سره د الله حکم ماتیږی. زموږ شیخ رحمۃ اللہ علیہ وفرمایل چې اصحابِ کرام رضوان اللہ علیہم اجمعین چې کله شام فتح کولو ته روان وه نو عیسویانو بنایبنتې انجونی بنه سینګار کړی په دوو قطارو کی ودرولې چې اصحابِ کرام دوی ته په کتلو سره په دوی اخته سی او د الله کومک د دوی څه ایسته سی لاکن د اصحابِ کرامو قوماندان دغه آیت وویلی:

﴿قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ﴾

**(سورت النور: آیت۳۰)**

**ترجمہ:** اې ایمانوالو! سترګی کښته کړی او د خپلو شرمګاوو حفاظت وکړی. نو کله چې یې دغه آیت وویلی نو اصحابِ کرامو ته داسی معلوم سوه لکه قرآن چې اوس نازل سو او ټولو سترګی کښته کړې تیر سوه. انجونی ولاړې خپل مور و پلار ته یې وویل چې دا ملایکی دی انسانان نه دی که انسانان وای نو موږ ته به یې لازمی کتلی وای، د دوی سره جنګ بیکاره دی او جنګ فتح سو. دا د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د غلامی په صدقه پر ملایکو باندی د شرف حاصلیدو انتظام دی.

که موږ د سنتو اتباع وکړو، د نبوت د قدم پر نقش باندی عمل وکړو نو ملایکی به پر موږ خوشحالی وکړی کنې شیطان پر موږ خاندی او وایي چې وګوری

د ږیرې خاوند ملا صاحب ته څنګه بنځو ته ګورې، اوس یې دوه رکعته د توبې لمونځ وکړې ژړا یې کول او اوس دلته نظر خرابوي او که پر ممبر تقریر کونکی یا دیني خدمت کونکی بدنظرې وکړې نو شیطان ډیر خاندې چې دته وګورې د قرآن و حدیث درس یې ورکړې راروان دې لاکن اوس په کوم درس اخته دې؟ څوک چې د نظر حفاظت نه کوې هغه په زنا، لواطت او لاس سره ځوانې بربادولو اخته سي. په سترګو سره د بدنظرې وروسته نور اعضاء لاس او پښې هم په ګناه اخته سي. بدنظرې کول د الله تعالیٰ د سترګو په راکړې امانت کې خیانت هم دې

﴿يَعۡلَمُ خَآئِنَةَ ٱلۡأَعۡيُنِ وَمَا تُخۡفِي ٱلصُّدُورُ﴾

(سورت المؤمن: آیت ۱۹)

**ترجمه:** الله د سترګو غلا هم پیژنی او هغه خبرې هم کوم چې سینو پټې کړې دې. (آسان ترجمه قرآن) یعنی کله چې ته په سترګو خیانت کوې، پردې مور، خور او لوڼو ته ګورې الله په دې خبر دې. بدنظرې کونکی دخدای د دوستي او ولي کیدو د مقام څه هم بې برخې وي ځکه چې د خدای دوستان فقط تقوا داره خلک دې

﴿إِنۡ أَوۡلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُتَّقُونَ﴾

(سورت الانفال: آیت ۳۴)

**بدنظرې د سترګو زنا او د خدای لعنت:** پیغمبر ﷺ فرمایي

((زِنَا الۡعَيۡنِ النَّظَرُ))

(صحیح البخاری: (قدیمی)، باب زنا الجوارح دون الفرج، ج ۲ ص ۹۲۳)

بدنظرې د سترګو زنا ده. پیغمبر ﷺ دغه هم فرمایلي دي

((لَعَنَ اللهُ النَّاظِرَ وَالۡمَنۡظُورَ إِلَيۡهِ))

(مشکوٰة المصابیح: (قدیمی)، باب النظر الی المخطوبة، ص ۲۷۰)

څوک چې خپل نظر خراب کړې یا خپل ځان د بدنظرې دپاره رامخته کړې یاالله! پر هغه باندې لعنت وکه یعنی د خپل رحمت څه یې لیرې که، آه! نن موږ د اولیاوو د بنیرا څه بیربیږو لاکن د رسول الله ﷺ د بنیرا او الله تعالیٰ د لعنت څه نه بیربیږو.

**د تقوا د لس انعامونو څه محرومي:** په قرآن مجید کې لس انعامونه ذکر سوي دي(په هر کار کې آساني، د تکلیفو څه خروج، بې حسابه رزق، فارِق نور، د سکینې نور، خوندور ژوند، عزت او اکرام، د خدای د دوستي تاج، د ګناوو کفاره او په آخرت کې مغفرت) پر موبایل، انټرنیټ او داسي نورو باندي بدنظري کونکي خپله تقوا په ماتولو سره د دې انعامونو څه محرومه سي. په حدیث شریف کې دي چې الله تعالیٰ فرمايي بدنظري د شیطان په زهرو کې وهل سوی غشی دی څوک چې زما د بیری څه دا پریږدي نو زه به هغه ته داسي ایمان ورکړم **يَجِدُ حَلَاوَةَ الْإِيْمَانِ فِيْ قَلْبِه** چې هغه به په خپل زړه کې د ایمان خوږوالی حاصل کړي. څوک چې پر انټرنیټ، موبایل او فیسبک باندي نظر خرابوي هغه د ایمان د خوږوالي څه محرومه سي. پر تقوا باندي د شیرین ژوند وعده ده لهٰذا د تقوا خلاف یعني په ګناوو سره ژوند تریخ سي، آرام واخیستل سي، په ښکاره داسي سړی په عیش او عشرت کې معلومیږي لاکن د دې جملې مصداق وي چې پر خوله یې کباب دي لاکن پر زړه یې عذاب دی. نن خلک په فلمو کې، د ښځو سره په خبرو او نورو خرافاتو کې په آرام پسي ګرځي حال دا چې آرام او قرار فقط د الله تعالیٰ په یاد او اطاعت کې دی، د هغه په نافرماني کې ناقراري او ناآرامي ده. کوم خلک چې د انټرنیټ، ډیش او ګناوو څه ځان ساتي هغه هر وخت پر آرامه وي.

**د بدنظري په خاطر عبادتونه بې خونده:** همدغه سبب دی چې عبادتونه، ذکر او تلاوت موږ ته خوند نه راکوي. که څه هم زموږ شیخ رحمه الله فرمايي چې د خدای په ذات قسم دی چې د الله په نامه کې خوند سته لاکن موږ ته د خپلو ګناوو، فحش فلمو او بدنظریو په سبب احساس نه کیږي، لکه څنګه چې د یو چا تیزه تبه وي، خوا یې ګرځي، اسهال، یرقان وي، یخ یې کیږي نو هغه ته د وریجو او کباب خوند نه احساسیږي. که په عبادتو کې خوند د باطني قبض په خاطر هم نه احساسیږي کوم چې تاواني نه دی، د دې دپاره د خپل شیخ سره باید رابطه وسي، لاکن تر ډیره یې سبب ګناه وي. موږ عبادت خو ښه ډیر کوو لاکن پر موبایل، تلویزیون او داسي نورو باندي په نظر خرابولو سره خپل نور ختم کړو. ځ او عمرې ته تلونکی کسان خپل هوټل ته په راتګ سره پر تلویزیون او موبایل باندي فلمونه ګوري، لږ فکر وکړئ په مکه شریفه کې د نیکی ثواب که یو لک او په مدینه شریفه کې پنځوس زره دي نو پر ګناه باندي د

ګرفت معامله به څونه سخته وی، د حرم شریف په حدودو کی پر ګناه ګولو باندی به پیغمبر ﷺ څونه په تکلیف کیږی.

**بدنظری د زنا ابتدا ده:** د موبایل په غلط استعمال سره مجازی عشق هم ډیر سو، عمر یې شپیته کاله دی او انجلۍ ته عکس ورلیږی د پنځویش کلن، یو بل ته دوکه ورکوی، د ملاقات وروسته سره معلوم سی. مجازی عشق الٰهی عذاب دی، یوه لحظه آرام نه حاصلیږی، آخر په ځان وژلو سره حرام مرګ مړه سی. مولانا رومی رحمه الله فرمایی حق تعالیٰ چی چاته سزا ورکول غواړی هغه په صورت پرستی یعنی په مجازی عشق اخته کړی. په داغه خاطر زنا عام سوه، زنا ښکاره کونکی فلمونه په سینما او غټ سکرین باندی کتل او ښکاره کول اوس څه بده خبره نه ده، دغه غلط فلمونه د کتلو وروسته هوښ پر ځای نه پاتیږی ځکه چی د پیغمبر ﷺ د ښیرا مستحق سی. اوس خو دغه حال سوی دی چی نژدې محرم خپلوانی هم محفوظ نه دی پاته، زه دغه ډیر نسم بیانولای چی د محرم خپلوی څه به باور پورته سی لاکن زړه می ډیر ژاړی چی تر پرونه پوری کوم ځوان چی د پوره علاقې د عزت ساتونکی وو نن نوبت تر کوم ځایه ورسیدی، حق تعالیٰ دی موږ ټوله وساتی او د دې غلطو شیانو څه دی د لیری کیدو توفیق راکړی.

**د بدنظری په خاطر د محبت د وادونو رواج ډیر سو:** نن سبا اکثره وادونه د حرام محبت پر بناء باندی کیږی چی نوم یې د محبت واده دی، په دې حرام محبت کی د ابتلاء سبب اکثره پر موبایل یا انټرنیټ باندی رابطه سره کول دی، ځکه چی مجازی عشق الٰهی عذاب دی په دغه خاطر د کوم شی ابتدا چی په حرام سره وسوه نو د هغه انتها به څنګه صحیح وی؟ همدغه سبب دی چی دغه وادونه اکثره په څو میاشتو کی سره ختم سی، ماسوا د دې چی دواړه توبه وکاږی یا د یو چا دعا باندی قبوله سی. د واده وروسته هم د بدنظری مریض نامحرمه ښځو ته ګوری، حلاله ښځه کوم چی په کور کی ورسره ده هغه کمتره بولی، د دواړو تعلقات سره خراب سی، هر وخت یو د بل سره شخړی، شک، بحث چی کورنۍ ژوند یې په تریخ سی.

**د خاوند او ماندینې په تعلقاتو کی د تریخوالی سبب:** پر تلویزیون او موبایل باندی ډرامې، فلمونه کتل او هم بدنظری د خاوند او ماندینې په تعلقاتو کی د تریخوالی سبب دی، مثلاً یو سړی دباندی د هوټل غورمه، وریجی، کباب او داسی نورو خوشبویی بوی کړه

کور ته راغلی اوس به هغه ته د کور دال او ډوډۍ څه خوند ورکړی؟ کوم خاوند چې په تلویزیون او فلمو کی ښایسته انجونو ته وګوری او میرمن یې د ځوانان هلکوانو فیشن او پر دنیا راګرځیده ووینی نو خاوند او میرمن به یو بل څه سره خوښ کړی. کله چې د الله احکام او پیغمبر ﷺ تعلیمات مات سی نو ژوند به څه شیرین سی؟ په دغه خاطر که په کور کی آرام او یو د بل محبت سره غواړی نو دغه خرافات د کور او ژوند څه وباسی دا ټوله فقط دوکه ده. زمونږ د شیخ کتاب **"رسول اللہ ﷺ کی نظر میں دنیا کی حقیقت"** څه هره ورځ یو حدیث پاک د ویلو عادت جوړ کړی، د ټولو ګناوو بیخ هم د دنیا ناروا محبت دی.

**بدنظری دونه خطرناکه ګناه ولی ده؟** نوری ګناوی مثلاً غیبت، قهر او داسی نور د انسان یو څو شپې بعد هیری سی لاکن بدنظری که لس کاله بعد هم وریه یاد سی نو زړه حرام خوندونه اخیستل شروع کړی. یو سپین ږیری ماته راغلی په ژړا سو چې "۳۵ کاله تر مخه می یو غلط فلم کتلی وو نن هم په سجده کی هغه غلط عکسونه مخته راسی زړه می غواړی چې ځان مړ کړم". په یو سازش سره د ښځو او نارینه وو د برابر کیدو فریبناکه نعره په لګولو سره په هره شعبه کی نارینه باسی ښځی یې پر ځای کوی، په دغه سبب د سترګو زنا، د ژبی زنا دا ګناوی مخ پر ډیریدو دی او د الله تعالیٰ لعنت پر موږ اوری او رحمت او کومک یې مخ پر بندیدو دی. په هسپتالو کی حتٰی چې د ایمرجنسی په شعبه کی هم تلویزیون لګیدلی وی، که څوک د بندلو ووایي نو اول مریضان شخړی شروع کړی، دا د شیطان چال دی چې مسلمان د مرګ پر وخت هم بدنظری وکړی او الله ته یې د رجوع فکر نه وی بلکې خاتمه یې د خرابه کیدو خطر پیدا سی. زموږ شیخ صاحب به په خاص توګه دینی خادمانو ته ویل چې هر څوک نظر او زړه خراب کړی نو د هغه په بیان کی به اثر نه وی. داسی خلګ د چا په زړه کی چې د خدای د محبت اور نه دی لګیدلی هغه به یې په نورو کی څه ولګوی ؎

*جب نور نہیں خود ہی دل میں منبر پہ وہ کیا برسائیں گے*

په زړه کی چې نور نستته نو پر ممبر به یې څه بیان کړی

**موبایل د غزلو او سروز آله:** موبایل د غزلو او سروز آله ده. د پیغمبر ﷺ فرمان دی چې غزلی او سروز بې ایمانی او نفاق په زړه کی داسی راپورته کوی لکه اوبه چې شنه کیا

((اَلْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ))

(مشکوٰة المصابیح: (قدیمی)؛باب البیان و الشعر، ص ۴۱۱)

او د حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمان دی چې

((اَلْغِنَاءُ رُقْيَةُ الزِّنَا))

(مرقاة المفاتیح: (رشیدیه)؛ باب صلوٰة العیدین؛ ج ۳ص ۴۸۵)

غزله د زنا منتر دی یعنی زنا پیدا کوي. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي

((إِنَّ اللهَ بَعَثَنِي رَحْمَةً وَّهُدًى لِّلْعٰلَمِيْنَ وَ اَمَرَنِيْ اَنْ اَمْحَقَ الْمَزَامِيْرَ))

(مسند احمد: مسند الانصار، جزء ۳۶ص ۵۵۱، رقم الحدیث ۲۲۲۱۸)

*ترجمه*: الله تعالیٰ زه د ټولو جهانو دپاره رحمت او هدایت جوړ کړی رالیږلی یم او ماته یې حکم راکړی دی چې زه د ټولکو او غزلو سامان ختم کړم. د افسوس ځای دی چې زموږ ګران پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې کوم کارونه د ختمولو دپاره راغلی وو نن اُمّت هغه را ژوندی کوي، دغه غزلې او ساز خو په شریعت کې بالکل حرام دي. حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه د دې آیت

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ﴾

(سورت لقمان: آیت ۶)

*ترجمه*: او ځه خلک هغه دي کوم چې د الله ځه غافل کونکې خبرو خریدار جوړیږي چې د هغه په ذریعه خلک د الله د لارې ځه واړوي(آسان ترجمه قرآن) په باره کې وفرمایل چې د خدای قسم دی د دې آیت مطلب غزلې دي. په روحُ المَعانی تفسیر کې لیکلي دي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي کوم انسان چې غزله اوري او په مستۍ کې سر ښوروي نو د الله د طرفه ځه دوه شیطانان د هغه پر اوږه ورکښیني هغه خپلې پوندې په مړلو مړلو سره هغه ته نور جوش ورکوي. د داغه ځه سر خلاص کړي چې غزله په اوریدو کې د خونده ښوریده ځنګه دي؟ نن سبا ځنې نعتونه هم د ساز دي، د نعت تر شا داسې ایکو آواز وي چې ساز په احساس کیږي په دې خلک د غزلو شوق پوره کوي، داسې ساز لرونکې نعت اوریدل هم صحیح نه دي.

**په زنګ کې د غزلو یا ساز تاوانونه:** ځنې خلک د موبایل پر زنګ باندې غزله یا ساز لګوي، تلیفون کوونکې ته د غزلې بږغ ورځي، هغه هم ګناهګاره کول غواړي، یا کله په مسجد کې په لمانځه کې د موبایل په زنګ سره د ټولو لمونځ کونکو خشوع او توجه ختمه سي، امام صاحبانو ته خو لمونځ ورکول مشکل سي. حضرت مفتی امجد صاحب حفظه الله زموږ د شیخ صاحب خلیفه دی هغه ویل زه په مسجد نبوی صلی الله علیه وسلم کې وم نو امام صاحب ته نژدې د یوه سړي پر موبایل باندې غزله شروع سوه او د غزلې بږغ د حرم شریف د ټولو ګویاوو څه راشروع سو چې امام صاحب او مقتدیان ټوله په ژړا سوه.

**بې له ضرورته د نامحرمه بږغ اوریدل هم منع دی:** نوې ټیکنالوجی په موبایل کې داسې طریقه ایښې ده چې کوچنی عکس هم روښانه او ښه معلومیږي او په آواز کې دونه ښایست پیدا کوي چې انسان د نامحرمه پر آواز باندې عاشق سي. بې له ضرورته د ښځې آواز اوریدل، پر هغه خوند اخیستل ناروا او ګناه ده

**((وَالْأُذُنَانِ زِنَاهُمَا الْإِسْتِمَاعُ وَاللِّسَانُ زِنَاهُ الْكَلَامُ))**

**(الصحيح لمسلم: (قديمى)، كتاب القدر، ج ٢ ص ٣٣٦)**

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي د غوږو زنا (د نامحرم خبرې) اوریدل دي او د ژبې زنا (د نامحرم سره خبرې کول دي په مجلس سره یې خوند اخیستل دي، په خندا خندا د حرام خوند زهر خوړل دي. د ښځې د آواز هم پرده ده، ځنې نارینه پر سکرین باندې انجونو ته دیني سبق وایي، د دواړو طرفه ګناه وي. ځنې هلکوان پر موبایل باندې په یو خاص طریقې سره خپل آواز د ښځو په شیان بدل کړي یا د خپل موبایل پر ډسپلې باندې د انجلۍ عکس په ورکولو سره خلکو ته دوکه ورکوي او ښه پیسې په پیدا کوي. د دې ماسوا په آنلاین درس کې نارینه ښځو ته درس ورکوي او ښځې نارینه وو ته، کوم چې د ناروا کیدو سره د غلط تعلقاتو ذریعه هم جوړ سي.

## ⑥باب:سمارټ فون ............. عبرتناکه قصې

**د برصیصا عبرتناکه انجام او د موبایل د فتنې سره ربط:** آیا تاسې د برصیصا عابد عبرتناکه قصه ویلې ده؟ دا وواياست او پر هر ځای یې د موبایل سره وګوری نو تاسې به حیران سی چې نن سبا داغه فتنه موبایل جوړه کړې ده. په دغه قصې سره تاسې د

موبایل د ګناوو درجې په فکر کی ونیسی او دغه فکر هم ورسره وکړی که موږ اصلاح ونه کړو نو په دغه بند کی ګیر رانه سو.

**۱) درجه:** په تفسیرِ مظهری کی لیکلی دی چی ډیر وخت ترمخه برصیصا یو عبادت ګزاره بزرګ وو، څو څو میاشتی د خانقاه څه لاندی نه راتلی بس په عبادت به اخته وو. غټ شیطان ټوله شیطانان راټول کړه ورته وې ویل چی برصیصا څنګه خطا باسو؟ ابیض شیطان ورته وویل زه دا کار کوم. ابیض شیطان د انسان په شکل کی راغلی د برصیصا د خانقاه ومخته یې عبادت شروع کړی. برصیصا څو ورځی بعد ولیدل چی یو سړی د خانقاه ومخته عبادت کوی، نو ابیض شیطان چی د عبادت ګزار په شکل کی وو برصیصا ته بږغ وروکړی چی ما لوړ خانقاه ته پریږده زه به هلته عبادت وکړم، برصیصا منع کړی چی زه یوازی د الله تعالیٰ عبادت کوم، ابیض شیطان ورته وویل ډیر ښه! او بیا په عبادت اخته سو، کله چی څو واری برصیصا ورته وکته نو په زړه کی یې یو څه محبت راغلی چی څنګه عبادت ګزاره دی او هلته به هغه هم هر واری ورته ویل چی ما خانقاه ته پریږده، آخر برصیصا هغه لوړ راوغوښتی، اوس د موبایل درجو ته وګوری چی څنګه په کراره کراره د ضرورت په بهانه ، د تخفي په بهانه، د تعلیم په بهانه، د دین په بهانه، په کومه کومه بهانه غټ موبایل زموږ کورو ته راسی او موږ په خپل شیخ اصلاح هم نه کوو.

**۲) درجه:** ابیض شیطان لوړ د برصیصا خانقاه ته راغلی او په خپل عبادت اخته سو، ډیری ورځی بعد برصیصا وکته چی دا خو داسی عبادت کوی چی زما عبادت هیڅ هم نه دی، پر برصیصا باندی ډیر اثر وسو، یوه ورځ ابیض شیطان ورته وویل چی اوس نو زه ولاړم زه تاته یو دعا در زده کوم هغه دعا چی پر هر مریض دَم کړې هغه به ښه سی، برصیصا ورته وویل زه دې ته ضرورت نه لرم بیا ماته خلک راځی او زما په عبادت کی خلل راځی، لاکن ابیض شیطان هغه داسی خطاباسی چی دا ګټه هغه ګټه او د خدای د مخلوق خدمت دی د ثواب کار دی او داسی نور، آخر پای په خپلو خبرو کی یې په راوستلو سره برصیصا ته دغه دَم ورزده کړی ولاړی. همدا رنګه شیطان موږ ته د غټ موبایل ګټې را ښکاره کوی چی په دې کی به تلاوت کوې، بیانونه به اورې، نورو ته به د دین خبری استوې. دا خبری خو صحیح دی لاکن ځکه چی په یو چا اصلاح نه کوی نو د شیطان په دام کی په راتلو سره د ګناوو خوا ته ولاړ سی، غلطو ځایو ته ولاړ سی.

**۳) درجه:** د هغه ځایه څه د تګ وروسته شیطان یو سړی تر ستونی ونیوی هغه لغتی شروع کړې هر رنګه علاج یې وسو، د دې وروسته ابیض شیطان د انسان په شکل کی هلته ورغلی او ورته وې ویل چی د ده علاج د برصیصا څه دی هغه داسی دَم کوی چی پر مرګ پروت سړی هم جوړ سی، دا رنګه خلګ برصیصا ته ورغله او ډیری زاری یې ورته وکړې لاکن برصیصا ونه منل، آخر خلګو ورته وویل که دغه سړی مړ سو نو پوښتنه به یې ستا څه کیږی، د برصیصا زړه پر وسوځی دَم یې پر وکړی، نو شیطان هغه سړی ایله کړی هغه جوړ سو، دغه رنګه په ګاره ګاره برصیصا شهرت وکړی، ډیر خلګ ورته راشروع سوه، پر هر چا چی به یې دَم وکړی هغه به جوړ سو لاکن د برصیصا په عبادت کی کمی راغله لاکن هغه پروا ونه کړه، فکر یې وکړی چی د خدای د مخلوق خدمت کوم.

**۴) درجه:** اوس نو شیطان یوه شهزادګۍ تر ستونی ونیول چی د درو وروڼو یوه خور وه، هغه به ناجوړه ناجوړه وه، دهغه زمانې غټ غټ طبیبان راوغوښتل سوه، هر رنګه علاج یې وسو لاکن شهزادګۍ جوړه نسوه، ابیض شیطان شهزادګانو ته د انسان په شکل کی راغلی او ورته وې ویل ستاسی د خور هم یو علاج دی چی برصیصا ته خپله خور ورولی د هغه په دَم به دا جوړه سی، کله چی یې هغه ته وروسته او دَم یې پر وکړی نو جوړه سوه، اوس نو دغه سلسله شروع سوه چی شهزادګۍ به جوړه سوه قصر ته به راغله نو شیطان به بیا تکلیف ورکړی، بیا به هغه د برصیصا په دَم جوړه سوه، بیا به ناجوړه سوه.

**۵) درجه:** اوس د مخ درجې وګوری، شهزادګان برصیصا ته ورغله چی موږ د دښمن سره جنګ ته ځو زموږ خور ستا په دَم جوړه سی ته د ځان سره د اوسیدو دپاره دې ته یوه خونه ورکه، برصیصا دستی منع کړه چی زه یې په هیڅ صورت کی نه پریږدم دا خو نامحرمه ده. ابیض شیطان شهزادګان ترمخه لا پوه کړی وه که برصیصا منع کړل نو دغه ورته ووایاست موږ به ستا د خانقاه پر مخامخ کور جوړ کړو خپله خور به هلته پریږدو، ته د خانقاه څه دَم پر کوه او د کور دباندی ډوډۍ ورته ایږده دا به یې خپله اخلی، برصیصا ورته وویل دا خو هیڅ مسئله نه ده. آیا نن داغه حالات نه دی؟ انجونو ته په موبایل کی پیسې ورلیږل خو هیڅ مسئله نه ده، په خیالاتو کی راوستل هیڅ مسئله نه ده، د کور چکرونه یې وهل هیڅ مسئله نه ده، په تلیفون کی می خبری ورسره وکړې نو

څه وسوه، د غټ موبایل په جال کی راتلل هیڅ مسئله نه ده. یودم خو خرابی نه راځی، په کراره کراره چې په نفس باور وسی نو شیطان ته لار پیدا سی بیا چې کله هغه نیښن راجګ کړی نو په حقیقت کی مسئله جوړه سی، غلط فکرونه راګرځی بیا پیغام استول کیږی بیا جوابونه بیا ملاقاتونه ورسره کیږی بیا په مختګ سره بې حیایي، فحاشی، غلط ګیمونه، غلط کارټون، د ذلالت او رسوایي وروسته په آخره کی بربادی راسی، که موږ په اوله درجه کی د دې علاج وکړو، اصلاح وکړو، د سر په سودا د نظر حفاظت وکړو او د ګناوو د اسبابو څه لیری واوسیږو نو د ذلت او رسوایي لښتی ته د لویدو څه به په امان سو.

**۶) درجه:** برصیصا د شهزادګۍ دپاره ډوډۍ ایښوول شروع کړه، په وارو وارو نظر پر مښتل شروع سو او په زړه کی یې د کومک جذبه پیدا سوه. زموږ شیخ صاحب په یو مثال سره پوه کړو چې د غوړو تیم چې غوړی پکښی یخی وی، سر یې بند وی لاکن هغه ته نژدې اور بل سی، اور غوړی نه وینی غوړی اور نه وینی لاکن د اور په ګرمی به غوړی ویلی سی او د تیم سر به په چاؤدلو سره په هوا سی، دغه د حسن خاوندان او د مجازی عشق غلاظت د ایمان سر راڅه په هوا نه کړی. اوس د برصیصا په زړه کی خیال راغلی چې یوه انجلۍ مریضه ده او ته ډوډۍ دباندی ورته کښیږدې ځنی راسې، بیچاره ته به تکلیف وی، کمزورې ده (پر نامحرمه ښځو باندی خلګ ډیر ترسیږی) کور ته په ورتګ سره یې ډوډۍ ایښوول شروع کړه، څو ورځی بعد شیطان په زړه کی ورواچول چې دا څنګه خبره ده چې د مریض خیر و خیریت هم نه پوښتې. اوس شیطانانو خوشحالی شروع کړه چې بس اوس ونیول سو اوس به ورمعلوم سی، د دې وروسته برصیصا د شهزادګۍ خیریت پوښتل شروع کړه، څو ورځی بعد شیطان او نفس نور خطاباسی چې فقط خیر و خیریت یې پوښتې یو وخت یې د تسلیت دپاره پر سر باندی لاس هم ورکښیږده، دا یې هم وکړه، اوس په جال ښه ننوتی. په موبایل کی هم داغه دی چې اوس دغه فلم وګوره، دغه ځای ته ورسه، د نامحرمه سره خبری وکه بیا ملاقات ورسره وکه.

**۷) درجه:** بیا شیطان د برصیصا په زړه کی وسوسه ورواچول چې زنا وکه وروسته توبه وکاږه، همدا رنګه شیطان ګناوی ډیر ښکښښناکه راښکاره کوی. لکه څنګه چې زموږ شیخ صاحب به فرمایل چې شیطان د ګناه خوا ته اول سړی پُل(Pull) کړی یعنی راکش یې

کړی بیا یې پله ته پورته کړی پُش(Push) یې کړی یعنی پوری یې وهی، په پوری وهلو سره یې د ګناوو لښتی ته وغورځوی، خندا پر کوی چې وګوره څنګه می خطا ایستې، ډیر عبادت ګزاره جوړیدې. شیطان په وارو وارو برصیصا خطاباسی نو هغه زنا وکړه چې په هغه انجلۍ حملداره سوه. اوس برصیصا وارخطا سو، نو شیطان ورته وویل چې ګوره! اوس به ستا رسوایي او ذلت کیږی، خلګ به دی ووهی، د سپی مرګ به دی وی، اوس یو حل دی چې انجلۍ مړه که ښخه یې که، د دې وروڼه که پوښتنه درڅه وکړی نو ورته ووایه چې پیریانو بوتله. بس هغه یې مړه کړه ښخه یې کړه. نن هم څونه قصې په اوریدلو کی راځی چې د زنا وروسته یې مړه کړه.

**۸) درجه:** کله چې برصیصا انجلۍ ښخول نو ابیض شیطان د کفن یو څه ټوکړ د قبر دباندی پریښووی. د دښمن سره د مقابلې وروسته شهزادګان چې بیرته راغله نو د خپل خور دپاره برصیصا ته ورغله پوښتنه یې ځنی وکړه نو برصیصا درواغ ورته وویل چې هغه پیری بوتله. د برصیصا د احترام په خاطر وروڼو شک هم پر ونه کړی او د دې خبری په یقین سره بیرته ولاړه. بیا د هر ورور په خوب کی شیطان راغلی ورته وې ویل چې دغه برصیصا د زنا وروسته ستاسی خور در مړه کړه د خانقاه تر شا یې قبر جوړ دی. نښانی یې دغه ده چې د ټوکړ کنج دباندی راوتلی دی، هر ورور یو رنګه خوب ولیدی، کله چې دریم ورور ته په خوب کی شیطان همداغه وویل نو هغه خپل خوب دواړو وروڼو ته وویلی، هغو وویل موږ هم داغه خوب لیدلی وو، درې سره دستی د خانقاه شا ته ولاړه نو وې لیدل چې قبر دی او کفن دباندی راوتلی دی، قبر یې خلاص کړی نو دننه یې د خور سکلیټ ولیدی، برصیصا یې ونیوی او لاس تړلی یې پاچا ته وروستی. نن سبا هم د تحقیقاتو وروسته اصلی قاتل معلوم سی او ونیول سی.

**۹) درجه:** اوس مخته نور عبرتناکه خبره واوری چې د برصیصا خاتمه څنګه وسوه؟ پاچا وویل دته پانسۍ ورکړی، کله چې یې د پانسۍ تختې ته پورته کړی نو ابیض شیطان ورته راغلی او برصیصا ته یې وویل زه دی وپیژندم؟ برصیصا ورته وویل هو! ته هغه یې چا چې زما سره عبادت کړی وو، ابیض ورته وویل اوس خو ته رسوا سوې او اعدام کیږې، که زما خبره ومنې نو تا به د دې ځایه راخلاص کړم، برصیصا ورته وویل هغه څه شی؟ ورته وې ویل ماته سجده وکه، برصیصا د پانسۍ څه د ځان ساتلو دپاره سجده ورته وکړه، ابیض ورته وویل برصیصا زما مقصد پوره سو ما داغه غوښته چې ته کافر سې

اوس زما ستا سره هیڅ تعلق نسته، دستی اعدام سو پر کفر باندی مړ سو. د انجلۍ په قصه کی، د نظر خرابولو په خاطر، پر نفس باندی د باور کولو په سبب څه بربادی راغله. اوس به تاسی زما څه پوښتنه وکړی چی نوری خبری خو د موبایل د ګناه سره یو رنګه سوې لاکن دغه په آخر کی د سجدې خبره د موبایل سره څه تعلق لری؟ زه به اشاره درکم چی آیا مسلمانانی لوبی د عیسویانو او هندوانو هلکوانو سره وادونه نه کوی؟ آیا مسلمان هلک د عیسایي او هندو انجلۍ سره واده نه کوی؟ څو سوه کاله تر مخه په دمشق کی د جامع مسجد مؤذن د اذان دپاره د مسجد بام ته وختی او د څنګ په کور کی یې پر عیسایي انجلۍ نظر ومښتی، اذان یې ونه کړی لاندی راغلی د عیسایي کور ته ورغلی او د انجلۍ په ویلو سره عیسایي سو، په داغه حال کی مرګ ورته راغلی. څنګه د عبرت ځای دی موږ نظر معمولی بولو. په یوه بدنظری د شیخ عبدالله اندلسی رحمة الله علیه څه حال سو، هر وخت چی ما دغه قصه کړې ده شاید یو څوک وی چی زړلی یې نه وی، د عبرت دپاره یې مختصره درته کوم.

**د شیخ ابو عبدالله اندلسی د نصیحت ډکه قصه:** شیخ ابو عبدالله اندلسی د مشهور شیخُ المشایخ او اکابر اولیاوو څه وو، په بغداد کی د ده په سبب دیرش خانقاوی آباد وې، یوواری یې د سفر اراده وکړه، د شاګردانو او مریدانو د ډلی څخه ډیر خلګ ورسره سوه چی په هغو کی حضرت جنید بغدادی رحمة الله علیه او حضرت شبلی رحمة الله علیه هم وه. پر لاری یوه کلیسا راغله چیری چی عیسویانو د صلیب عبادت کاوه، مخته چی ولاړی نو پر یو ځاه باندی څو عیسایي انجونو اوبه ډکولې، د شیخ نظر پر یوې ښایستې انجلۍ ومښتی، د نظر په مښتلو سره تغیر پکښی پیدا سو شیخ سر کښته کړی او کښینستی درې ورځی مکمل تیری سوې نه یې خوراک کاوه نه یې چیښناک کاوه نه یې د چا سره خبری کولې، حضرت شبلی ورته وویل اې شیخه! ستا په زرهاوو مریدان ستا د دې حال څه په تکلیف دی، شیخ هغو ته متوجه سو او وې ویل زما عزیزانو! زه خپل حال ستاسی څخه تر څه وخته پټ کم وړمه ورځ چی ما کومه انجلۍ لیدلې ده د هغې محبت پر ما باندی دونه غالب سوی دی چی پر ټول اعضاوو باندی هم د هغې تسلط دی اوس هیڅ رنګه ممکن نه دی چی زه دغه ځګه پریږدم.

**د مجازی عشق څه تر ارتداد پوری:** حضرت شبلی رحمة الله علیه فرمایي چی موږ پر دغه عجبه قصه باندی سخت په تعجب کی سولو او د ارمان څه مو ژړا شروع کړه، شیخ هم

زموږ سره ژړل. بیا مجبوره سولو موږ د خپل وطن بغداد پر خوا راغلو، د دې وروسته ټولی خانقاوی بندی سوې او موږ هم یو کال په داغه ارمان او افسوس کی د شیخ په جدایي کی ژړل. یو کال بعد کله چې مریدانو اراده وکړه چې ورسو د شیخ خبر واخلو چې په کوم حال کی دی نو زموږ یوې ډلې سفر وکړی، د هغه کلی خلکو راته وویل چې هغه د سردار د لور سره کوزده وکړه، د هغې پلار په دغه شرط ومنل چې عسایي سه او زموږ خنزیران به روزې لهٰذا په ځنګله کی د خنزیرانو پر خدمت مقرره دی. آخر پای ځنګله ته ورغلو نو ومو لیدل چې د عیسویانو لباس یې اغوستی دی مخته یې د خنزیرانو غټ قطار دی عصا یې په لاس کی ده چې پر هغه به یې د خطبې پر وخت لاس تکیه کوی او خنزیران روزی. خادمانو د شیخ سره ملاقات وکړی، حضرت شبلی رحمه الله ورته وویل اې شیخه! د دونه علم و فضل او حدیث و تفسیر سربیره نن ستا څه حال دی؟ شیخ ورته وفرمایل زما ورونو! زه په خپل اختیار کی نه یم، زما ربّ چې زه څنګه وغوښتم هغسی یې کړم او د دونه نژدې کولو وروسته چې هر وخت یې وغوښته چې د خپل دروازې څه می لیری وغورځوی نو بیا د هغه قضا بدلونکی څوک سته؟ اې عزیزانو! د بې نیازه خدای د قهر او غضب څه وبیریږی پر خپل علم او فضل باندی مه مغروره کیږی.

خادمانو پوښتنه ځنی وکړه چې حضرت ستا یو څه قرآن شریف هم په یاد دی؟ شیخ ورته وویل هو! یو آیت می په یاد دی، حال دا چې د قرآن حافظ او سبعه قاری وو **وَمَنْ يَّتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ** (سورت البقرة:آیت۱۰۸) ***ترجمه:*** چا چې د ایمان په بدل کی کفر اختیار کړی تحقیق هغه د سیده لاری څه ګمراه سو. بیا یې پوښتنه ځنی وکړه چې یو حدیث دی په یاد دی؟ ورته وې ویل چې فقط یو حدیث می په یاد دی، حال دا چې دیرش زره حدیثونه یې په یاد وه **مَنْ بَدَّلَ دِيْنَهٗ فَاقْتُلُوْهُ** ***ترجمه:*** کوم شخص چې خپل دین بدل کړی هغه قتل کړی. بل می هیڅ نه دی په یاد، د دې وروسته یې د آسمان خوا ته نظر پورته کړی او وې ویل اې زما ربّه! زما ګمان خو ستا په باره کی داسی نه وو چې ته به ما په ذلیل او ستومانه کولو سره د خپل دروازې څه وباسې، دغه په ویلو سره یې خدای ته ژړا شروع کړه، مریدانو هم خدای ته ژړا شروع کړه، خنزیران د دوی ژړا او دردناکه بږغ په اوریدلو سره پر دوی راټول سوه او هغو هم ژړا او نعرې شروع کړې.

**د تکبر او بدنظرۍ وبال:** حضرت شبلی رحمه الله فرمايي موږ دغه حال د ليدلو وروسته شيخ هم هلته پريښوده او بغداد ته مو د تګ نيت وکړ، تر اوسه مو درې ورځې سفر کړی وو چې يوې وياله ته را ورسيدو نو څه ګورو چې شيخ د وياله د خوا غسل کړی د مسلمانانو په شان د سپين ټوکره لنګ وهلی را روان دی، کله چې رانژدې سو نو وې ويل **اَشْهَدُ اَنْ لَّآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ** هغه وخت زموږ د خوشحالی اندازه هم هغه شخص کولای سی چاته چې زموږ د غم اندازه وه، د دې وروسته مو د شيخ څه پوښتنه وکړه چې حضرت دا څنګه قصه وه؟ نو شيخ راته وفرمايل کله چې زه د هغه کليسا ومخته راتېر سولم او هغه عيسويان مې وليدل نو ما هغه ډېر حقير وبلل، پر ما باندی هم هغه وخت يو غيبی ږغ وسو چې دغه ايمان او توحيد هيڅ ستا ذاتی کمال نه دی ټول زموږ په توفيق سره دی، آيا ته خپل ايمان په خپل اختيار کی بولې چې دوی حقير بولې او که ته غواړې نو موږ به يې تا ته اوس در ښکاره کړو، هم هغه وخت ماته احساس وسو چې زما څه يو نور راووتی او ورک سو کوم چې په حقيقت کی ايمان وو او زما په باطن کی تياره هم تياره وغوړيده، د دې وروسته ښکاره سبب يې دغه سو چې هلته پر څاه باندی يوې عيسايي انجلۍ اوبه ډکولې زه پر هغې عاشق سولم، ما هغې ته د نکاح پيغام ورکړی هغې شرط ولګوی چې زموږ خنزيران وروزه. اوس ستاسی د ملاقات وروسته ما خدای ته خواست وکړی چې ياالله! اوس خو ډېره سزا راکړل سوه اوس خو مې وبخښه، نو ما وليدل چې زما هغه نور کوم چې زما څه وتلی وو بيا ماته داخل سو او ماته د اسلام توفيق وسو. **(واقعه بحواله انفاس عيسیٰ ج۲ص۲۸۵؛ آپ بيتی ج۱ص۴۹۶)**

**دوستانو عبرت حاصل کړی:** دغه دواړی قصې ثونه عبرتناکه دی، دغه د نن په دوران کی د موبايل پر خرافاتو باندی بالکل برابر راځي. شايد پر يو چا باندی د موبايل په باره کی زما خبری بدی ولګيږی لاکن دا حقيقتاً د فتنې شکل اختيار کړی دی او مشايخ پر دې باندی پاملرنی کوی. شيخ الاسلام حضرت مفتی تقی عثمانی صاحب حفظه الله په څو واری په خپلو بيانو کی موبايل ته د دې زمانې غټه فتنه ويلې ده. کوم خلک چې پر دين باندی عمل کوی يا پر دين باندی د عمل کولو فکر لری اِلاماشاءالله د اکثرو دغه حال دی چې هغه په دې کی خرابی نه وينی، حال دا چې ثونه ګناوی دغه موبايل په ځان کی جمع کړی دی او په خاصه د بدنظری په ګناه کی مبتلا کيدل يې ډېر عام او آسانه کړی دی.

# ⑦باب:سمارټ فون ....... د بې حيايي او فحاشي طوفان

**په بې حيايي کی ډيروالی:** په موبايل، انټرنيټ او ميډيا سره فحاشي او عرياني مخ پر زياتيدو ده، په ښځو کی مختصر او فحش لباس هم د داغه په ذريعه راغلی او عام سو. نن خوندی مندی خپله په اخته دی نو فکر دی وکړی چی دوی به بيا په خپلو لوڼو څه شی اغوندی؟ او آيا د لور پر بې حيايي به بيا يو وخت يو څه ورته ويلای سی؟ په داغه موبايل کی زموږ لوڼو رقصونه او غزلی هم زده کړې، رقص کونکی ښځی ته څه شی ويل کيږی؟ يو شريف سړی پر خوله هغه لفظ نه راولی، اوس سوال دغه دی چی زموږ خوندی، مندی او لوڼی خو هم رقصيږی هغو ته به څه ويل کيږی؟

**پوښتنه به ستا څه کيږی:** زموږ شيخ صاحب به فرمايل دوستانو! د خدای د نافرمانی څه خپله هم ځان وساتی او په خپل کور کی هم نافرمانی مه پريږدی، خپله خو ځان ځنی ساتل دی لاکن د کور خلک به هم ځنی ساتی. د الله تعالیٰ حکم دی

﴿يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا﴾

(سورت التحريم: آيت٦)

**ترجمه:** اې ايمانوالو! خپل ځان او خپل کور والا د دوږخ د اور څه وساتی. او پيغمبر ﷺ وفرمايل

((اَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَّكُلُّكُمْ مَّسْئُوْلٌ عَنْ رَّعِيَّتِهٖ. متفق عليه))

(مشکوٰة المصابيح: (قديمی)، كتاب الامارة و القضاء، ص٣٢١)

د کور چی څوک مشر وی هغه مسئول وی الله به د هغه څه سوال کوی. که يو وخت داسی خبره پيښه سی چی سر دی نه په خلاصيږی نو د خدای د يو دوست سره صلاح وکه. که د يو چا په کور کی تلويزيون، ډيش، انټرنيټ او داسی نور شيان وی او نن سبا د دې ټولو مجموعه غټ موبايل غوندی ښامار موجود وی او خپله يې نسی ليری کولای نو د ليری کولو دپاره د اولياوو سره صلاح وکړی.

**د مشرانو ذهن سازی:** ميډيا او موبايل د کور د مشرانو ذهن داسی پريمنځلی دی چی هغو ته د خپلو اولادو غير اخلاقی لباس، غلط تعلقات، فلمونه کتل، په پهلوانی کی لڅ نارينه وو ته کتل هيڅ بد نه ورمعلوميږی. په رخصتيانو کی ټوله خپلوان په کډه غلط فلمونه

ګوری او مور و پلار ګونګیان ورته ناست وی ځنی وخت خو خپله هم ورسره کښېنی. کله چې مشران خپله په ګناوو اخته وی نو کشران به څنګه منع کوی. په حدیث شریف کی دی چې صحابه رضوان الله علیهم اجمعین د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څه پوښتنه وکړه چې دیوث چاته ویل کیږی؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل **اَلَّذِیْ لَایُبَالِیْ مَنْ دَخَلَ عَلٰی اَھْلِهٖ** (چاته چې د دې پروا نه وی چې زما د کور ښځو ته څوک ځی او راځی) (شعب الایمان للبیهقی: جزء۱۳ ص۲۶۱، رقم ۱۰۳۱۰) او ملّا علی قاری رحمۃ اللہ علیہ فرمایي څوک چې د خپل کور ښځی په یو ګناه کی ووینی او هغه ځنی منع نه کړی نو دا هم دیوث دی. د کور مشران دی دغه حدیث شریف ووایي فکر دی وکړی چې زما د کور ښځی په کومو ګناوو اخته دی؟ د نامحرمو څه څونه پرده کوی؟ پر خپله نافرمانی باندی خو سوځي پر را اخلو او د الله پر نافرمانی باندی هیڅ نه ورته وایو، چپ ناست یو بلکې خپله هم په ګناوو کی ورسره شریک سو.

**بې حیایي د ګناوو ښاه دی:** لهٰذا والدینو ته دغه وایم چې د اولیاوو او علماء کرامو سره صلاح وکړی او خپل فرض په یاد کړی. د دغه حدیث شریف د وعید څه ځان وساتی، په خپل اولاد کی د حیا ډیر فکر وکړی ځکه چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمان دی

**((اِنَّ لِکُلِّ دِیْنٍ خُلُقًا وَّ خُلُقُ الْاِسْلَامِ الْحَیَاءُ))**

**(مشکوٰۃ:(قدیمی)، باب الرفق والحیاء، ص۴۳۲)**

*ترجمه:* د هر دین یو اخلاق خاص وی د اسلام خاص اخلاق شرم او حیا ده. او په یوه اورد حدیث کی پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل کله چې الله یو بنده بربادول غواړی نو د هغه څه حیا واخلی، کله چې په هغه کی شرم پاته نسی نو هغه د خلکو په نظر کی حقیر او مبغوض جوړ سی، کله چې د هغه حال دې نوبت ته را ورسیږی نو بیا د هغه څه د امانت صفت هم واخیستل سی، کله چې په هغه کی امانتداری پاته نسی نو هغه په خیانت هم خیانت اخته کیدل شروع سی، د دې وروسته د هغه څه د رحمت صفت پورته سی، بیا هغه ترټلی سرګردانه ګرځی، کله چې ته هغه دا رنګه سرګردانه ووینې نو هغه وخت رانژدې سی چې اوس د هغه څه د اسلام رشته هم واخیستل سی (ابن ماجه شریف (قدیمی)، ص۲۹۴)

کوم خلک چې تلویزیون، د لهو و لعب آلات، ډیش، غټ غټ سکرینونه په خپل بیټک او اوطاق کی لګوی هغه خپله هم بربادیږی او نور هم د خدای څه غافل بلکې نافرمان کوی، د هغو دپاره د ذلت داسی وعید دی.

**آه مسلمان هم د دوږخ داعي جوړ سوی دی:** نن سبا د کرکټ د بازیو دپاره په پارک او میدان کی غټ سکرین لګیږی چې بازی پر وکتل سی، ښځی او نارینه سره ګډ وی او د بې حیایي بازار ګرم وی. د نبی ﷺ په زمانه کی به د ګناوو وطرفته یهودیانو رابلل نن مسلمان پر انټرنېټ باندی د ګناه دعوت ورکوی، یو مسلمان بل مسلمان ته غلط فلمونه او غزلی ورکوی او غلط عکسونه پر واټس اپ ورلیږی. زموږ شیخ صاحب وفرمایل چې کوم وخت قرآن پاک رانازلیدی هغه وخت به هم کافرانو غزلچی انجونی د غزلو دپاره رانیولې او ویل به یې چې ګوری! محمد ﷺ چې کوم قرآن درته وایی هغه مه اوری، هلته هیڅ خوند نسته، هلته خو د دوږخ بیره او د جنت لالچ دی، موږ ته راسی دلته د جنت دوږخ هیڅ خبره نسته بس په خوند غزلی واوری او په مفته شراب وچیښی.

**د غلط فلمو تلاښ:** د صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین په باره کی الله تعالیٰ فرمایلی دی **يُرِيۡدُوۡنَ وَجۡهَهٗ** **(سورت الکهف:آیت۲۸)** یعنی صحابه زما په رضا پسی ګرځی. او نن موږ پر موبایل او انټرنېټ باندی په فحش فلمو او فحش ویب پاڼو پسی ګرځو. پر دین باندی عمل کونکی چا چې به د شپې په تنهایي کی خپل ربّ ته مناجات او دعاوی کولې اوس هغه د تهجد پر وخت فحش فلمونه ګوری، زموږ پر بربادی باندی شیطان ښه خندا کوی چې زما په جال کی غټ غټ ماهیان راغلی دی، داسی خلک چا چې لس لس کاله په تقوا کی تیر کړی وه لاکن موبایل او انټرنېټ په لاس کی په راتلو سره د هغو پر تقوا باندی فالج ولویدی او په ګناوو اخته سوه.

**بې خطره ګناه:** اول سر به سینما ته ظاهری دینداره خلک په ورتګ شرمیده او تلویزیون او ویسیار کور ته په راوړلو کی د بې عزتیا د بیری څه شرمیده چې خبره به عام سی لاکن پر موبایل او انټرنېټ باندی ټوله ګناوی د کولو سربیره نه خو عزت ته څه مسئله وی نه د چا بیره. آه! مولانا رومی صاحب رحمة الله علیه په ډیر غم سره نصیحت کوی که شب پرک په لښتی کی پروت وی نو حیرانتیا نسته ځکه چې د هغه خو کار داغه دی لاکن د پاچا په باز څه وسوه چې هغه په لښتی کی پروت دی؟ کافر که د انټرنېټ، ډیش او موبایل په خرافاتو اخته وی او د ښځو سره تعلقات ولری نو د حیرانتیا خبره نه ده لاکن آه! په مسلمان څه وسوه چې هغه د ګناوو لښتی ته ورغلی.

**د بې حیایۍ په خاطر نوی نوی مرضونه:** د موبایل غوندی آلاتو په خاطر بې حیایي ډیره زیاته سوې ده، په دغه سبب همیشه نوی نوی مرضونه پیدا کیږی لکه کورونا، ډینګی، سرطان او داسی نور، په حدیث شریف کی اول هم د دې څه خبرداری راغلې ده

**((لَمْ تَظْهَرِ الْفَاحِشَةُ فِيْ قَوْمٍ قَطُّ حَتّٰى يُعْلِنُوْا بِهَا إِلَّا فَشَا فِيْهِمُ الطَّاعُوْنُ وَالْأَوْجَاعُ الَّتِيْ لَمْ تَكُنْ مَضَتْ فِيْ أَسْلَافِهِمُ الَّذِيْنَ مَضَوْا))**

**(سنن ابن ماجة: (قديمى)، كتاب الفتن، باب العقوبات، ص۲۹۰)**

*ترجمه:* هر کله چې په یو قوم کی بې حیایي(بدکاری او داسی نور) په عامه شروع سی نو په هغو کی طاعون او داسی مرضونه پیدا سی کوم چې د هغو په تیر سوی کسانو کی نه راتلل. د یوه بل حدیث شریف مفهوم دی چې قیامت ته نژدې به په هر کور کی بدکاره ښځی رقصیږی. اول سر د دې فکر هم مشکل وو چې د شریف خلکو په کور کی دغه بې حیایي څنګه امکان لری؟ لاکن تلویزیون دا هم وکړه، رابنکاره یې کړه چې په فلمو او ډرامو سره دغه لعنت هر کور ته ورسیدی او موبایل خو انتها وکړه چې تر جیب جیب یې بې حیایي را ورسول.

**جنسی جرمونه او د هغه اسباب:** د دسمبر ۲۰۲۰ د البلاغ په رساله کی د یوه اخبار په حواله لیکلی دی چې د روان کال په اول شپږ میاشتو کی پر ۱۴۸۹ کوچنیانو باندی جنسی تیری سوی دی. د کور په ماحول کی د کوچنیانو اخلاقی او دینی تربیې ته د والدینو توجه نسته، همداغه کوچنیان په غتیدو سره هغه ټوله شیان کوی کوم چې په کوچنیوالی وینی، په خاصه په کور کی پر تلویزیون باندی کوچنیان هر رنګه خبرونه، ډرامې او فلمونه ګوری، پر موبایل هم دا ټوله شیان او نور غلیظ مواد موجود دی کوم چې تقریباً د هر ځوان سره سته. د شر د دې سیلاب مخته د کور په ماحول کی هیڅ پابندی نه وی، مور و پلار هم د کوچنیانو مخته دا شوق پوره کوی. داغه ماحول په کراره کراره داسی خلک تیاروی کوم چې موږ وروسته د غله، ډاکو، قاتل، راهزن او جنسی وحشی په شکل کی وینو. د دې حقیقت څه انکار نسی کیدای چې د فحاشی، عریانی او بې حیایي په اخلاقی خرابوالی کی د پرنټ او الکټرانک میډیا هم غټه برخه ده، دغه میډیا د ملک د اکثره خلکو د ژوند طرز، احساسات و خیالات او دینی و تهذیبی ارزښتونه ډیر په خاطر کی نه راوړی، د دې برعکس غربی تغیرات، د هغه ځای خیالات او کلتور ته ډیر

زيات اهميت ورکوی، زمونږ ميډيا عموماً د معاشرې د خوبونو پر ځای فقط د فيشن، عرياني او بې حيايي بد اخلاقه منظرې ښکاره کوی.(ماهنامه البلاغ، دسمبر ۲۰۲۰)

**د بې حيايي په خاطر د رزق څه محرومي:** حديث شريف دی

**((إِنَّ الرَّجُلَ لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بِالذَّنْبِ يُصِيبُهُ))**

**(مشکوٰة:(قديمی)؛ص۴۱۹)**

انسان د خپلو ګناوو په سبب د رزق څه محرومه سی. شپه او ورځ د بې حيايي په خاطر نن سبا څونه خلک د رزق دپاره په تکليف دی. هره ورځ ګراني پر زياتيدو ده لاکن مونږ دغه خرافات پرېښوولو ته تيار نه یو. پر ځای د دې چې توبه کښل سوی وای نور بې حيايي ډيره سوه. د موبايل پر اکثره دوکانو باندی فلمونه او غزلی د اچولو دپاره کمپيوټران پراته وی، ځنی فحش سيډيانی خرڅوی يا فحش ويب پاڼی جوړوی، پر هغه پام کوی او پر هغه پيسې ګټی، کاشکې دغه خلک د مفتی صاحبانو څه پوښتنه وکړی چې دغه پيسه روا ده که يا ؟

**د حيا حق څه شی دی:** زمونږ شيخ صاحب وفرمايل کوم ظالم چې خپل نفس دښمن ته خوند ورکړی او خپل ربّ خوابدی کړی تاسی خپله فيصله وکړی چې آيا دغه بنده شريف دی کوم چې ښځو ته، د يو چا خور يا لور ته يا يو ښايسته هلک ته په کتلو سره حرام خوند حاصل کړی؟ په ده کی څونه شرم و حيا سته، څونه انسانيت سته او څونه شرافت سته؟ په داغه خاطر عظيم محدث ملّا علی قاری رحمة الله عليه عجبه خبره وفرمايل چې د حيا او شرم حقيقت څه شی دی؟ څنګه معلوم سی چې دغه بنده شرم لری او بې حيا بې غيرته نه دی، نو فرمايي

**((فَإِنَّ حَقِيقَةَ الْحَيَاءِ أَنَّ مَوْلَاكَ لَا يَرَاكَ حَيْثُ نَهَاكَ))**

**(مرقاة المفاتيح:(رشيديه)؛ کتاب الايمان؛ ج۱ص۱۳۵)**

د حيا حقيقت دغه دی چې الله خپل بنده په خپله نافرمانی کی ونه وينی بس دغه بنده د حيا خاوند دی. حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل د الله څه داسی حيا وکړی څنګه چې د هغه څه بايد حيا وسی، اوريدونکو وويل چې الحمدلله مونږ د الله څه حيا کوو، پيغمبر صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل داسی نه (يعنی د حيا مفهوم دونه محدود نه دی څونه چې تاسی فکر کوی) بلکې د الله څه د حيا کولو حق دا

دی چې د سر او په سر کې چې څونه افکار او خیالونه دی د هغه ټولو حفاظت وکړی او د نس او د هر شي چې هغه ډک دی د هغه ټولو حفاظت وکړی(یعنی د غلط خیالاتو څه د دماغ او د حرام او ناروا غذا څه د نس حفاظت وکړی) او مرګ او د مرګ وروسته په قبر چې کوم حالت کیږی هغه په یاد کړی او کوم شخص چې آخرت خپل مقصد جوړ کړی هغه به د دنیا د عیش او عشرت څه لاس واخلی او د دې څو شپو ژوند د عیش په مقابل کې به مخته راتلونکی ژوند کامیابی د ځان دپاره خوښ او اختیار کړی بس چا چې دغه وکړه پوه سه چې د الله تعالیٰ څه د حیا کولو حق هغه ادا کړی(معارف الحدیث ج۲ص۱۸۶)

## ⑧باب: سمارټ فون ......... د ښځو دپاره غټه فتنه

په حدیث شریف کې راغلی دی

**((اَلنِّسَآءُ حَبَائِلُ الشَّیْطَانِ))**

**(مشکوٰۃ: (قدیمی)، ص۴۴۴)**

ښځې د شیطان جال دی(د هغو په ذریعه شیطان د نارینه وو ښکار کوی) په دغه خاطر ښځې ته د شیطان جال کیدو څه د ځان ساتلو دپاره ضروری دی چې دا په اسلام کې د ورکړی عفت نظام په پوره ډول اختیار کړی په خاص توګه د ښځو دپاره چې د پردې کوم احکام راغلی دی هغه دی مکمله عملی کړی، ځان دی د فیسبک، یوټیوب غوندی خرافاتو څه وساتي.

**په ښځو کې د بې مهاره آزادی غټ سبب:** نن سبا ښځې هم د غټ موبایل په غلط استعمال اخته دی، حال دا چې هغه غټ موبایل ته هیڅ ضرورت هم نه لری او د دې څه ډیر تاوانونه پیښیږی، په ګناوو اخته کیږی لاکن پریښوولو ته یې تیاری نه دی، حال دا چې ښکاره خبره ده چې د دې موبایل او میډیا څه بې مهاره آزادی حاصلیږی. سل کاله تر مخه حضرت تهانوی رحمۃ اللہ علیہ فرمایلی وه چې مخلوط تعلیم چاته آزادی ورکوی، آزادی غوښتل ور زده کوی. نن داغه حالات دی د ښځو د طرفه مطالبه کیږی چې زه هر چیری ولاړه سم څوک دی پوښتنی والا نه وی، هر څه چې وکړم د هغه حساب کتاب څوک راڅه وانه خلی، غیر شرعی مجلسو ته ولاړه سم چې وغواړم هغه وکړم، حتی چې طلاق ورکول دی هم زما په لاس کې وی، دا ټوله شیان چیری زده کوی؟ سبب

يې داغه دی چې نن په چارديوالی کی د اوسيدو سربېره بې پردګی کيږی، مور و پلار اولادو ته په مخلوط تعليمی ادارو کی تعليم ورکوی، لور د شپې ناوخته د صنف د هلک سره کور ته را روانه وی او که يو ځای کار کوی نو د افسر سره را روانه وی.

**ډيری نيکی ښځی د موبايل په سبب برباد سوې:** شيخ که د موبايل څه منع کړی نو هغه ته نصيحت کيږی چې موبايل ولی منع کوې؟ ګران موبايل ولی وانه خلو؟ شيخ په دغه خاطر منع کوی چې هغه ته شپه او ورځ د موبايل او انټرنيټ د بربادی خبری راځی، څونه نيکی ښځی او انجونی موبايل په اخيستلو سره برباد سوې، لهٰذا يو څوک بايد د شيخ مشر نسی چې ولی منع کوې؟ داسی خلګ بايد د شيخ سره تعلق هم ونه ساتی کوم چې د شيخ هم مشران جوړ سوی دی. کوم شيخ چې په هر بيان کی وايي چې حلال نعمت بنه استعمال کړی نو آيا هغه به حلال منع کړی؟ خلګ وايي چې د انټرنيټ په سبب تليفون ارزانه کيږی په دغه خاطر زموږ غټ موبايل پکار دی، دغه راته وواياست چې انټرنيټ څه وخت راغلی؟ تر لس کاله زيات زړه خبره نه ده، څنګه چې تر مخه تليفون ګران وو نو هغه وخت مو څه کول؟ مختصره خبره مو کول بس خيريت به مو معلوم کړی، هغه اوس هم وکړی.

**يو روا شی چې د ګناوو سبب جوړ سی نو شيخ څه حکم وکړی؟** آيا د ليپ ټاپ کمپيوټر استعمال روا نه دی؟ لاکن د داغه ليپ ټاپ کمپيوټر په باره کی موږ ته خطونه راغله چې زه هره ورځ توبه کاږم او هره ورځ په ګناه اخته سم، نو آيا زه ورته ووايم چې هيڅ خبره نه ده ليپ ټاپ کمپيوټر کاروه. که په يو فاکولته کی مخلوط تعليم دی او يو چا شيخ ته ليکلی دی چې زه به په زنا اخته سم، نو آيا زه ورته ووايم چې فاکولته وايه نَعُوذبالله زما يې د بلا په زنا اخته سه. د خپل شيخ حضرت مولانا شاه حکيم محمد اختر صاحب رحمة الله عليه نصيحت درته کوم چې تر کوم ځايه چې د شرعی مسئلې تعلق دی نو پاکه خبره ده چې فقط او فقط مفتی صاحبان چې څه راته وواېي موږ او تاسی به پر هغه باندی عمل کوو، رشتيا خبره مفتی صاحب ته وکړی چې زموږ د مخلوط تعليم په ماحول کی دغه حال دی. دا څنګه بد اخلاقی ده چې خپله په ګناوو کی غرق دی او څوک چې تا د دې اور څه د راګرځولو فکر کوی هم هغه ته ويل کيږی چې ولی مو منع کوې.
ولاړسی بيا بل ځای ته ولاړ سی موږ خو نه ياست راغوښتی ـــ

**جائے جسے مجذوب نہ زاہد نظر آئے**
**بھائے نہ جسے رند وہ پھر کیوں اِدھر آئے**
**فرزانہ جسے رہنا ہو جائے وہ کہیں اور**
**دیوانہ جسے بننا ہو وہ بس اِدھر آئے**
**سو بار بگڑنا جسے منظور ہو اپنا**
**وہ آئے اِدھر اور بچشم و بسر آئے**

**ترجمه:** څوک چې نه مجذوب وینی نه زاهد، د چا چې زما سره نه لګیږی هغه بیا ولی دلته راځی، عقلمند چې څوک ځان ساتل غواړی هغه دی بل ځای ته ولاړ سی، څوک چې ځان عاشق کول غواړی بس هغه دی دلته راسی، سل واری که څوک خپله اصلاح غواړی، هغه دی راسی پر سر او سترګو دی راسی

**د سمارټ فون خواهش:** که د خپل نفس خبره مني، د الله او د هغه د رسول خبره نه مني او کوم شیخ چې د شریعت خبره دربنووی، تاته د الله دپاره لار ښوونه کوی لاکن ستا د ګناوو د عادت په سبب سر نه خلاصیږی، دا خو همداغسی دی لکه یو کوچنی چې په ژړا د پلار سره کور ته رانوتی نو ښځی یې پوښتنه ځنی وکړه چې زما سرداره دا ولی ژاړی؟ ورته وې ویل چې زه بازار ته تللی وم ده هلته زهر د رانیولو ضد کوی، د پنځو روپو په بوتل کی زهر وه، ما دته ویل چې د پنځو نه د لسو روپو جوس وچیښه، ده نه منل نو ما یوه چپلاخه ورکړه، ښځی یې ورته وویل یوه به دی زما د خوا هم وهلای. همدا رنګه شیخ منع کوی، سر درخلاصوی چې الله تعالیٰ او رسول الله ﷺ د ګناه څخه منع کړی یو، دا ګناه زهر ده، مور هغه جوس بولو، اولاد د موبایل دپاره ضد کوی نو مور دړهغه ضد وریوره کړو لاکن که لموځ ونه کړی نو د هغه فکر نه کوو. یوه ښځه ډیره تقواداره ده، یوواری یې د خاوند موبایل استعمالوی یو سویچ ځنی ووهل سو نابوبره د نامحرم عکس مخته ورته راغلی په دغه سبب یې ډوډی نه ده خوړلې یو ساعت یې ژړل چې زما نظر پر عکس باندی ځنګه ومښتی؟ په داغه خاطر درته وایم چې احتیاط وکړی، دغه موبایل، انټرنیټ او داسی نور خطرناکه شیان دی. زموږ شیخ صاحب به په وارو وارو فرمایل چې ښځو ښکړی مات کړه یعنی ګناوی یې پریښوولې او تر نارینه وو مخته سوې او موږ نارینه وو ښکړی په لاس دی یعنی ګناوی نه پریږدو.

**د موبایل په خاطر د شیخ څه بدګمانی:** یوې ښځې په اصلاحی خط کې پوښتنه راځه وکړه چې یوې بلی ښځې ته خو تا د موبایل اجازه ورکړه او زه دی منع کړم، بیا یې څو ځایه په خپلو دوستانو کې زما شکایت هم وکړی چې وګوری! شیخ زه د موبایل څه منع کړم او فلانکۍ ته یې اجازه ورکړه، دا هم پر شیخ باندی اعتراض او بدګمانی ده او د بدګمانی سره د الله په لار کې تګ نسی کیدای، حقیقت دا وو کومی ښځې ته چې ما اجازه ورکړه د خپل خاوند سره د هغې اختلافات ډیر سوی وه د یوه شرعی عذر په خاطر په دغه شرط می اجازه ورکړه چې هره هفته به په اصلاحی خط کې خبر راکوې، د شیخ د طرفه د موبایل نه استعمالولو پر هدایت باندی ستا دغه جوش فقط د نفس خواهش د نه پوره کیدو په سبب دی، د نفس د داغه جوش په خاطر ښځه د خپل خاوند سره، اولاد د مور و پلار سره شخړه وکړی.

**بې شماره حلال نعمتونه پریښوول د حرام خواهش کول:** د قرآن او حدیث په خبره یې سر نه خلاصیږی بلکې چپه دغه فکر کوی چې شیخ زموږ دښمن دی ځکه چې موږ د ګران موبایل څه منع کوی، د لیپ ټاپ کمپیوټر څه هم منع کوی، د ټیبلیټ موبایل څه هم راګرځوی. ښه! کوم شیان چې حلال دی اول هغه خو راته شمار کړی، د الله کوم نعمتونه چې پر موږ باندی دی اول هغه خو شمار کړی. کوم روا شی چې د ګناوو سبب جوړ سی نو څوک به د هغه اجازه ورکړی؟ زه د ټولو ښځو دپاره نه وایم لاکن په ځنی قصو زه خبر سولم څو ښځې طلاق سوې لاکن بیا هم حرام خوندونه پریښوولو ته تیاری نه دی.

په داسی قصو ډیر غمجن سم چې خاوند د شپې راپورته سو نو خبر سو چې ښځه می په پټه پر موبایل د یو چا سره خبری کوی، موبایل چې یې ځنی واخیستی نو د نامحرم سره یې خبری کولې، همدا رنګه میرمن بیا خپل خاوند د بلی ښځې سره په خبرو کې ولیدی. حلال نعمت موجود دی، شریعت چې د کوم شیانو اجازه کړې ده هغه کولای سی لاکن ښکاره خبره ده چې نفس او شیطان خو په حرام شی کې خوند راښکاره کوی، هغه غواړی چې الله زموږ څه راضی نسی. اول چې موبایلونه نه وه نو دغه حرام تعلقات به د خط په ذریعه کیده، اوس دغه ایجادونه راغله نو شیطان هم د دې لاری خطاباسی. اکثره ښځې خو د شیخ څه پوښتنه هم نه کوی چې غټ موبایل واخلم که یا؟ ورمعلوم دی چې شیخ به مو منع کړی، پوښتنه به راځه وکړی چې ته غټ موبایل ته

څه ضرورت لرې؟ کومې انجونې چې دینداری دی، عالمانی، حافظانی، قاریانی دی د هغو د غټ موبایل سره څه کار؟

**د خدای روی دی خپلو ښځو ته غټ موبایل هیڅکله مه ورکوی:** ځونه قصې سته چې پر درې بجې د شپې ښځه کیم کوی، فلمونه ګوری یا د شریکی سره په بل ملک کی خبری کوی، یا د نامحرم سره خبری کوی، شخړه یې سوه او خبره یې سره اوږده سوه طلاقه یې کړه. اوس مور دغه قصو ته وګورو او که ستاسی خبرو ته وګورو، د خدای روی دی مور او زمور ښځی دی د دې مصیبت څه راووځی، ورځ په ورځ زمور لونی د موبایل په دې مصیبت نوځی، ځونه واده سوی ښځو د موبایل په خاطر د پردی نارینه وو په قصه کی خپل کوچنی کوچنی د شیدو کوچنیان پریښوول د هغو سره ولاړې، خپل او د خاندان عزت یې په خاورو ګډ کړی او د خپلو اولادو آینده یې هم وربرباد کړی.

**د محبت د واده خراب انجام:** د داغه موبایل په خاطر یوه انجلۍ په حرام عشق اخته سوه او د کوره ولاړه، په مور و پلار کی پر یوه د زړه حمله راغله او د بل ملا کړوپه سوه، د وخت تر مخه بوډا سوه، هغه ظالم هلک د نکاح په بهانه درې میاشتی عیاشی وکړی بیا یې په پوری وهلو د کوره وایسته، زما یو ځای بیان کیدی دغه انجلۍ هم هلته نژدې یو ځای اوسیدله، هغې مسجد ته د رانوتلو کوښښ وکړی نو د مسجد چوکیدار راوګرځول، هغې چغې شروع کړې چې زه چیری ولاړه سم؟ خلګ راټول سوه ورته وې ویل چې د خپل مور و پلار کره ولی نه ځې؟ وې ویل چې هغه می کور ته نه پریږدی وایې چې ټوټه ټوټه به دی کړو تا مور په معاشره کی بې عزته کړو، هلته خاوند د کوره وایستم(حال دا چې مور و پلار باید د علماوو څه په پوښتنی سره لور بخښلې وای کور ته یې راوستلې وای) د مسجد چوکیدار هم وارخطا سو چې دا خو نه ځی، بیا دغه انجلۍ د امام صاحب کور ته ورغله، هغه ملا صاحب په ځغستا ماته راغلی چې خلګ به زما په باره کی غلط خیال وکړی، بیا یو څوک ورغلی هغه یې پوه کړه بیا ولاړه، چیری ولاړه هیڅ معلوم نه دی، د داسی ښځو دپاره د شیلټر هاؤس په نامه ځایونه خلاص دی چیری چې بې دینه موسسې د غیرت جنازه د ایستلو طریقې ورزده کوی، د دغه موسسو همداسی بې کسه انجونی پکار دی، بیا په کراره کراره د هغو حیا ورختمه کړی، فحش لباس په واغوندی او د فلمو انجونی ځنی جوړی کړی چې پوره قوم په ګناوو اخته کړی.

**په غټ تعداد انجونی زهیرول کیږی:** څه درته ووایم! څونه انجونی د موبایل په خاطر زهیرول کیږی. غلط خلک د هغو پر نمبر باندی په زنګ ور وهلو سره اول هغه په عذابوی، بیا په پټه د هغو عکس واخلی، یو څو ناپوه انجونی په حرام عشق کی خپله خپل عکسونه ورواستوی، بیا غلط کمپیوټری ماهران مخ د هغو پریږدی لاندی د یوې فحشا عکس ورسره ومښلوی او زهیروی یې چې انټرنیټ ته به یې ورکړو، په دغه سبب د ډیرو ښځو کور برباد سو، خاوند طلاق ورکړی، ځنی ښځو ځان مړ کړی یا ملک یې پریښووی.

**د موبایل په خاطر د خاوند په حقوق کی لاپرواهی:** هره ورځ قصې اوریدل کیږی چې د خاوند سره یې د موبایل دپاره شخړه وکړه او خوابدې سوه د پلار کره ولاړه یا ډوډۍ یې نه ده پخ کړې، د بد اخلاقی او ناشکری جملې یې وویلې، د خاوند غیبت یې وکړی، حال دا چې په روا خبرو کی د خاوند اطاعت فرض دی کنې ستا روژه، لمونځ هڅ نیکی به قبوله نسی (مشکوٰۃ:(قدیمی) ص۲۸۳ عن جابر رضی اللہ عنہ) په حدیث شریف کی د پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم فرمان دی که ما د خدای ماسوا د یو چا دپاره د سجده کولو اجازه کړې وای نو ښځو ته به می حکم کړی وای چې خپل خاوند ته سجده کوی (مشکوٰۃ:(قدیمی)ص۲۸۱ عن ابی هریرة رضی اللہ عنہ) لاکن اوس ښځی د خاوند دغه قدر کوی چې د هغه سره ژبه چلوی او مقابله ورسره کوی. یوواری پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم ښځو ته نصیحت کوی وې فرمایل چې د دوږخ په آبادی کی اکثره حصه د ښځو ده، پوښتنه ځنی وسوه د دې سبب څه شی دی؟ ورته وې فرمایل د دوو سببو څه، اول سبب لعن او طعن ډیر کوی، دوهم سبب د خاوند ناشکری ډیره کوی (مشکوٰۃ:(قدیمی)ص۱۳ عن ابی سعید الخدری رضی اللہ عنہ) کومی ښځی چې مړونه په عذابوی نو نالایق مړونه نورو ښځو ته متوجه سی او کوم چې لایق مړونه وی د هغو زړه زخمی وی، د ربانی علماوو په مشوره بیچارګان صبر کوی.

د دې موبایل دپاره د خاوند څه د خوابدتیا په درځنو قصې دی، ورته وایې چې فلانکۍ سړی د خپلی ښځی سره ډیر محبت کوی د پنځوسو زرو موبایل یې ور رانیولی دی او ته ماته د دوو زرو مبایل هم نه را رانیسې. آیا دا رنګه د خاوند سره د شخړی اجازه سته؟ که د خاوند په روا خبرو کی یې اطاعت ونه کړی نو به جنت ته ولاړی نسی. په خپلو کورو کی هم مور، خور او لونړ ته ووایاست چې پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم فرمایلی دی که خاوند خپله ښځه راوغوښته او هغه نه راله او خاوند په قهر کی پریوتی نو تر سهاره ملایکی پر

هغه ښځه باندی لعنت کوی (مشکوٰۃ:(قدیمی)ص۲۸۰عن ابی ھریرۃ رضی اللہ عنہ). نن د ښځو څه حال دی؟ د خاوند سره شخړه وکړی هغه خوابدی کړی دا بیده سی، سهار لمونځ کوی لاکن دا خبره نه ده چی پر ما باندی ټوله شپه لعنت اوریدی او د دې هیڅ نیکی قبوله نه ده او که دا په خبره هم وی نو په قهر کی یې هیڅ په یاد نه وی. په بهشتی زیور کتاب کی ټوله لیکلی دی لاکن څوک یې وایی؟ د واده وروسته تر مور و پلار او ورور و خور ډیر حق د خاوند دی لاکن نن څوک دغه شیانو ته اهمیت ورکوی، خوشبخته ښځی د خاوند وخته ژبه نه چلوی، هغه خوشحاله ساتی.

**خپلی لوڼی خپله بربادول:** د دې موبایل خرابیانی دونه ډیری سوې چی بعضی ځای د انجلۍ مور و پلار زوم ته ضد کوی چی زموږ لور ته غټ موبایل ور رانیسه یا خپله یې په پټه لور ته ورکړی بیا چی موبایل ځنی ونیول سی نو شخړی کیږی، فقط د موبایل په خاطر څونه شخړی کیږی، کوم چی عقلمند مړونه وی هغه د خپل کور حالاتو ته په کتلو سره خپله ورته ووایی چی زه غټ موبایل نه ورکوم، دا څه ضرورت لری؟ که یو ضروری خبره وه نو په کور کی تلیفون سته یا چی کله خاوند کور ته راسی نو د هغه د موبایل څه دی خبری وکړی، لاکن غټ موبایل، انټرنیټ، یوټیوب، فیسبک، واټس اپ، ټویټر ته څه ضروت دی؟ ساده موبایل واخلی، ساده موبایل هم د دین په کار کی ولګوی، په ښځو باندی پر کنفرانس کال بیانونه واوری. الحمدللہ! هره ورځ څو ښځی پر ساده موبایل باندی په څو سووه ښځو بیانونه اوری او خپله جاری صدقه ډیروی، لاکن څوک چی د ګناوو د خوند عادی وی هغه وایی چی زه دغه ساده موبایل نه غواړم زه خو ګران موبایل غواړم.

**د موبایل د غلط استعمال پر وخت که مرګ راغلی نو؟** څوک چی په هر حال کی مړ سی په هغه حال کی به راپورته سی. حدیث شریف دی

**((يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ عَلٰى مَا مَاتَ عَلَيْهِ))**

**(الصحیح لمسلم:(قدیمی)، کتاب الجنة وصفة نعیمها واهلها، ج۲ص۳۸۷)**

پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم فرمایی سړی چی په هر حال کی مړ سی په هغه حال کی به راپورته سی. لهٰذا که په ګناه کولو او فحش فلمونه په کتلو کی مرګ راغلی نو په څونه بد حالت کی به مرګ وی. د مرګ وروسته ملکرو ته د خبر ورکولو دپاره که موبایل خلاص سی او هلته فحش

فلمونه او عکسونه وی نو څونه د رسوایي خبره ده. په دغه مجلسو کی د غټ موبایل تاوانونه په اوریدلو سره څونه نارینه وو او ښځو پیغام راکړی چی الحمدلله! غټ موبایل مو خرڅ کړی ساده موبایل مو واخیستی، د هغو هیڅ کار نه دی دریدلی. کله چی غټ موبایلونه نه وه راغلی نو آیا دنیا ولاړه وه؟

**موبایل مور د خدای څه لیری کړو:** د دغه شیانو په خاطر مور د حق تعالیٰ څه لیری کیږو، څه وخت به د خدای د قرب پسرلی زمور زړه ته راځی؟ څه وخت به مور خدای خوشحاله کوو؟ کله به پر سنتو باندی په عمل سره ګران نبی ﷺ خوشحاله کوو؟ د سنت څونه دعاوی زمور په یاد دی؟ د موبایل هر شی رامعلوم دی او د سنتو دعاوی مو نه دی په یاد. بس ظاهر مو جوړ سو ږیره لرو، زمور ښځو ته د چادری توفیق وسو، ږیره او چادری ډیر لوی نعمت دی لاکن په تنهایي کی څه حالات دی؟

**د ناول زهر:** د یوې ښځی اصلاحی خط راغلی چی ما موبایل د ناول ډک کړی وو او پټ پټ به می ویل، ما تر اوسه پټ ساتلی وه بیانونه په اوریدلو سره الله توفیق راکړی پرون می ټوله ناول ختم کړه. حضرت مولانا یوسف لدهیانوی شهید رحمة الله علیه په خپل کتاب *"آپ کے مسائل اور ان کا حل"* کی فرمایلی دی چی ناول لیکل، چاپول، خرڅول، ویل ټوله ګناه دی. په هغه کی فحش خبری وی، که فحش نه وی په هغه کی د جاسوسی او تجسس په سبب ټوله شپه بدخوابي ورته کیږی، څه په حاصلیږی؟ بیا د ویلو عادت دونه ډیر سی چی دینی مجلسو ته هم ناول راوړی یو بل ته یې ورکوی، دا یې بله خرابي.

**د ښځی د آواز هم پرده ده:** یو مرض په ښځو کی بل دی هغه دا چی خپل آواز بې ضرورته په نامحرمو اوری، دینداره ښځی هم چادری او دستانې یې کړی وی لاکن په مارکیټ کی، پر سړکانو، مدرسې یا د بیان دپاره په تګ راتګ کی په زوره خبری کوی په زوره خاندی، هیڅ هم د خپل آواز خیال نسته، د آزاد خیال ښځو خبره نه کوم هغه خو پریږدی، هغه خو د نامحرمو سره ناسته ولاړه، مجلسونه او په دوستیو ورسره اخته دی، زه خو د هغو ښځو خبره کوم چی پر ښه لار روانی دی او د اصلاحی خط یا ایمیل په ذریعه اصلاح کوی. د نامحرمو سره د ضرورت په خاطر د خبرو پر وخت هم لازم دی چی ښځه باید خپل آواز نرم نه کړی، په فطری نرمه لهجه کی دی خبری نه کوی بلکې لهجه دی یو څه سخته کړی او مختصره خبره دی وکړی، لکه څنګه چی په احزاب سورت کی د مومنانو مندی کیدو سریره ازواج مطهرات رضی الله عنهن ته هدایت وسو که د یو

نامحرمه سره د خبرې نوبت راسي نو په فطري انداز سره خبرې مه کوی یو وخت یو داسې شخص بیځایه طمع شروع کړی د چا په زړه کی چی مرض وی، خپله خبره بې له بد اخلاقی په بدخونده انداز باید وکړل سی. تر څو چی دغه موبایلونه نه وه نو ښځی به په موټرانو کی چپ ناستی وې، اوس د موټروان ومخته او په مارکیټو کی روانی وی په موبایل کی خبری کوی، فقط چادری کفایت نه کوی د نامحرمو څخه د آواز هم احتیاط وکړی، خپل فطری آواز مه ښکاره کوی، پر واټس اپ باندی ښځی په خپل آواز نورو ښځو ته پیغامونه استوی کوم چی هلته نامحرم هم واوری. حضرت مفتی محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه په معارف القرآن کی د نور سورت ۳۱ آیت **وَلَا يَضۡرِبۡنَ بِأَرۡجُلِهِنَّ لِيُعۡلَمَ مَا يُخۡفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ** په تفسیر کی لیکلی دی چی ډیرو فقهاوو فرمایلی دی چی کله د سرو زرو ږغ په نامحرمو اوریدل د دې آیت څخه ناروا ثابت سوه نو خپله د ښځی آواز په بل اوریدل به تر هغه هم زیات سخت او ناروا وی.

**په نفس هیڅ باور نسته:** کوم دینداره انجونی چی د انټرنیټ او ګران موبایل په ذریعه په ګناوو اخته سوې بیا په هغو کی پر چا چی حق تعالیٰ فضل وکړی نو هغو د اصلاح دپاره ماته خط ولیکی بیا زه په دغه خرافاتو خبر سولم، لهٰذا کوم خلک چی شیخ ته ورځی لاکن اصلاح نه په کوی او ورته وایی هم نه چی موږ غټ موبایل لرو یا موږ په ګناوو اخته یو، فکر کوی که موږ ورته وویل نو شیخ به د موبایل خرڅولو حکم راکړی، نو واوری! موږ د چا سره زور نه کوو، زموږ بزرګانو سختی نه ده راښوولې، که موږ سختی وکړو نو څوک چی ګناه کول غواړی هغه به یې په کور کی په پټه وکړی، بیانو ته به راتګ هم پریږدی او خپل تاوان به وکړی، په دغه خاطر بس خپل په نیت نصیحت کوم، دا د هغه خلکو حالات دی کوم چی د نیک جوړیدو په فکر کی دی او بیانو ته راځی د اصلاح دپاره خط لیکی، لاکن کله کله په نفس باور وکړی، حال دا چی اولیاوو هیڅکله پر نفس باور نه دی کړی ے

***بھروسہ کچھ نہیں اس نفسِ امارہ کا اے زاہد***
***فرشتہ بھی یہ ہو جائے تو اس سے بدگماں رہنا***

**ترجمه**: باور هیڅ نسته پر نفس باندی اې زاهده، د ملایکی په شان چی سی نو به هم ځنی بدګمانه یې

**آیا ته په ما باور نه لرې:** یا په دغه الفاظو سره د شیطان په دوکه کی راسو چی آیا ته په ما باور نه لرې؟ دغه الفاظ کله لور وايي، کله د خپلی ښځی یا خور څه هم اوریدل کیږی یعنی غټ موبایل د رانیولو ضد په دغه الفاظو سره کوی، تاسی هغه پوه کړی چی ګوره! حضرت یوسف علیه الصلوٰة والسلام څه فرمایي **اِنَّ النَّفۡسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوۡٓءِ** بیشکه نفس خو هم بده خبره ښوونکی دی. او زموږ ګران نبی صلی الله علیه وسلم دغه دعا کوی **وَلَا تَکِلۡنِیۡ اِلٰی نَفۡسِیۡ طَرۡفَةَ عَیۡنٍ** (**کنزالعمال:(دارالکتب العلمیة)، ج۲ص۶۲، رقم الحدیث۳۴۹۵**) نبی صلی الله علیه وسلم د انبیاوو سردار د چا په سبب چی جنت او کاینات جوړ سوی دی هغه فرمایي یاالله! د سترګو د رپ په اندازه هم ما خپل نفس ته په لاس مه ورکوه. زموږ سر په راخلاصولو دپاره دغه دعا کوی چی زما اُمّت پر نفس باندی یو وخت باور ونه کړی کنې ټولو ته معلوم دی چی انبیاء کرام خو معصوم وی، لهٰذا که لور د موبایل ضد درته وکړی نو ورته ووایه چی لوری! په دې کی د باور څه خبره ده؟ اصل خبره د خدای د اتباع ده، موبایل نه درکوم ځکه چی څونه لونی برباد سوی دی، زه خپل اولاد په خپلو لاسو څنګه اور ته وریوری وهم. کله داسی هم وسوه چی انجلی خپلی شریکی ته په موبایل کی پیغام واستوی، د هغه خوا د شریکی ورور د شریکی په شکل کی پیغامونه رالیږل، یا د پیغام وروسته فقط یو زنګ به یې ورته را وواهه، یا په تلیفون کی په خبرو خبرو سره دواړه په عشق کی لیونیان سوه او انجلی د مور و پلار کور پریښووی او د هلک سره وتښتیده. هم په تنهایي کی خو ګناه کیږی، لور په خونه کی په پټه کله یو سویچ وهی کله بل سویچ وهی، په کراره کراره ګناوو ته ولاړه سی، اول غزلی، یا د خندا ویډیو، د هغه وروسته فلمونه، د هغه وروسته غلاظت هم غلاظت دی. دغه موبایل څه شی دی تر سرطان بدتره دی او موږ دوږخ ته وریوری وهی.

**دینی مجلسو ته د راتلونکو انجونو دپاره هدایت:** یوواری ماته شکایت راغلی چی زموږ د ښځو په تربیتی مرکز کی چیری چی د ښځو دپاره په پرده کی د بیان اوریدلو انتظام کیږی یو څو انجونو پر موبایل باندی نورو انجونو ته عکسونه ورښکاره کړه، یا خبر سولم چی دغه انجونی یوازی راځی یوه مشره ښځه ورسره نه وی او نه یې یو محرم را رسوی، د نن سبا حالات څنګه دی او دغه انجونو ته یې موبایل ورکړی دی او هغه داسی مبارک ځای چیری چی نوری نیکانی انجونی بیان اوری دوی عکسونه ګوری، ګیم کوی، کارټون ګوری، د هغه ځای انتظام کتونکو ښځو چی د دغه انجونو موبایل

وکتی نو په هغه کی د نامحرمو عکسونه وه او داسی خراب پیغامونه وه چی انتظام کتونکو ښځو نسواړ ویلای، داسی انجونو ته یوازی د راتګ اجازه نسته. اې زما لوڼو! خپل عزت خوندی کړی، ستاسی په بې عزتیا به ستاسی د مور و پلار سر د ټولو ومخته کښنته سی، د داسی مبارک ځای په نامه مور و پلار ته دوکه ورکوی دلته راځی او داسی کارونه کوی.

**د بد همنشین څه د ځان ساتلو نصیحت:** کومی انجونی چی بیانو ته په پابندی سره راځی په هغو څه وسوه چی هغه د داسی نالایقه انجونو سره په ناسته کی داسی عکسونه ګوری، ستاسی مور و پلار خو نیکان دی، تاسی ته حق تعالیٰ نیک ماحول درکړی دی، ستاسی په کور کی لیپ ټاپ کمپیوټر لا نسته، د ځنی ښځو څه خو ساده موبایل هم نسته، ستاسی مور و پلار شپه او ورځ پر تاسی باندی زیار کاږی او تاسی د داسی نالایقه انجونو سره کښنینی، آیا تاسی په څو واری دغه حدیث پاک نه دی اوریدلی

**((اَلْمَرْءُ عَلٰی دِيْنِ خَلِيْلِهٖ فَلْيَنْظُرْ اَحَدُكُمْ مَّنْ يُّخَالِلُ))**

**(مشکوٰۃ المصابیح:(قدیمی)؛ باب الحب فی اللہ ومن اللہ ؛ ص۴۲۷)**

هر سړی د خپل ټینګ انډیوال پر دین باندی خپله واوړی وګوره ستا ټینګ انډیوال څوک دی؟ ټینګه شریکه دی څوک ده؟ نورو ته په کتلو سره د دوږخ پر لار مه ځه، داسی ښه ماحول مه خرابوه، پر خپل ځان او پر خپل مور و پلار باندی رحم وکه. که په آینده کی هر څوک تا د موبایل د غلاظت وخوا ته راغب کړی یا یې درښکاره کړی نو دستی هلته موجود انتظام کتونکو ښځو ته خبر ورکړی، دلته پر داسی شیانو باندی مکمله پابندی ده.

**په جهیز کی لور ته غټ موبایل یا تلویزیون ورکول:** د کور د مشرانو هم غلطی ده، مور و پلار، اکا، ماما او داسی نور کوم چی د دین فکر نه لری خپلی لور، وریرې، خورزې ته په واده کی غټ موبایل ورکړی یا خاوند د واده وروسته خپلی ښځی ته غټ موبایل تحفه ورکړی، څنګه چی د جاری صدقې ثواب د مرګ وروسته هم رسیږی همدا رنګه جاری ګناه هم رسیږی. زموږ په خاطر چی کومه ګناه شروع سی نو زموږ د نیوکی خطر سته، لکه یو چا چی د خپلو اولادو دپاره تلویزیون یا نور د ګناوو آلات رانیول یا لور ته یې په جهیز کی تلویزیون ورکړی اوس نو پر هغه چی هر څونه

ګناه وکتل سی ورکولو والا ته به هم د دې وبال وی. د خارج خپلوان هم چې کله یو تحفه را استوی نو عموماً غټ موبایل، ټیبلیټ یا لیپ ټاپ کمپیوټر را واستوی چې د هغه په سبب ګناوی شروع سی.

**د موبایل په خاطر د کور په کارو کی لاپرواهی:** د دې ماسوا په ډیرو کورو کی دغه تکلیف سته چې ښځه ټوله شپه موبایل ته تیروی او ټوله ورځ بیده وی، د کور هیڅ کار د هغې نه دی زده، نه خیاطی نه پخول، په دې خرافاتو کی د مصروفه کیدو په خاطر دې ته د ډوډۍ پخولو فرصت نه وی، د بازار څه خواړه راوغوښتل سی کوم چې طبیبان منع کوی چې د بازار خواړه کله کله خو دی وخوړل سی لاکن عادت دی نه جوړیږی، اشپزخانې ته ورتلل خدمت کول دوی ته بد معلومیږی، هره ورځ پر دغه خبره شخړی کیږی چې زه دی ولی راویښه کړم؟ بس غواړی چې خاوند ما پر خپل حال پریږدی، ټوله شپه موبایل ته ناسته وی ټوله ورځ بیده وی. بیا ډیره د شرم خبره ده لاکن مجبوراً وایم چې د واده وروسته غواړی چې پنځه شپږ کاله دی اولاد نه وی، بې له شرعی عذر څه اولاد راکړځول څونه غټه ګناه ده. مور باید فکر وکړو نارینه وی که ښځې په تنهایی کی پر موبایل باندی دونه ساعتونه تیروی نو پر کوی څه؟ په دې دوران کی به څنګه د ګناه څه ځان ساتی زما خو سر نه په خلاصیږی. په دغه خاطر دونه تاوانونه د اوریدلو وروسته هم که څوک غټ موبایل خرڅ نه کړی او ساده موبایل وانه خلی نو د **اِنَّالِلّٰہِ وَاِنَّآاِلَیۡہِ رٰجِعُوۡنَ** ماسوا بل الفاظ نسته، الله دی مور ټولو ته هدایت راکړی.

**تر خاوند موبایل ډیر محبوب سو:** څو ورځې ترمخه خبر سولم چې خاوند خپلی ښځې ته شپه او ورځ پر موبایل باندی د اخته کیدو په خاطر وویل چې موبایل دی خرڅ که، نو ښځه ورته وایې چې زه تا پریښنولای سم موبایل نسم پریښنولای. د موبایل نشه تر چرسو او هیروینو هم غټه نشه سوې ده. د واده وروسته خو تر مور و پلار هم بالا د خاوند حق دی او د مور و پلار او خاوند روا خبری منل فرض دی. اوس خاوند ورته وایې چې ماته وخت راکه او ښځه په فلمو اخته ده.

**د غټ موبایل څه ځان خلاص کړی:** کوم چې نیکانی ښځې دی، د اصلاحی خط په ذریعه د هغو په حالاتو خبریږم چې په تقوا سره اوسیږی، داسی ښځې په خپل اصلاحی خط کی راته لیکی چې ما د شیخ په اجازه د خاوند وړخته انټرنیټ والا موبایل کارول شروع کړی وو لاکن اوس د پخولو طریقې او د ټوکرانو د ډیزایو په تلاښ کی زما

ډیر وخت بربادیږی زه باید څه وکړم؟ ما ورته ولیکل د غټ موبایل څه ځان خلاص که هیڅ ضرورت نسته، بیا یې په بل خط کی حال راکړی چې ما ختم کړی، ماشاءالله! دوی د شیخ څه پوښتنه ونه کړه چې روا کار ولی منع کوې؟ که د شیخ اطاعت په روا خبرو کی نه کوې نو هیڅ نه دی درته حاصل. کومو ښځو ته چې د اصلاح فکر ورولویدی هغه الله ته ژاړی چې زموږ دغه عادت ختم سی. د خدای په فضل سره څو ښځو ګران موبایل خرڅ کړی ساده موبایل یې رانیوی.

## ⑨باب:سمارټ فون .......... د ګیم او کارټون تاوانونه

**کارټون کتل ناروا او حرام دی:** که چې څوک په خط کی زما څه پوښتنه وکړی چې موږ ګیم کولای سو یا کارټون کتلای سو؟ نو زه د هغو څه پوښتنه کوم چې تاسی څه شی جوړیدل غواړی؟ د هغو جواب راسی چې موږ د خدای دوستان جوړیدل غواړو، آیا په دې حالاتو کی زموږ کوچنیان د خدای دوستان کیدای سی؟ آیا ترمخه چې کوم کوچنیانو پر دین باندی عمل کوی هغه په دې شیانو اخته کیده؟ بیا زه د هغو څه پوښتنه کوم چې تاسی د خدای یو دوست په ګیم کولو کی لیدلی دی؟ آیا یو وخت مو لیدلی دی چې مریدان د شیخ په انتظار وی او شیخ ورته ووایی چې ما اوس شل زره نمرې پوره کولو ته پریږدی بیا مجلس کیږی. د کارټون په باره کی خو د مفتی صاحبانو د طرفه څه د حرام فتوا ده. د دارالعلوم دیوبند هند فتوا زما څه موجود ده لاکن بیا هم ځنی خلک خپلو اولادو ته وایی چې زویه! کارټون ګوره ما مه په عذابوه.

**د ګیم لږ غوندی ګنجایش ورکولو تاوان:** یو دوست چې عالم هم دی هغه خپلو اولادو ته شل دقیقې د ګیم کولو اجازه ورکړه، ما هغه پوه کړی چې په شلو دقیقو کی ګیم څوک پریږدی؟ ستا څلور کوچنیان دی، د اول کوچنی شل دقیقې چې شروع سی نو باقی درې کوچنیان به هم هلته ورته ناست وی، د ګیم کولو په دوران کی به مور په وارو وارو ږغونه ورکوی چې زویه! ډوډۍ وخوره ناوخته سو، داسی وخت کوچنیان ډوډۍ کله خوری؟ اوس د یوه څلور زره نمرې سوی دی او د اول کوچنی اته زره نمرې وې تر هغه ځان بالا کوی، بیا آیا په شلو دقیقو کی به هغه یو ګیم وکړی؟ بیا د دې وروسته د درو کوچنیانو شل شل دقیقې جمع که نو شپیته دقیقې خو داغه سوې، د لمانځه وخت چې راسی نو لمونځ به هم ونه کړی، مور و پلار که د یو کار ورته ووایی نو آیا کوچنی به د

ګیم کولو په دوران هغه کار وکړي؟ هغه دوست دغه خبري په اوریدلو سره توبه وکښه او وې ویل په دغه حالاتو کی ګیم خو باید ورهم نه کړل سی.

**ټوله شپه ویښ ټوله ورځ بیده:** کوچنیانو ته د مکتبو څه چي کومي رخصتیاني ورکول کیږي د یوه یوه کوچني څه معلومات وکړي نو به معلوم سی چي ټوله شپه ویښ وی ټوله ورځ بیده وی، کله چي د کوچنیانو څه موبایل وی نو آیا هغه به فحش ګیم ونه کړي؟ هم په یوه وخت کی پنځه پنځه سوه ګیمونه وی. د جامعه بنوری ټاؤن څه د ګیمنګ زون په باره کی فتوا هم راغله، زما سره هم سته، په هغه کی داغه خرابیاني لیکلی دی چي په ګیم کولو کی نه د دین فایده سته نه د دنیا، د ګیم کولو په دوران کی د استنجاء تقاضا راګرځول، لمونځونه نه کول، په دماغ کی د ګیم شیان ګرځیده. تر دې ښه دی چي په شرعی لباس کی فټبال وکړي، کرکټ وکړي یا یو بل روا بازی وکړي چي په هغه کی د بدن ورزش هم وی لاکن د دې خرافاتو هیڅ فایده نسته.

**بې عکسه کارټون کتل څنګه دی:** ځنی خلګ پوښتنه کوی چي بې عکسه کارټون کتلای سو؟ دا روا خو دی لاکن هغه پر کومو آلاتو باندی کتل کیږي؟ په هغه هم کوچنیان داسی اخته سی چي لمونځ نه کوی. نن به دغه کارټون ګوری سبا به بیا عکسو والا کارټون هم ګوری هغه بیا څنګه راګرځوې؟ کارټون د کتلو دپاره به بیا کور ته کمپیوټر راځی، غټ موبایل به راځی، کله چي ته پر کور نه وې نو بیا به یې څنګه راګرځوې؟ چي وځې هغه خو به په الماری کی نه بندوې. مور او تاسی چي کوچنیان وو نو آیا هغه وخت دغه شیان وه؟ زموږ او تاسی کوچنیوالی د خدای په فضل سره بې له دغه خرافاتو څنګه تیر سو؟

**د کوچني د قرآن د حفظ زیار وربربادول:** داسی مور و پلار کوم چي په دغه زمانه کی هم خپل اولاد د انټرنیټ، کارټون او ګیم څه ساتی لاکن داغه کوچنیان چي کله د انا کور ته ولاړ سی نو هم په یوه ورځ د شپږو ورځو کوښښ برباد کړي، پر داسی کوچنیانو باندی د شیطان ډیره حمله کیږي، په ژړا د پلار تلیفون راسی چي ما د کوچنیانو په تربیت کی دونه زیار وکښی او کله چي موقع راغله نو داسی وسوه، هغه ته وایم چي ناامیده کیږه مه، د نن په زمانه کی د شیطان حملې د هری خوا کیږي، ته خپلوانو ته خبر ورکه چي موږ په دغه شرط درځو کله چي دغه خرافات تاسی بند کړي، زموږ کوچنیانو ته ډیر زیات تاوان رسیږي. په ډیرو کورو کی ښځو خپل مور و پلار ته خبر ورکړي نو

ماشاءالله پر دغه باندی عمل کیږی چی کله لور د مور و پلار کره ورسی نو په هغه شپو کی تلویزیون، ګیم او کارټون هر شی بند ساتی.

**د کارټون او ګیم پر صحت باندی تاوانی اثرات:** حق تعالیٰ خو مور د دې دپاره نه یو پیدا کړی چی موږ په کارټون او ګیم اخته اوسو، تاسی د یهود و نصاریٰ تحقیق وګوری چی د کارټون او ګیم کونکی کوچنیانو د صحت په باره کی یې څه لیکلی دی؟ د هغو د دماغ او بینایي څه حال وی؟ د هغو وزن ولی ډیریږی، ډوډۍ یې ولی نه هضمیږی؟ بدن خو یې غټیږی لاکن کمزوره ولی دی؟ د هغو پر یاددابنت ولی اثر لویږی؟ په ځوانی کی د زړه حمله، دماغ فلج کیده، د هډوکو درد، فشار یې ولی پورته کیږی؟ د دې سبب څه شی دی؟ سبب یې دغه دی چی په فلم، کارټون او ګیم کی جنګونو ته ګوری، د جنګونو او جوشناکه ګیمو په خاطر د وینو جریان ډیر سی، د زړه ضربان تیز سی، پر زړه او دماغ فشار راځی، د ګیم او کارټون په خاطر پر یوه ځای په ناستی سره زموږ د کوچنیانو ورزش نه کیږی او د هغو پر بدنی فعالیت باندی ډیر اثر راځی، اول به کوچنیانو فټبال کاوه، ځغستا به یې کول چی د هغو صحت به ډیر ښه وو، اوس خو کوچنیان او ځوانان ټوله شوماندہ ګلان معلومیږی، ځنی کوچنیان ډوډۍ نه خوری نو مندی په کارټون وربنکاره کولو سره ډوډۍ ورکوی چی په دې هغه د کارټون عادی سی او بې له کارټون کتلو ډوډۍ نه خوری، د دې ماسوا ضدناکه سی، په دغه خاطر هیڅکله د هغو ضد مه ورپوره کوی، څو ورځی به مو په عذاب کړی لاکن بیا به عادت ځنی پاته سی، د کوم شی څه چی شریعت منع کړی دی هم زموږ د فایدې دپاره یې منع کړی دی.

**سمارټ فون یو خطرناکه نشه:** اوس خو ډاکټران هم وایي چی د جدید زمانې شیان غټ موبایل، ټیبلیټ او داسی نورو شیانو زموږ کوچنیان په ځان اخته کړی دی او دا پر دماغ باندی همداسی اثر کوی څنګه چی افیون یا بل نشه لرونکی شی یې کوی، پوهان وایي د نشې عادی کسان د علاج په خاطر چی څنګه د نشې څه لیری ساتل کیږی همدا رنګه د داسی کسانو او کوچنیانو د ژوند څه دی هم غټ موبایل، کمپیوټر او تلویزیون لیری وساتل سی. اوس د ډاکټرانو پر خبر یې پریږدی. حال دا چی زموږ دپاره قرآن او حدیث کفایت کوی چی په هغه کی ټول رابنوول سوی دی چی په ګناوو کی آرام نسته.

**د خوفناکه فلمو او جوشناکه ګیمو تاوانونه:** نن سبا کوچنیان اکثره ویریږي، د شپې ژاړي، کله هغو ته یو شی په نظر ورځي کله بل شی، که فکر وکړو نو سبب یې دغه راوځي چې مور د هغو څه د رحمت او حفاظت ملایکي خپله لیرې کړي دي، په ګیم او کارټون مو اخته کړه، هغو ته مو هر شی عکسو والا راوړي، د بازي شیان مو د بتانو غوندي ورته راوړه، په هغه کې ساز وهل کیږي، پر دغه ټولو شیانو باندي خو سرکښ شیطانان راټولیږي کوم چې کوچنیان په عذابوي. خوفناکه فلمونه، جوشناکه ګیمونه، فحش منظرې، د پیریانو او داسي نوري ډرامې ګوري، تر ډیره ویښ پاته کیدو په خاطر د ډیپریشن مریضان سي، خوفناکه منظرې د کوچنیانو او ښځو دپاره سخت تاواني وي ځکه چې د هغو اعصاب اول هم کمزوره وي خوفناکه منظرې د هغو پر دماغ کښیني.

**د مور و پلار سره د بد اخلاقۍ سبب:** نن سبا د مور و پلار سره بد اخلاقي مخ پر زیاتیدو ده ځکه چې هر څه تیپ سي هم هغه یې نتیجه وي، کله چې مور و پلار د دوکان څه د سودا راوړلو ورته ووایې نو زوی په لاس ښورولو سره ورته ووایي زې نه راوړم، ځکه چې هغه پر ګیم باندي نمرې ډیروي. د کوچنیانو ضد کول، ژړا، لوښي ماتول خو ډیر عام سوي دي، کله چې کوچنیان دغه کارونه کوي نو نادانه مور و پلار ورته وایي چې زویه! لوښي مه ماتوه په ګیم اخته اوسه، اوس نو کوچنی په ګیم کولو کولو سره زمري سي، ورځ په ورځ په ضد او بد اخلاقي کولو سره پوخ سي، د دوی سره چا کومک وکړی؟ هم مور و پلار خو کومک ورسره وکړی، پر دغه بد اخلاقیو باندي مور او پلار غمجن خو سي چې کوچنیان مو بربادیږي لاکن د کور څه دغه خرافات نه باسي ځکه چې دغه شیان بد نه بولي، بیا نو وایي چې یو تعویذ راکه اولاد مو نافرمانه سوي دي، ټوله شپه ویښ وي ټوله ورځ بیده وي، پر مور لاس پورته کوي. زه ورته وایم وروره! تر ټولو غټه وظیفه تر ټولو لوی تعویذ ګناه نه کول دي، کور خو تلویزیون لګیدلی دي، انټرنیټ، د ګیم خرافات او کارټون شروع دي، تعویذونه او وظیفې اثر څنګه پیدا کړي؟ په وظیفو سره رحمت راغلی او په ګناوو سره د خدای غضب یې مخته ودریدی رحمت ته ځای نه ورکوي. بس په داغه کښمکښ کې زموږ ژوند تیریږي. داسي داسي قصې په خط او ایمیل کې رامعلومیږي چې د اوو اتو کالو هلکوانو څه غټ موبایلونه دي، مور و پلار ژاړي چې زموږ زوی په ګناوو اخته سوی دی، په دغه عمر کې فحش فلمونه ګوري مخته به څه کوي، د ده ځواني به څنګه سلامت پاتیږي؟ که موبایل ځنی

اخلو نو وهل راکوی. یو څه وخت ترمخه یو چا راته وویل چې زوی می منع کړی چې د موبایل غلاظتونه مه ګوره نو د نهو کالو هلک پلار په بوټ وویشتی. زما وروره! دته موبایل چا راوړی؟ هم تا خپله خپل اولاد دغه عذاب ته ورپوری وهی، کله چې د اولاد ناروا خبره په منلو سره د حق تعالیٰ نافرمانی وسی نو سبا به داغه اولاد پر مور پهلوانان سی زموږ نافرمانی به کوی. ځان هم د ګناوو څه ساتل دی او اولاد هم ځنی ساتل دی.

**د اولاد هر خواهش د پوره کولو تاوان:** لاکن نن د مور و پلار دا مزاج جوړ سوی دی چې د اولاد هر روا او ناروا خواهش ورپوره کوی، بیا دغه امید هم کوی چې زموږ اولاد نیک سی، د مور و پلار فرمانبرداره سی، دخدای دوست سی، د قرآن حافظ سی، د خاندان خلک جنت ته د بیولو لایق جوړ سی او ورسره د ګیم او کارټون په شکل کی بارود او تیل هم ورکوی چې اور ولګوی. اولاد ته دینی ماحول ورکول ضروری دی. په دغه خاطر کوم مور و پلار چې اولاد د ګناه پر لار لګوی هغه که توبه ونه کاږی نو په آخرت کی د نیوکی خطر سته. دا ډیره غټه ګناه ده چې انسان د کوم خلکو ذمه واره وی د هغو تربیه ونه کړی هغه ضایع یې کړی، دا هم ضایع کول دی چې کوچنیان داغسی پریښوول سی چې د هغو عقاید او اخلاق برباد سی. د اولاد د تربیې دپاره چې کوم شیان ضروری دی هغه باید زده کړل سی. د بزرګانو او مفتی صاحبانو سره صلاح وکړی. په دې کی لاپرواهی کول د قیامت د پوښتنی څه مو نسی خلاصولای.

**اولاد ته د موبایل او کمپیوټر ورکولو تاوان:** ځنی کوچنیان د مور و پلار څه موبایل یا کمپیوټر فقط د کارټون کتلو یا ګیم کولو یا درس دپاره اخلی بیا په پټه په هغه کی فحش فلمونه ګوری، مور و پلار خوشحاله وی چې څه کوچنیان مصروفه دی موږ نه په عذابوی لاکن بلی خوا ته خپل آخرت خرابوی. د ځنی والدینو موږ ته خطونه راځی چې کوچنیان مو ډیر په عذابوی د ګیم او کارټون اجازه راکه، موږ هغه پوه کوو چې صبر وکړی، ښه اخلاق ورسره وساتی، هغو ته محبت ورکړی، شیطان غواړی چې ستاسی کور ته د ګناوو شیان راسی، په کومو کورو کی چې کوچنیان په دغه خرافاتو اخته دی هغه خو د شیطان سره مصروفه دی هغه به والدین څه په عذاب کړی لاکن دا هم وګوری چې د هغو اولادونه د دې شیانو څه زده کوی څه شی؟ څنګه څنګه قصې هره ورځ اوریدل کیږی بیا تاسی خپل اولاد ولی بربادول غواړی؟

**د سترګو په رپ کې د نفس وار:** یو بزرګ ته یو چا وویل چې ته غټ موبایل ولې نه کاروې؟ هغه وفرمایل دا داسې سمندر دی چې په دې کې زما اوبازی نه ده زده، بیا په دې کې غټې غټې مشخورماوی سته چې د هغو څه ځان ساتل ناممکن دی داسې نه وی ډوب سم. پیغمبر ﷺ فرمایي **وَلَاتَكِلْنِيْ إِلَىٰ نَفْسِيْ طَرْفَةَ عَيْنٍ** یاالله! ما د سترګو د رپ په اندازه هم خپل نفس په لاس مه ورکوه. په دې زمانه کې د دغه دعا په مفهوم په آسانه سر خلاصیږی چې والدین خوشحاله وی چې زموږ زوی د شپې تر ډیره پر کمپیوټر باندی فزیک او کیمیا وایې حال دا چې هغه خو فلمونه ګوری او څنګه چې یو څوک وویني نو یو سویچ په وهلو سره د کیمیا کتاب پر سکرین راولی. لږ اندازه وکړی د سترګو د رپ په اندازه نفس څنګه دوکه وکړه؟

**د کوچنیانو د تعلیمی زوال سبب:** د یوه ښار څه تلیفون راغلی چې زموږ مدرسې ته راسه بیان وکه، موږ هلته ورغلو اراده می وه چې پنځلس دقیقې د دین خبری وکم لاکن یو ساعت بیان وسو، سبب یې دغه سو چې د هغه ځای مهتمم صاحب راته وویل چې زموږ د مدرسې نتیجه ورځ په ورځ کښته روانه ده، کوچنیان چې کور ته ولاړ سی په ګیم، کارټون او فلمو اخته سی. دا خو ښه خبره ده چې د مالدارانو کوچنیان هم حفظ کوی لاکن هغو ته یې غټ موبایل، تلویزیون، لیپ ټاپ کمپیوټر ټوله شیان ورکړی دی چې کوچنیان په بربادیږی.

**کارټون کتل او ګیم د کافرانو سازش:** مفتی محمد شهزاد شیخ صاحب یو کتاب "*کارٹون بینی، ویڈیوگیم اور مسلمان بچے*" لیکلی دی، ډیر مهم کتاب دی، ډیر مشهوره دی په یوه ورځ شپږ سوه کتابونه خرڅ سوه، په دغه کې یې د قرآن او حدیث دلایل ورکړی دی چې کارټون حرام دی، بیا یې پکښې ویلی دی چې د هندوانو بهګوان کرشنا او هنومان د کارټون په ذریعه د مسلمان کوچنیانو اتلان جوړ سوی دی. داسې فضول کارټون په لیدلو سره زموږ کوچنیان یو د بل سره بازۍ کوی چې زه کرشنا یم، یو وایې زه هنومان یم. مفتی صاحب په دغه کتاب کې شپږ جلا جلا کارټونان داسې چاپ کړی دی چې د هغو د عکس څه یې مخان پاک کړی دی، هغه شپږ کارټونان د خنزیرانو دی، د دې ماسوا وایې چې زموږ د کوچنیانو د پینسل پر ډبو، بستو، قمیصانو او بوټو باندی دغه خنزیران جوړ دی، په ځنې کارټونانو کې د زمری، بزوګې او داسې نورو سره خنزیر هم وی. کوچنیانو ته د خنزیرانو کارټونان وربنکاره کوی، اوس نو هغه څه خبر دی چې په

دغه کارټون کی چی کوم اتل دی هغه حرام حیوان خنزیر دی، په کراره کراره هغه د داسی ناپاک او حرام حیوان سره مانوس سی. پر دې باندی هم موږ ته ویل کیږی چی کوچنیان د کارټون کتلو څه ولی منع کوې؟

**ایمان په خطر کی اچونکی ګیمونه:** اوس نو لږ پر زړه لاس کښیږدی! داسی ګیمونه هم سته چی په هغه کی د کعبې شریفی پر عکس، د رسول اللهﷺ د روضې پر عکس او د ملتزم پر عکس باندی نعوذُبالله ټکان کول ښکاره کړی دی، په بعضو کی د الله تعالیٰ نوم چپه لیکلی دی، یو ځای آیتونه غلط لیکلی دی او پر هغه باندی نعوذُبالله ټکان کیږی، یو ګیم خو داسی دی چی په هغه کی د یو مسجد څه ړیری والا لموڅ ګزاره راوځی کوم چی ترهګر ښکاره سوی دی ګیم کونکی پر هغو باندی ټکان کوی، ځنی ګیمونه داسی دی په هغه کی بت ته سجده کول وی چی په هغه ایمان او نکاح په خطر کی ولویږی، بتانو ته خواستونه کول وی، هندوانو خپل باطل خدای کرشنا او هنومان د کارټون په شکل کی جوړ کړی دی د کوچنیانو پر بستو، پیالو او نورو شیانو باندی د هغو عکسونه وی، په دې د کوچنیانو د هغو سره محبت پیدا سی. دغه رنګه د خنزیر مختلفه کارټونان د کوچنیانو ډیر خوښ دی. کافرانو دغه زیار په دې خاطر وکښی چی د مسلمان کوچنیانو د زړونو څه د دغه شیانو نفرت ختم سی. د خنزیر په شکل کی د بازئ دغه شیان او کتابونه څوک چاپوی؟ موږ مسلمانان یې چاپوو. د خدای څه باید وبیریږو. په ګناه کی کومک خطرناکه دی، د دغه کاروبار په باره کی د مفتی صاحبانو څه معلومات وکړی.

**د کوچنیانو د جنګو مهم سبب:** یبا مفتی صاحب لیکلی دی د "ټام اینډ جیری" کارټون په خاطر کوچنیان د کور شیان غورځوی، یو بل وهی، په کارټون کی چی څه وینی هغه یې په دماغ کی ځای نیسی، څنګه چی په دغه کارټون کی شوخئ ښکاره کیږی هم هغسی په کور د کولو کوښښ کوی. همدا رنګه د "سپرمین" کارټون په باره کی یې لیکلی دی چی دا بې له یو شی دیوال ته پورته سی، کوچنیان هم دغه رنګه کوی هغه غوځار سی پښنه یې ماته سی. دا یې هم لیکلی دی چی پر "ټام اینډ جیری" او "سپرمین" باندی په ۱۹۷۰ کی ځنی ملکو بندیز ولګوی چی زموږ کوچنیان بربادیږی. دا شیان موږ ګناه هم نه بولو. غم خو د دې خبری دی په موږ کی چی کوم دینداره دی او د خپلو کوچنیانو دینداری غواړی هغه په خپلو کوچنیانو د خنزیرانو د شکلو لباس او نیکران اغوندی.

**فحش ګيم او فحش کارټون:** نن سبا خو فقط فلمونه فحش نه دي کارټون او ګيمونه هم فحش راغلي دي چې لباس پکښې فحش وي، په هغه کې فحش حرکتونه وي چې په هغه د کوچنيانو حيا ختميږي. مور و پلار وايي چې دا خو کارټون دی په دې کې څه تاوان دی؟ لاکن د دې هم د کوچنې پر دماغ اثر لويږي، په هغو کې غلط خواهش پيدا کيږي، ډير خو د وخت تر مخه بالغه سوه بيا په ځوانی کې د واده لايق پاته نسوه. دا ټوله حقايق دی، داسی ځوانان د دې شعر په شان وی ؎

**طفلی گئی علامتِ پیری ہوئی عیاں**

**ہم منتظر ہی رہ گئے عہدِ شباب کے**

**ترجمه:** کوچنيوالی ولاړی پيری راباندی راغله، زه د ځوانۍ په انتظار پاته سوم

کوچنی که مريض سی نو د صحت دپاره به ډير مصرف وکړی لاکن موبايل، کارټون او ګيم د کوره نه باسی. که څه هم په هر کور کی چې عکس يا سپی وی هغه کور ته د رحمت ملايکی نه ورځی، بيا نو د ربّ رحمت څنګه ورته راسی؟

**کوچنيانو ته روا نعمتونه د نه ورکولو تاوانونه:** زموږ شيخ صاحب به فرمايل چې د کور خلکو ته حلال نعمتونه دونه ورکه چې حرام ته يې ذهن هم ولاړ نسی، بيا يې وفرمايل ځنی ناپوهان يې د حرام څه خو راکرځوی لاکن حلال هم نه ورکوی، ورته وايي دا مه خوره، دغه کالی مه اغونده، روا ځای ته يې د تفريح دپاره هم نه باسی، د مازديګر څه تر ماښامه د بازۍ وخت دی په هغه کی يې هم بازۍ ته نه پريږدی او که غلطی ځنی وسی نو په وهلو يې د دين څه ليری کړی، ځکه چې پر سر يې د يو شيخ لاس نه وی، د خدای د يو دوست سره صلاح نه کوی چې د اولاد تربيه څنګه کول ده، اولاد په بې ځايه سختی برباد کړی.

## ⑩باب: سمارټ فون ......... پر دينی او دنياوی تعليم باندی بد اثرات

**درس ته د توجه نه کيدو سبب:** د موبايل په خاطر توجه ختمه سوې ده، ډير کوچنيان قرآن شريف حفظ کوی لاکن پر موبايل ګيم هم کوی، لاکن ماشاءالله يو څو داسی ښځی سته د هغو اولادونه چې هر څونه ضد وکړی لاکن موبايل نه ورکوی. که په يو کور کی مشترکه خاندانی نظام دی، څلور وروڼه د خپل خپل فاميل سره اوسيږی او د هر يوه اولادونه هم دی نو که يوه ورور خپل اولاد ته موبايل راوړی نو په ټوله کور کی به

کیم شروع وی، شاګردان خو د علم حاصلولو او مطالعې دپاره توجه غواړی او په موبایل، فلمو، ډرامو او ګیم کی توجه چیری وی؟

**حافظه ولی کمزوره ده:** اول به شاګردانو په پوره توجه سره درس ویلی، اوس د هری لمحې خبر په معلومولو سره خپله ذهنی توجه منتشر کړی، همداغه سبب دی چی نن سبا په عمومی ډول شاګردان که څه هم د دینی مدرسې وی او که په مکتب او فاکولته کی درس ویونکی اکثریت د حافظې د کمزوری شکایت کوی، حال دا چی حافظه نه کمزوره کیږی، که کمزوره کیدای نو زموږ زړې خبری ولی په یاد وی؟ بلکې توجه د نه کیدو په سبب ذهن منتشر وی چی په دغه سبب درس نه په یادیږی، کتاب خو یې مخته وی لاکن زړه او دماغ په موبایل، ګیم او کارټون اخته وی نو د داسی شاګردانو به سبق څنګه په یاد سی؟

**د قرآن په حفظ کی د سخت تاوان سبب:** کله چی په دماغ کی موبایل وی نو زړه ته به قرآن پاک څنګه راځی؟ نن سبا کوچنیان په داغه خاطر ژر حافظان نه جوړیږی او که یې په یاد هم کړی نو څنی هیر سی، د دې هم غټ سبب داغه شیان دی چی د مدرسې څه د راتګ وروسته خولې وغورځوی ګیم را واخلی، په مدرسه کی د ناستی سربیره زړه او دماغ یې په ګیم کی وی. اوس نو تاسی ووایاست چی د ده قرآن څنګه په یاد سی؟ په دغه سبب حافظ د دغه لعنت څه په خاص توګه لیری وساتی.

**د ارزانه پیکیجو تاوانونه:** خارجی ګمراه طاقتو وکته چی هم د دین او هم د دنیا تر ټولو ډیر صلاحیت، قابلیت، دلاوری ټول صفتونه په مسلمانانو کی ډیر دی نو د هغو د بربادی دپاره یې انټرنیټ، ډیش، فیسبک، د موبایل پیکیجونه ټول ارزانه کړه چی ځوانان په دې اخته سی، دغه صفات حاصل نه کړی او په هر میدان کی شاته پاته سی. هر وخت په دغه خرافاتو کی د اخته کیدو په سبب دینی او دنیاوی تعلیمی سطح ډیره کزوره سوې ده ځکه چی محصلین د خپل تعلیم پر ځای په دغه شیانو اخته وی. د کرکټ بازۍ اکثره د امتحانو په دوران کی کیږی چی محصلین کامیابه نسی یا په روژه کی کیږی چی مسلمانان عبادت ونه کړی.

**نه د دین سوه نه د دنیا:** ټوله شپه په فلمو او ګیم سره آرام او خوب ټوله برباد سی، پر صحت ډیر بد اثر لویږی، څنی خو د ډیری بدخوابی په خاطر ذهنی معذوره سوه. یوه ځوان ۳۶ ساعته مسلسل انټرنیټ استعمال کړی، بینایی یې کمزوره او اعصاب یې

سترګې سوه. فحش فلمونه د کتلو په خاطر پر مخ باندی لعنت اوری ځکه چې مخ د زړه ترجمان وی کله چې زړه خراب سی نو پر مخ به هم هغه ښکاره سی، داسی شخص نه د دین پاته وی نه د دنیا.

**آنلاین درس یو نوی مصیبت:** د کورونا وروسته په کومو کورو کی چې انټرنیټ، ډیش او غټ موبایلونه نه وه د آنلاین درس په بهانه راغله او خرافات شروع سوه. زما څو دوستانو د مکتب او فاکولتې څه په فلش کی به خپل درس راوړی لاکن یو وخت یې په کور کی انټرنیټ ونه لګوی ځکه چې تر فایدې د هغه تاوان ډیر دی. داسی کورونه هم سته چې غټ موبایل یې نه درلودی لاکن د کورونا په دوران کی یې د آنلاین درس دپاره غټ موبایل او انټرنیټ راوړی، کوم کوچنیان چې تر اوسه د موبایل څه لیری وه په دغه سبب په ګناوو اخته سوه او اوس ضد کوی چې موبایل نه درکوو.

**فاکولتې او پوهنتونونه د مجازی عشق اډې جوړی سوې:** په فاکولته او پوهنتون کی د کورنی کار او درس دپاره د صنف د شاګردانو ګروپ جوړیږی او قصداً په هغه کی هلکوان او انجونی مخلوط اخیستل کیږی، بیا هغه ټوله پر موبایل هم د واټس اپ ګروپ جوړ کړی. اوس نو پر ځای د تعلیمی خبرو د عشق بازار ګرم وی ځکه چې د انجونو سره په درس کی به نفس لازمی پر جوش راځی. پر ځای د کتابو د انجونو د ویډیو او عکسو درس شروع سی، په دغه خاطر په امتحان کی ناکامه سی یا په نقل کولو سره کامیابه سی.

## ⑪باب:سمارټ فون......... په حقوق الله او حقوق العباد کی لاپرواهی

**په مسجدو کی پر دنیاوی خبرو باندی وعید:** حضرت مفتی عبدالرؤف سکهروی صاحب د خپل کتاب *"ہمارے تین گناہ"* پر ۲۲ صفحه باندی حدیث لیکلی دی د هغه مفهوم دا دی چې د قیامت په ورځ به یو خوفناکه حیوان "حریش" اعلان وکړی او پنځه قسمه خلک به کش کړی په خوله کی به یې جمع کړی بیا به د هغو ټولو سره دوږخ ته ولاړ سی. العیاذبالله! په هغو کی به یو قسم خلک هغه وی چا چې په مسجد کی د دنیا خبری کولې. نن سبا په مسجد کی هم کله چې پر موبایل زنګ راسی نو دستی یې پورته کړی د دنیا خبری شروع کړی. زموږ پر زړه او دماغ د موبایل دونه تسلط سوی دی چې په لمانځه کی هم خیال هغه خواته وی، که تلیفون راسی نو ځنی خلک په لمانځه کی

هغه داسې بندوی چې د عملِ کثیر په خاطر یې لمونځ هم فاسد سی. د سلام ګرځولو وروسته د سنت عمل پر ځای دستی موبایل راوباسی. په ځنی ملکو کی په دفترو کی لا هم د موبایل راوړل منع دی چې په کار کی ځنډ رانسی او موږ د الله په کور کی پر موبایل باندی په خبرو اخته یو.

**د خالق سره رابطه قطع کول د مخلوق سره ټینګول:** د خوب څه د راپورته کېدو وروسته د سنت دعا نه وایې بلکې موبایل ګوری. اول به د خلکو په لاسو کی تسبیح وې د هغه ځای موبایل ونیوی. په موبایل کی قرآن شریف ویل خو روا دی لاکن خلک قرآن شریف په لاس کی د راپورته کولو، مچولو او ورته کتلو څه محرومه سوه، په مسجد کی ناست وی مخته یې قرآن شریف په الماری کی وی لاکن په موبایل کی قرآن شریف وایې. بیا درته وایم چې منع نه دی لاکن قرآن شریف په لاس کی په نیولو سره ویل د دې خو څه پوښتنه، بیا اکثره د تلاوت په دوران کی تلیفون پر راسی بې له مجبوری یې پورته کړی او د خالق سره رابطه قطع کړی د مخلوق سره یې ټینګه کړی. زموږ شیخ صاحب به فرمایل چې په هسپتال کی د ایمرجنسی په شعبه کی آیا یو وخت د موبایل زنګونه وهل کېږی؟ هر څونه چې غټ ډاکټر ولی نه وی لاکن آیا یو ډاکټر په آپریشن کی موبایل کاروی؟ آیا د بې هوښی ډاکټر به د مریض بې هوښه کولو پر وخت تلیفون پورته کړی؟ د مالیې د مشر ومخته ولی څوک موبایل نه پورته کوی؟ هغه وخت ضروری تلیفون پر کومه ولاړسی؟

**د بیان څه د فایده نه کېدو سبب:** ځنی خلک بیانو ته خو راځی لاکن که څوک د شیخ په بیان کی پټ لیری ناست پیغامونه لیږی په موبایل اخته وی نو شیخ خو یې نه وینی لاکن د کوم ذات دپاره چې یې شیخ نیولی دی یعنی الله هغه خو ورته ګوری. په بیان کی یې سر کښته کړی په موبایل کی په خبرو اخته وی یا پیغامونه وایې یا استوی نو د بیان فایده به څنګه وی؟ موږ د خدای محبت د حاصلولو نوم خو اخلو چې د حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب رحمه الله په شان د زړه درد موږ ته حاصل سی چې سلطنتونه زموږ تر نظر ولویږی او زموږ څه سلطنت څه دغه موبایل نه پاتیږی.

**د موبایل په خاطر د سهار لمونځ قضا:** نن د یو دوست خط راغلی چې د شپې تر ډېره پر موبایل باندی دینی کتابونه وایم او د سهار جماعت راڅه تیر سی او کله لمونځ هم راڅه قضا سی، زه ډېر ورته په قهر سولم لاکن ضبط می کړی، ما ورته ولیکل چې زه

باور لرم چې ته پر موبایل باندې په ګناوو نه یې اخته لاکن اې زما دوسته! ته په روا شي کې د شپې پر دوه نیمې درې بجې بیدیږې نو لمونځ به څنګه وکړې؟ خپلې بنځې ته به څه وخت ورکړې؟ د دین کار به څه وکړې؟ داسې شخص که یو ځای دنده کوي نو د کار پر وخت به د هغه د دماغ څه حال وي؟ د دندې وخت هم امانت دی آیا داسې شخص په امانت کې خیانت نه کوي؟.

**کله چې والدین یا خاوند د کور خلکو ته وخت ورنه کړي:** په کوم کور کې چې په موبایل او انټرنیټ ټوله کورنۍ اخته وي نو د یو ځای اوسیدو سربیره هم یو د بل سره تعلق نه لري، د یو او بل د خدمت څه محرومه وي، هر یو د بل مخ ته ګوري چې کله به زما سره خبرې وکړي. کله چې اولاد او ماندینې ته محبت ورنه کړل سي نو هغه د پردو سره محبت شروع کړي، کله چې مور و پلار اولاد ته او خاوند خپلې بنځې ته وخت ورنه کړي، په دوستانو او موبایل کې ټوله وخت برباد کړي نو د هغو پر زړه چاړه را تیره سي. یوه کوچنۍ خو دغه خواهش وکړی چې کاشکې زه غټ موبایل وای لږ تر لږه مور او پلار خو به محبت راسره کولای. زموږ شیخ صاحب لیکلي دي چې ته هر څونه پیسه داره یې، هر څونه کاروبار کوې لاکن د کور خلکو ته یو څه وخت ورکه کنې هغه په پردو کې په محبت پسې ګرځي، په خاصه لوڼې او خپله بنځه، کنې د هغو د زړه څه به آه راووځي، آخر هغه خو هم انسانان دي. زموږ شیخ صاحب په خپل ۱۰۳ نمبر واعظ *"دارِ فانی میں بالطف زندگی"* کې همدا دعا کړې ده چې یاالله! دنیا زموږ د رغبت انتها مه جوړوه چې هر وخت د دنیا محبوبیت په زړه کې ځای نیولی وي. د دین یو خادم ته د شپې د اصلاح دپاره یو پیغام راغلی، په هغه کې د ګناه څه د ځان ساتلو خبره وه، کله چې هغه جواب ورکول شروع کړي نو بنځې یې ورته وویل چې شپه ډیره تیره سوې ده اوس هم ته په موبایل اخته یې، خاوند خپله بنځه پوه کړه چې دغه پیغام داسې دی که جواب ورنه کړم نو د دې شخص په غټه ګناه کې د اخته کیدو خطر سته. هغه ماته دغه خبره وکړه نو ما په بیان کې هم وویل چې وګورئ! په موبایل کې په یو روا شي اخته وو لاکن بنځه یې په دې هم په تکلیف سوه چې دا زما وخت دی، لهٰذا ټوله خلک د دې خبرې خیال وساتي، ټوله ورځ ته د کور دباندې یې، د چا کاروبار دی، د چا مزدوري ده لاکن کله چې کور ته راغلاست نو د کور خلکو ته وخت ورکړئ، مور و پلار، بنځه او اولادونه دا غواړي چې موږ د هغو سره خبرې وکړو، د هغو حال معلوم کړو.

**زموږ بې انصافي:** د خدای دپاره د موبایل په خاطر د کور د خلکو حقوق مه ضایع کوی، پر موبایل هیڅ ګناه هم نه کوی دینی کتاب وایاست لاکن په امانت کی خیانت کوی، زما دوسته! آیا د شپې دوې دوه نیمی بجې د دینی کتاب ویلو وخت دی؟ د یوه سړی په موبایل کی پنځه زره دینی کتابونه دی، اې د الله بنده! آیا تا د شیخ کتابونه پوره وویل؟ په دغه پنځه زره کتابو کی دی تر اوسه کوم کتاب پوره ویلی دی؟ بس کله یو کتاب کله دوهم کله دریم وخت ته چی یې وکتل نو دوه نیمی بجې سوې. که شیخ تاته د موبایل اجازه درکړې ده نو په استعمال کی یې اعتدال وساته کنې داغه شیان به د دین په بهانه موږ برباد کړی. دغه هم په یاد وساتی چی د شپې تر ناوخته پوری د موبایل کارونکو او پر نفس باندی د باور کونکو حفاظت نسی کیدای. شیخ ته هم په وخت وخت سره حال ورکړی، فقط څو کسان دی چی شیخ ته د خپل موبایل د استعمال په باره کی خبر ورکوی.

**زموږ د ګناوو پر ماندینې او اولادو باندی اثر:** څو انجونو د اصلاحی خط په ذریعه خبر راکړی چی زموږ پلار ټوله ورځ خونه بنده کړی فحش فلمونه ګوری یا د پردی ښځو سره خبری کوی، نه زموږ سره محبت کوی نه موږ ته وخت راکوی اوس موږ څه وکړو؟ د داسی ښځو او انجونو د ډیرو خطو او ایمیلو خلاصه څلور خبری درته کوم، ① زموږ زړه غواړی چی موږ هم فحش فلمونه وګورو ② موږ هم د نامحرمو سره خبری وکړو ③ د کوره ولاړی سو ④ یا ځان مړ کړو. د کور مشران باید فکر وکړی چی موږ خپل حرام خواهشات د پوره کولو دپاره د خپل کور خلک څنګه بربادوو، د عبرت ځای دی. د انجونو خو څه دینی تربیه وی نه او نه هم څه پوښتنه باندی وی لهذا هر چیری چی وغواړی، د هر چا سره چی وغواړی تلای سی. نارینه کله په روا کله په ناروا کارو شپه او ورځ اخته وی نو د بازار ټوله خریداری او معاملات ښځه، لور او خور ګوری، د دوکان څه سودا، شیدې، ډوډۍ راوړل، د مکتب د موټروان سره خبری ټوله کارونه ښځی کوی، غلط خلک د دې څه فایده اخلی او هغه د لاری اړوی.

**د ابتدا څه د اولاد بربادی:** هم د دغه خرافاتو په خاطر کوچنیان پر مور و پلار بار سوه، هم د اوله سره یې وړکتون ته داخل کړی یا پر دوه دونیم کالو یې مکتب ته واچوی چیری چی هغه څو ساعته په ډایپر کی مرداری کړې ناست وی، اولادونه د خپل محبت او شفقت څه محرومه کړی او پردو ته یې په لاس ورکړی، د دې سبب یا

خو د مور دنده کول وی یا پوره شپه په خرافاتو کی په تیرولو سره د ورځی آرام کول وی او کوچنی یې خوب ته نه پریږدی په دغه خاطر په دې طریقه ځان ځنی خلاص کړی.

**په کورو کی نیک منظرونه بدل سوه:** یو زمانه وه چی سهار د لمانځه وروسته به پلار، نیکه، ورور او زوی ټولو په مسجد کی تلاوت کوی، په کور کی به انا پر مصله تسبیح اړولې، مور به قرآن ویلی، خور او لور به بهشتی زیور کتاب ویلی لاکن موبایل او انټرنیټ دغه منظر بدل کړی دی، اوس ډیر خلک په موبایل، لیپ ټاپ کمپیوټر او داسی نورو باندی مصروف په نظر راځی. د کور مشران چی فحش فلمونه وګوری نو پر بنځی او اولادو به څه اثر لویږی. ځنی خلک سپین ږیری سوه لاکن د موبایل په خرافاتو اخته دی، هر وخت یې دماغ ګرم وی، د خاندان انجونو ته په هوسناکه نظر ګوری. داسی شرمناکه قصې روزانه اوریدل کیږی چی بیان کیدای نسی ـــ

*دھوکا نہ کھائیو کسی ریشِ سفید سے*
*ہے نفس نہاں ریشِ مسوّد لئے ہوئے*

**ترجمه:** دوکه ونه خورې د سپینی ږیری څه، نفس دننه پټ دی په توره ږیره کی

**د اولاد دینی تربیت د نه کولو نتیجه:** هر شخص د خپل جمع کړی سرمایې نه چی فقط حفاظت کوی بلکې هغه د ډیرولو کوښښ هم کوی، لاکن افسوس تر ټولو قیمتی سرمایه یعنی د اولاد هیڅوک فکر نه کوی چی هغه د ګناوو څه راوګرځوی، نه د هغه صحیح تربیه کوی. خپله هم د موبایل او انټرنیټ په ګناوو اخته وی او اولادونه یې هم دغه شیانو ته په لاس ورکړی وی او د هغو آینده یې په خطر کی اچولی وی. همداغه سبب دی چی کله اولاد په دغه ماحول کی پرورش وکړی نو بیا د مور و پلار خدمت او اطاعت نه کوی. په موبایل، تلویزیون او ګیم اخته کیدو سره د مشرانو د خدمت او دعاوو څه محرومه سوی دی. مور و پلار ناجوړه وی لاکن د ګناوو د خوندو څه څوک فرصت لری. اول به دغه ټوله خبری موږ د غربی ملکو په باره کی اوریدلې چی هلته څوک د چا پروا نه لری، اوس زموږ په ملک کی هم داسی خبری مسلسل را روانی دی. اوس زموږ دغه حال سوی دی چی د لیری انډیوالی خو داسی ټینګی دی چی د هغو ماسوا ګزاره نسته او د خپلوانو څه داسی لیریوالی راغلی دی چی هیڅ خبر یې نسته.

## ⑫باب:سمارټ فون ............ د اکابرینو او دینی مدرسو اعلان

د جامع صغیر روایت دی چی د جمعې په ورځ ستاسی عملونه پر انبیاء کرام علیهم السلام او پلار و نیکه باندی وړاندی کیږی بس د خدای څه ویریږی او خپلو مړو ته(په خپل بد عمل سره) اذیت مه ورکوی. د دغه حدیث په رڼا کی موږ باید فکر وکړو چی زموږ د ګناوو ډکه عملنامه چی کله زموږ اکابرینو ته برزخ ته ور ورسیږی نو هغو ته به څونه اذیت ورسیږی. لږ تر لږه موږ خپلو بزرګانو ته خو باید اذیت ورنه کړو او کوم چی موجوده د دین اکابر دی د هغو قدر وکړو او هغه چی د دې غټ موبایل د فتنې په باره کی څه وایي پر هغه باید فکر وکړو.

## د شیخُ الاسلام حضرت مفتی محمد تقی عثمانی صاحب ارشادات

**سمارټ فون د دې زماني عظیم فتنه:** وې فرمایل دغه(غټ موبایل) د دې زمانې ډیره غټه فتنه ده چی په دې موږ اخته سوی یو او شاید یو د خدای بنده وی چی دا رنګه غټ موبایل لری او د ګناه څه محفوظه وی، یو ځای نه یو ځای به د هغه نظر پر داسی شی ولګیږی کوم چی د هغه دپاره به د دوږخ سکروټی د جوړیدو دپاره کفایت وکړی، تر ټولو ډیر چی په کومه ګناه کی عام ابتلا ده، غټان غټان پکښی مبتلا دی هغه د نظر حفاظت نه کول دی او نن سبا دغه فتنه په کور کور کی، د کوچنی کوچنی په لاس کی ده او د لوی لوی تقوادارانو او پرهیزګارانو په لاس کی ده، په ښکاره یې په ښه نیت موبایل اخیستی دی چی زه په دې کی ښه خبره کوم یا ښه خبره ګورم لاکن پکښی مبتلا سی.

**اوس دینداره هم نه دی محفوظ:** وې فرمایل تر څو چی سینماوی وې نو لږ تر لږه ږیری والا محفوظه وه، پوه سی چی دغه ږیره ډیره قیمتی شی ده، دا انسان د ډیرو ګناوو څخه راګرځوی. که یو ږیری والا سینما ته ورسی په قطار کی ودریږی او د هغه ځایه ټکټ را واخلی نو هغه د ږیری سره داسی نسی کولای، دا الله تعالیٰ د حفاظت یو حصار جوړ کړی لاکن مصیبت اوس راغلی موبایل تلیفون کوم چی سمارټ فون بلل کیږی په هغه کی د ټولی دنیا غلاظت جمع دی او اوس فحاشی او عریانی تلاښ کونکی ته سینما ته د تګ ضرورت نسته، د هغه په جیب کی سینما پرته ده، که سینما ته تللی وای نو د ږیری سره نسوای ورتللای لاکن که دغه موبایل ورڅخه دی چی په دې کی د

ټولې دنيا خرافات موجود دي نو په تنهايي کې په خپله خونه کې د هغه سره د هيڅ ډيره نسته، د هيڅ شرم نسته، هغه وخت په ګناه اخته سي، تر څو چې د حق تعالیٰ ډيره د هغه په زړه کې نه وي، د الله تعالیٰ ومخته د حاضري احساس د هغه په زړه کې نه وي ځان ساتل ممکن نه دي.

**سمارټ فون د هر وخت خطر:** وې فرمايل دغه(غټ موبايل) د بې حيايي او د سترګو د غلط استعمال دروازه ښه پوره خلاصه کړې ده، ښه لمونځ ګزاره دي، پرهيزګاره دي، په اول صف کې لمونځ کوي لاکن په تنهايي کې ناست دي او خپلي سترګي د حق تعالیٰ په نافرماني کې کاروي، څونه غټه غداري ده، څونه غټ خيانت دي، څونه غټه نافرماني ده، په دغه خاطر درته وايم که باور لري نو بعضي وخت د دې څه ښه کارونه هم اخيستل کېداى سي لاکن ښه د ښويدو هر وخت خطر سته، نظر د ښويدو هر وخت خطر سته، لهٰذا ورڼو! څو ورځې ژوند دی؟ هيڅ معلومه نه ده، يو چاته معلوم دي چې کله به هغه ته مرګ راسي؟ نو د خپل ربّ عطا کړې دغه نعمت ولې په خطر کې راولو، که د دې غلط استعمال وسو نو الله تعالیٰ به پوښتنه راڅه وکړي. حضرت فاروق اعظم رضی اللہ عنہ غوندي انسان د چا د تقوا او پاکوالي قسم چې دنيا اخلي کله چې هغه دا وايي که زه په آخرت کې پوره په پوره خلاص سم نو هم غنيمت دي، نو هُما شُما(موږ) چې په دغه فتنو اخته سو د هغو په زړه کې خيال نه ورګرځي، د هغو په زړه کې دغه ډيره نه ورګرځي چې موږ دغه د الله تعالیٰ نعمتونه چې غلط کاروو يوه ورځ به د دې حساب ورکول وي، يوه ورځ به د الله تعالیٰ ومخته حاضري ورکول وي او يو يو نظر چې پر هر شي مو اچولی دی د هغه حساب به ورکوو.

**علماوو ته خاص نصيحت:** وې فرمايل چې د نظر حفاظت او د ګناوو څه د ځان ساتلو دپاره سلامتيا په داغه کې ده چې د موبايل استعمال لږ تر لږه او د ضرورت په حد کې وي، دغه خبرې خو د عام خلګو دپاره دي چې هغه هم د دې د تاوانو په سبب بايد ډير احتياط وکړي، لاکن تر کومه چې د علماوو تعلق دی نو د هغو درجه ډيره زياته ده، د هغو د مرتبې تقاضا ده چې هغه د جواز پر فتوا باندې د عمل پر ځای پر تقوا باندې عمل وکړي.

**د تاوانه ځان ساتل مقدم دي پر ګټه اخيستلو باندې:** وې فرمايل ګوري! د شريعت قاعده ده "دفع مضرت مقدم دي پر جلبِ منفعت باندې" يعنې د تاوانه ځان ساتل مقدم

دی پر کښه اخیستلو باندی، په دې داسی سر خلاص کړی چې یو شی دی په هغه تاته دا امید هم سته چې شاید یو کښه راکړی او دا هم خطر سته چې یو تاوان را ورسیږی، نو د تاوانه ځان ساتل خو واجب دی او خیالی کښه دونه مقدم نه ده، نو که ځان د ګناوو په خطر کی د اچولو خبره ده نو بیا دفع مضرت د مقدم کیدو تقاضا دا ده چې هغه پریږده او پر ساده موبایل باندی کفایت وکه چې په هغه کی دغه بلاوی نه وی.(ماخوذ از بیانات: جون، اگست، دسمبر ۲۰۱۸ء)

**د بخاری شریف د افتتاح پر وخت طلباء کرامو ته بیان:** وې فرمایل چې موبایل د دې زمانې ډیره غټه فتنه ده، په دې خاطر موږ دغه بندیز لګولی دی چې درسګاوو ته به څوک موبایل نه وړی او د درسګاوو ماسوا هم که طالب علم د ځان سره موبایل ساتی نو فقط ساده، بې کامرې والا او بې میموری کارډ والا دی وساتی، دا ډیر ضروری اقدام دی او موږ پر دې باندی سختی کړې ده او نوره سختی هم کوو. ستاسی به په علم کی وی چې تیر کال ځنی طلباء په داغه خاطر موږ د مدرسې وایستل چې هغو د دغه ضوابطو خلاف کړی وه، ځنی طلباء هغه پکښی وه کوم چې دوره حدیث ته راتلل، لاکن موږ دغه وایو چې دوره حدیث ته راتلل خپله مقصد نه دی، که یو طالب ناروا کار کوی مثلاً په بدنظری اخته دی او هغه دوره حدیث ته راسی نو د هغه دوره حدیث ته راتلل هیڅ فایده نه لری، لهٰذا موږ دغه بندیز (د موبایل) لګولی دی او تاسی به په ډیر اهتمام د دې پابندی وکړی (البلاغ، ذی الحجه ۱۴۴۲ھ).

## د شیخ الاسلام حضرت مفتی محمد تقی عثمانی صاحب د تقلید وړ عمل:

① د اداره تالیفات اشرفیه(ملتان) ناظم قاری اسحٰق ملتانی صاحب په محاسنِ اسلام رساله کی لیکی چې پر۶ د مارچ ۲۰۲۱ د شنبې په ورځ شیخُ الاسلام مفتی تقی عثمانی صاحب د اداره تالیفات اشرفیه ملتان عظیم کتاب "مقالات حَکیمُ الامت" د افتتاح دعا ته ادارې ته تشریف راوړی نو یو سړی د موبایل په ذریعه ویډیو جوړول شروع کړه، حضرت سخت ورته خفه سو چې دا څه فضول کار دی چې هر چیری ولاړ سې خلک ویډیو جوړول شروع کړی.

② حضرت شیخُ الاسلام صاحب یوواری د بخاری شریف د ختم پر وخت په سر کی لاکامرې په دغه ویلو سره په بندی کړې چې دا د دې مبارک مجلس وړ نه دی.

③ د شیخُ الاسلام صاحب د موبایل او عکس د فتنې په باره کی مختلف بیانونه موجود دی چې په هغه کی موبایل د ګناوو مجموعه بلل سوې ده.

قاری اسحٰق ملتانی صاحب په داغه رساله(محاسنِ اسلام) کی زما(فیروز میمن) په باره کی د خپل ښه ګمان اظهار کړی دی حق تعالیٰ دی ما د ده تر نیک ګمان بالا جوړ کړی، لیکی چې "یو څه وخت تر مخه د مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب رحمة الله علیه خلیفه حضرت فیروز عبدالله میمن صاحب حفظهم الله اداره تالیفات اشرفیه ملتان ته تشریف راوړی نو هغه د موبایل د عکسو او ویډیو د فتنې پر خلاف ډیر په سختی سره احتیاط کوی، د ده خادمانو په احتیاط کولو کی کمال وکړی چې یو څوک د حضرت عکس یا ویډیو جوړه نه کړی، یوه سړی عکس واخیستی نو د هغه د موبایل څه یې په ختم کړی. د ده په مشاهده کی د غټ موبایل دونه تاوانونه راغلی دی چې فرمایل یې زما سینه ګواکې سوځی او زه تاته د دې تاوانونه نسم ویلای".

# د وفاقُ المدارس العربیه د طرفه اعلان

قاری محمد حنیف جالندهری صاحب(د جامعه خیرُالمدارس ملتان مدیر) په خپل بیان کی وفرمایل چې څو شپې تر مخه (په مارچ ۲۰۲۱ کی) د وفاقُ المدارس مجلس وو، په دغه کی شیخُ الاسلام حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب هم موجود وو، په دغه مجلس کی د موبایل پر عکسو او ویډیو باندی بحث وسو، نو ټولو حضراتو اتفاق وکړی چې د دغه ویډیو په باره کی که څه هم په علماوو کی اختلاف دی لاکن د دې څه ځان ساتل لازم دی، په خاصه علماوو ته چې هغه دی د خپلو مجلسو ویډیو نه جوړوی. د دې وروسته قاری محمد حنیف جالندهری صاحب وفرمایل "د نن څه وروسته به په جامعه خیرُالمدارس کی هیڅ رنګه ویډیو نه جوړیږی او زه ټولو استاذانو او طلباء ته وایم چې دا په هر حال کی پریږدی، تر نه چې هر څه وسوه پر هغه استغفار کوم تاسی ټوله یې هم وکړی، د خیرُالمدارس کوم فرزند(فاضل) چې ویډیو جوړه کړی د هغه به د خیرُالمدارس او زموږ سره هیچ رنګه تعلق نه وی موږ به د هغه څه جلا یو. دا د ممنوع لغیره کیدو په سبب لازم الترک دی(یعنی که روا هم وی نو هم د دې تاوانونه د دې تر ګټو بیخی ډیر دی په دغه خاطر د دې پریښوول لازم دی)"

(محاسن اسلام، جون ۲۰۲۱ء)

## ضروری اعلان جامعة العلوم الاسلامیة، بنوری ټاؤن کراچی

اعلان دفتر تعلیمات:۵ جمادی الثانی ۱۴۴۲ھ

**یادونه:** ټوله مدرسې دی اولاً طالبانو ته د موبایل ساتلو اجازه نه ورکوی که مجوری وی نو په دغه شرایطو دی اجازه ورکړی. د جامعه او د جامعه د ټولو بناخو طالبانو ته خبر ورکول کیږی چې د جامعه په حدودو کی د موبایل ساتلو یا د کارولو ضابطه لاندی ذکر ده:

(۱) د غټ موبایل استعمال قطعاً منع دی، که د یو طالب سره یو وخت په تعلیمی یا غیر تعلیمی اوقاتو کی غټ موبایل ورسره وو نو هغه طالب به دستی اخراج سی (۲) د طالب دپاره پر ټولنیزه رسنیو(واټس اپ، فیسبک، ټویټر، انسټاګرام، یوټیوب، ټک ټاک او داسی نورو) باندی هر رنګه فعالیت یا اکاؤنټ یا ګروپ جوړول د اخراج لایق جرم دی (۳) د ساده موبایل استعمال هم په تعلیمی اوقاتو کی او د ماښام د اذان څه تر لس نیمی بجو په دوران کی منع دی (۴) البته ساده موبایل(بې له میموری کارډ) هره ورځ فقط د مازدیګر څه تر ماښامه او د جمعې په شپه د مازدیګر څه د جمعې د ورځی تر ماښامه د کارولو ګنجایش سته (۵) قیام والا طالبان دی ساده موبایل هم په دارُالاقامه کی کنبیږدی، درسګاه ته موبایل راوړل قطعاً منع دی (۶) غیر قیام والا طالبان چې جامعه ته راسی ساده موبایل دی په دفتر کی جمع کړی او د رخصتی پر وخت دې وصول کړی (۷) کوم طالبانو ته چې د مازدیګر څه تر ماښام ماسوا د کور سره د رابطې ضرورت وی هغه طالبان د خپل دارُالاقامې د ناظم یا د درسګاه د نګران استاذ نمبر ورکولای سی (۸) د طالبانو موبایلونه یو وخت هم کتل کیدای سی، که په هغه کی یو غیر اخلاقی شی وو نو به سخته تادیبی کاروایی ورسره وسی.

## ضروری اعلان جامعه دارُالعلوم کراچی

(عمیدالدراسات ۱۴۴۲ھ)

د نایب صدر(شیخُ الاسلام حضرت مفتی محمد تقی عثمانی صاحب) پر هدایت باندی ټولو طالبانو ته خبر ورکول کیږی چې

(۱) د طالبانو دپاره عکسو والا موبایل کارول بالکل منع دی، نه په درسګاه کی د دې اجازه سته او نه په دارُالاقامه کی، البته ساده موبایل بې له میموری کارډ په غیر تعلیمی اوقاتو کی د ضرورت پر وخت د کارولو اجازه سته لاکن درسګاوو ته ساده موبایل راوړل هم منع دی (۲) د چا څه چې عکسو والا موبایل وی هغه دی کور ته واستوی یا په

دارُالاقامه کی دی جمع کړی (۳) د شپې پر وخت پر لارو یا په غربی او شمالی چمن کی یا په میدانو کی د موبایل سره تنها ګرځیده هم منع دی (۴) د جامعه دارالعلوم طالبانو ته د تعلیم په دوران کی هر رنګه فیسبک یا رسنی اکاونټ جوړول منع دی (۵) ټول طالبان دی پر دغه هدایاتو باندی په سختی سره عمل وکړی، عکسو والا موبایل د راوتلو په صورت کی به سخته سزا ورکړل سی کوم چی د تعلیمی کال تر آخره پوری د موبایل ضبطولو یا دستی د اخراج په شکل کی هم کیدا سی (۶) پر موبایل هر رنګه سیاسی پیغامونه استول او تبصرې کول منع دی، د خلاف کولو په صورت کی به اخراج سی.

اوله حصه ختم سوه

# د زړه څه درخواست

## از حقیر فیروز میمن

د ټولی دنیا اکابر علماء کرام، مفتیان کرام، دینی مدارس د موبایل د خرافاتو په باره کی پاملرنی کوی، زموږ امام مفتی انوارُالحق صاحب د موبایل د تاوانو څه د ځان ساتلو دپاره د علاجونه په عنوان سره مضمونونه یو ځای کړی دی. حق تعالیٰ دی موږ ټولو ته د عمل کولو توفیق راکړی، د ټولو تر مخه زه محتاجه یم، الله دی زما پر حال رحم وکړی، پر موږ او عالمِ اسلام دی رحم وکړی او د هر مومن حفاظت دی وکړی، موږ ټوله دی اولیاء وګرځوی، په جذب کولو سره دی د اولیاوو آخری سرحد صدیقینو ته ورسوی آمین.

# د جامع عرض

## از مفتی انوارُالحق

علماء کرام، مفتی صاحبان او د دین بزرګان فقط تاوانونه او امرض نه بیانوی بلکې د هغو څه د ځان ساتلو طریقې، علاج او بدل هم ورسره بیانوی. د موبایل د زیانونو څه لاندی ذکر سوی علاجونه او حفاظتی تدابیر زموږ شیخ حضرت فیروز میمن صاحب حفظہ اللہ په خپلو بیانو کی فرمایلی وه کوم چی ما یو ځای کړی دی حق تعالیٰ دې قبول کړی.

د اوسنی عصر غټه فتنه

# سمارټ فون

## تاوانونه، بربادي او د ځان ساتلو طريقې

### دوهمه حصه: علاجونه

**د ګناه او د ګناوو د آلاتو څه ليريوالی يو اثر لرونکی تدبير:** وې فرمايل چې د ټولو ترمخه د ګناوو د اسبابو او د ګناوو د آلاتو څه ليريوالی ډير ضروری دی. پيغمبر ﷺ دعا رابنوولې ده **اَللّٰهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِيْ وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَّ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ** یاالله! زما او زما د ګناوو تر مابين دونه ليريوالی راوله څونه چې د شرق او غرب تر مابين دی. افسوس! نن موږ د ګناه، د ګناه د آلاتو او د ګناه د مجلسو څه پر ځای د ليريوالی ورنژدې کيږو، په دغه خاطر په آسانی سره په ګناوو اخته سو لهٰذا د دې خبری کوښښ وکړی چې تر څو سخت ضرورت نه وی غټ موبايل، کمپيوټر، انټرنيټ او داسی نور مه اخلی ځکه چې د دې شيانو سره د ګناوو څه ځان ساتل ډير مشکل دی، د اخيستلو تر مخه خپل شيخ ته صحيح خبره په ويلو سره صلاح وکړی، هر څه چې هغه درته ووايي پر هغه عمل وکړی.

**د موبايل ضرورت او د هغه اصول:** وې فرمايل که څوک وايي چې غټ موبايل رانيول زما ضرورت دی نو اول د ضروت په مطلب پوه سی، ضرورت داسی شی ته ويل کيږی چې بې له هغه ضرر وی يعنی دينی يا دنياوی تاوان وی. که رشتيا ډير ضرورت دی نو بيا دغه خبره په ذهن کی ونيسی کوم چې زموږ شيخ صاحب فرمايلې ده چې"دنيا يو مار دی د نيولو دپاره يې اول منتر زده کړی، څوک چې دنيا ګټل غواړی اول دی د تقوا منتر حاصل کړی بيا دنيا تاسی ته هيڅ زيان نه در رسوی. کوم شخص چې مال د الله په نافرمانی کی نه مصرفه وی او تقواداره دی د هغه دپاره دنيا هيڅ تاوانی نه ده. صحابه کرام رضوان الله عليهم اجمعين پاچاهی هم وکړه لاکن د هغو پاچاهی هغه د الله څه غافل نه کړه. د دنيا د مار نشه پر هغو اثر ونه کړی ځکه چې د هغو څه منتر وو، هغه منتر څه شی وو **يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيْهِ الْقُلُوْبُ وَالْاَبْصَارُ** (سورت النور: آيت ۳۷) **ترجمه**: دوی د هغه ورځی

څه بیربری چې په هغه کی به زړه او سترګی سره اوړی را اوړی(آسان ترجمه قرآن) اصحاب رضوان الله علیهم اجمعین د قیامت د ورځی د حساب څه بیریده".

**په ضرورت کی د موبایل او انټرنیټ کارولو طریقه:** ①که د نفس او شیطان د منګولو څه ځان ساتل غواړی نو موبایل، کمپیوټر او انټرنیټ په تنهایي کی هیڅکله مه کاروی، د کور د خلکو ومخته یې کار کړی او سکرین یې داسی وساتی چې پر هغه د نورو نظر ومبنلی.

② اوس داسی ایپ راغلی دی چې د هغه په ذریعه په موبایل کی فقط مخصوص شیان چلیدای سی، د کمپیوټر د یو دینداره ماهر په ذریعه په هغه ځان پوه کړی او د ځان دپاره او د اولادو دپاره د ضرورت د شیانو ماسوا پر نور ټولو باندی په بل چا پاس ورډ ولګوی کوم چې فقط هغه خلاصولای سی خپله یې مه پر لګوی.

③ په کمپیوټر کی پر انټرنیټ باندی که په مجبوری کی یو شی پیدا کول وی نو په Chrome Web Store کی د Wizmage Image Hider په نامه سوفټ وئیر ثبت کړی، د دې فایده به دغه وی چې عکس به نه ښکاره کیږی، که دا نه کیدل نو د سکرین سایز ییخی کوچنی کړی چې عکسونه ښکاره نسی، دا رنګه ځان ساتل آسانه سی. دا خو د کمپیوټر دپاره هدایت وو لاکن په موبایل کی عکسونه راګرځول ډیر مشکل دی، په دغه خاطر ښه دا دی چې د موبایل انټرنیټ بند وساتی او فقط د ضرورت پر وخت یې خلاص کړی او د ضرورت په پوره کیدو سره یې دستی بند کړی او تر څو چې ممکن وی پر موبایل باندی تلاښ مه کوی، د تلاښ دپاره کمپیوټر پر لوړ شرایطو باندی کار کړی، غیر ضروری یې قطعاً مه کاروی، کنې په هغه کی قسم قسم اعلانونه راځی چې په هغه سره په ګناوو کی د اخته کیدو قوی اندیښنه وی.

④ د دې احتیاطو سره په هر پنځلس ورځو کی خپل شیخ ته حال ورکړی چې غلط استعمال سوی خو نه دی، که غلطی سوې وی نو لازمی ورته ووایاست، بیا شیخ چې هر څه هدایت درکړی پر هغه هم حال ورکړی چې څونه می عمل په وکړی او څونه فایده وسوه او فایده وسوه که یا؟ د خپل شیخ او مشرانو څه هیڅ خبره مه پټوی ځکه چې د مرض علاج په سر کی آسانه وی لاکن مرض چې کله ریښې ونیسی نو بیا په سرطان جوړیدو سره قاتل سی.

⑤ په عام توګه مشایخ د ګناه پر نه پاتېدو باندی یو علاج دغه هم وایي چې دونه نفل وکه یا دونه صدقه ورکه چې پر نفس بار سی، که په دې مرض را ونه ګرځی نو مسلسل روژې په نیسی چې په هغه د نفس زور مات سی، لاکن پر دې خبرو باندی د خپل ځانه څه په عمل سره پوره فایده نه حاصلیږی ځکه چې په دې کی خپل رایه او نفس شامل وی. په دغه خاطر شیخ کامل ته خپل حالات ویل ضروری دی هغه چې څه تجویز درکړی په هغه کی برکت وی لاکن ځنی خلک عمل نه په کوی، حالات هم نه وایي، خپل همت غلا کړی او بیا بهانه کوی چې د نظر حفاظت او د ګناوو څه ځان ساتل مشکل او ناممکن دی. په دې بهانو د خدای تعلق نه تر لاسه کیږی او کامله ګټه نه رسیږی، مریض که دوا ونه خوری، پرهیز هم ونه کړی نو صحت به څنګه وی؟ لاکن د الله په لار کی ناامیدی نسته، که د ګناوو آخری درجه وی بیا هم په دغه څلور شرایطو سره چې توبه وسی ټوله وبخښل سی.

**اول شرط** دغه دی چې د ګناه څه لیری سه، مثلاً که په فحش فلمو یا د نامحرمو سره په تلیفون کی په خبرو اخته یې نو دغه آلات ختم که، خپل نمبر او ایمیل بدل که.

**دوهم شرط** پر ګناه پښیمانه سه، د زړه باید دغه حال وی کوم چې مولانا رومی رحمة الله علیه فرمایي چې کاشکې زه خپلی مور نه وای زیږولی یا که پیدا هم سوم نو یو زمری په خوړلو سره برابر کړی وای، د نن په حساب یو بلډوزر پر ما ختلی وای چې داسی مهربانه ربّ می په ګناه کولو سره، فحش فلمونه او عکسونه په کتلو سره نه وای خوابدی کړی.

**دریم شرط** ټینګه اراده وکه چې بیا ګناه نه کوم، شیطان به دی ناامیده کړی چې ته بیا ګناه کوې، شیطان ته جواب مه ورکوه بلکې په زړه کی ووایه چې زه د ګناه څه پاک نه یم، که ګناه راځه وسوه نو بیا به توبه وکارم ؎

**جب دل ہی لگا بیٹھے ہر ناز اُٹھانا ہے**
**سو بار اگر روٹھیں سو بار منانا ہے**

**ترجمه:** کله چې د خدای سره دی زړه ولګوی نو هر ناز به یې وړې، سل واری که هغه خوابدی سی سل واری به یې راضی کوې

**څلورم شرط** دغه دی د چا حق چې دی وهلی وی د هغه حق ورکه یا په هغه یې وبخښنه، بدنظری د الله تعالیٰ حق دی د هغه څه بخښنه وغواړه. په دغه شرایطو سره که

د ریګو د ذراتو په اندازه هم ګناوی وی نو ټوله وبخښل سی او فقط بخښل کیږی نه بلکې الله تعالیٰ داسی بنده خپل محبوب او دوست وګرځوی. الله تعالیٰ فرمایي

﴿قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ﴾(سورت الزمر: آیت ۵۳)

*ترجمہ:* ورته ووایه چې اې زما هغه بندګانو! چا چې پر خپلو ځانو ظلم کړی دی د الله د رحمت څه دی نه نا امیده کیږی یقین وکړی الله هم ټوله ګناوی وبخښی یقیناً هغه ډیر بخښونکی ډیر مهربانه دی(آسان ترجمه قرآن).

زموږ شیخ صاحب د بخښښ او توبه پر مضمون باندی عجبه جمله وفرمایل چې اې وروره! ولی وارخطا یې د خدای د بخښښ سمندر بې اندازې دی او کوم بنده چې بخښی هغه محدود دی، تر قیامته چې هر څونه کسان راځی ټوله بخښی، بیا دوستانو! موږ بخښنه ولی نه ځنی غواړو. په دغه خاطر که په یو ګناه اخته سې نو دستی خپل شیخ ته خبر ورکه چې مرض ډیر نسی، اول خط ورته ولیکه، که ممکن نه وی نو ایمیل وکه یا تلیفون وروکه، شیخ چې کوم علاج درته ووایي پر هغه باندی په سختی سره عمل وکه.

## د بدنظری کونکو د یوې بهانې جواب

﴿لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا﴾

(سورت البقرة: آیت ۲۸۶)

*ترجمہ:* الله هیڅ شخص ته د هغه تر وس ډیره ذمه واری نه ورکوی.

﴿فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ﴾

(سورت التغابن: آیت ۱۶)

*ترجمہ:* څونه چې ته کولای سې د الله څه وبیریږه. الله تعالیٰ په دغه آیتو کی دا واضح کړی دی چې هیڅ انسان تر طاقت زیات مکلف سوی نه دی او انسان ته چې د تقوا کوم حکم ورکړل سوی دی هغه یې د طاقت په حساب دی. نن سبا ځنی خلک وایي چې د فحش فلمو او بدنظری څه ځان ساتل ناممکن دی. ناممکن ویل صحیح نه دی، مشکل خو دی لاکن ناممکن نه دی، که ناممکن وای نو حق تعالیٰ به د نظر د حفاظت

حکم نه وای راکړی، په آسانه مثال سر خلاص کړی که یو څوک ووایي چي زه د بدنظری سخت مریض یم زه خو د نظر حفاظت نسم کولای او په هغه وخت یو ډاکو د توپنګچې سره راسی او د هغه پر سر یې ور ونیسی ورته ووایي چي ستا راسته خوا ته بنایسته هلک او انجلۍ ده او چپه خوا ته فحش فلمونه، انټرنیټ او د ډیش غلاظتونه دی او ته اول نمبر نظرباز یې لاکن که دی ورته وکتل نو ولم دی، اوس به هغه سړی پر سترګو لاس کښیږدی او وبه وایي چي توپنګچه ایسته که زه بیخی نه ورته ګورم.

سوال دغه دی چي په ده کی دغه همت د کومه راغلی؟ معلوم سوه چي همت یې اول هم درلودی لاکن کاروی یې نه اوس چي مرګ یې په سترګو ولیدی نو کار یې کړی ځکه چي ځان پر ګران دی، همدغه رنګه کومه ورځ چي الله تعالیٰ او ایمان تر ځان ډیر راباندی ګران سی نو یو نظر به هم خراب نسی، په دغه خاطر همت کار کړی. زموږ شیخ صاحب فرمایي هره ګناه د پرېښولو علاج بې له همت څه بل هیڅ نه دی، په زړه کی ټینګه اراده وکه چي ځان وژنم لاکن خواهش که یو لک واری وی خو ګناه نه کوم. لکه د یو چا وژلو ته چي اته کسان راسی نو هغه ته ورمعلوم دی چي وژل کیږم لاکن په مفته به ځان نه په وژنی بلکې مقابله به ورسره وکړی، د هغه ځایه به د څغستا کوښښ وکړی، نو په کوم همت چي ته د قاتل سره مقابله کوې هم په هغه همت د ګناه د خواهش مقابله وکه بیا ځان ساتلای سې. تر ځان د ایمان ساتل ضروری دی. کله چي د ګناه خواهش شدید وی نو هغه تر پښو لاندی که هم هغه خواهش به ټوله نور جوړ سی.

## د خدای محبت او عظمت او د آخرت فکر

وې فرمایل د چا محبت او عظمت چي په زړه کی وی نو د هغه نافرمانی نسی کیدای، د خدای محبت او عظمت او د آخرت فکر هغه شی دی کوم چي بنده د نافرمانی څه راګرځوی. زموږ د شیخ صاحب شعر دی ؎

***سامنے ایسا خوفِ قیامت رہے***
***سب گناہوں سے میری حفاظت رہے***

**ترجمه**: ومخته می د قیامت داسی بیره وی، چي د ټولو ګناوو څه زما حفاظت وی

اکثره ګناه په پټه کیږی چي څوک می ونه وینی، حال دا چي الله تعالیٰ خو موږ هر وخت وینی. پر دې باندی هم زموږ د شیخ صاحب څنګه ښه شعر دی ؎

**جو کرتا ہے تو چھپ کے اہلِ جہاں سے**
**کوئی دیکھتا ہے تجھے آسماں سے**

**ترجمه**: ته چې څه کوې په پټه له جهانه، څوک درته ګوري له آسمانه

د ټولې دنیا څه یې شرم وکړي لاکن د خپل پالونکی څه یې حیا ونه کړه. پر داسې ځای باندې دغه آیتونه په ذهن کې ونیسئ.

① **اَلَمْ یَعْلَمْ بِاَنَّ اللّٰهَ یَرٰی** *ترجمہ* : آیا دته معلوم نه دی چې الله تعالیٰ راته ګوري؟

② **وَهُوَ مَعَكُمْ اَیْنَ مَا كُنْتُمْ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ** *ترجمہ*: او ته چې هر چیرې یې هغه ستا سره درسره دی او هر کار چې هم ته کوې الله هغه ویني.

③ **اَلْیَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰۤی اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَاۤ اَیْدِیْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا یَكْسِبُوْنَ**

*ترجمہ*: نن ورځ به مونږ د دوی پر خولو مهر ولګوو او د دوی لاسونه به زمونږ سره خبره وکړي او د دوی پښې به شاهدي ورکړي چې دوی څه کټه کول. یعنې دغه اعضاء چې مونږ هغه ته د حرام خوند ورکولو دپاره ګناه کوو، کوم چې خپل دوست بولو د قیامت په ورځ به زمونږ پر خلاف شاهدي ورکړي، ګواکې د الله استخبارات زمونږ سره راسره دي. آه! نن مونږ د پټو کامرو څه بیریږو لاکن د حق تعالیٰ څه نه بیریږو؟ نن مونږ د کورونا څه چې څونه بیریږو که د هغه یو فیصد بیره هم د حق تعالیٰ پیدا سي نو مونږ به د دې خرافاتو څه ځان راوګرځوو. که ګناه او فحش فلمونه نه درځه پاتیږي نو د خپل شیخ په پوښتنې سره د مرګ، قبر، آخرت او دوږخ مراقبه وکړي. په حدیث شریف کې دي

**اَكْثِرُوْا ذِكْرَهَاذِمِ اللَّذَّاتِ الْمَوْتِ** (مشکوٰۃ:(قدیمی)،ص۱۴۰)

مرګ په کثرت یادوی ځکه چې مرګ یادول د ټولو لذتونو ختمونکی دی. د کمزوری اعصاب خاوندان دې دغه مراقبه نه کوی بلکې د خدای نعمتونه او رحمتونه دې په فکر کې راولي. د پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم سیرت، د طایف قصه، د اصحابِ کرام رضوان اللہ علیہم اجمعین قصې او تکلیفونه په یاد کړي په دې هم زړه نرمیږي. یوه تابعی ته یوې ښځې د ګناه دعوت ورکړي نو هغه د ښځې څه یو څو سوالونه وکړه، د سوالونو وروسته ښځې توبه وکښه او د خدای دوسته سوه. د هر ګناه تر مخه د دغه سوالونو جوابونه په زړه کې راولي ①که د مرګ ملایکه روح قبض کولو ته راسي نو هغه وخت به مونږ ته دغه ګناه خوند راکړي؟ ② خلګو ته چې

عملنامې ورکول کیږی او تاته د خپل عملنامې په باره کې معلوم نه وی چې په راسته لاس کې به راکړل سی که په چپه لاس کې هغه وخت به موږ ته دغه ګناه خوند راکړی؟ ③پر پُلِ صراط باندی د تیریدو پر وخت به موږ ته د دې ګناه خواهش وسی؟④د الله ومخته د خپلو اعمالو د سوال و جواب دپاره چې کوم وخت موږ ولاړ یو هغه وخت به زموږ دغه ګناه ته شوق وسی؟

## د ګناه پریښوولو خوندوره طریقه، د اولیاوو صحبت

وې فرمایل ځنې خلک وایې چې موږ پر کور باندی فارغه یو نو د وخت تیرولو دپاره تلویزیون، موبایل او انټرنیټ ګورو، تجربه داغه ده چې کله بنده فارغه وی نو په ګناوو اخته سی، لهٰذا ځان مصروفه وساتی، تر ټولو ښه مصروفیت د اولیاوو او نیک بندګانو صحبت ته تګ راتګ او د هغو په صحبت کې ناسته ده، په دې به پر دین باندی عمل نه چې فقط آسانه سی بلکې خوندور به سی ځکه چې څنګه دوستان وی او څنګه صحبت وی انسان هم هغسی جوړ سی. د نیک صحبت مثال داسی دی لکه د عطرو دوکان چې د عطرو دوکان ته ورغلې که هغه سخی دی نو په پنبه به یو څه عطر ووهی مفت به یې درکړی او که ستا په جیب کې پیسه سته نو ته به یې رانیسې او که هیڅ نه وه نو خوشبویی خو به حاصله کړې او د بد صحبت مثال داسی دی لکه د وسپنې او ویلډنګ دوکان چیری چې یا خو به ستا کالی وسوځل سی یا به د هغه یوه بڅرکه در وغورځی او که هیڅ ونسوه نو دود خو به درته حاصل سی. په حدیث شریف کې دی

**((اَلْمَرْءُ عَلٰى دِيْنِ خَلِيْلِهٖ فَلْيَنْظُرْ اَحَدُكُمْ مَّنْ يُّخَالِلُ))**

**(مشکٰوۃ المصابیح: (قدیمی) ،باب الحب فی اللہ ومن اللہ، ص ۴۲۷)**

*ترجمہ:* هر شخص د خپل ټینګ ملګری پر دین باندی سی بس وګوره ستا ملګری څوک دی؟ یعنی که ستا ملګری په فلمو او غلطو کارو اخته دی نو ته به خپله په دغه ګناوو اخته سې. په دغه خاطر د بد همنشینو څه د شرق او غرب لیریوالی وساتی او هغه ځایو ته هم مه ورځی چیری چې ګناه وی ځکه چې داسی ځای ته ورتګ صحیح نه دی. د نیکو مجلسو اهتمام وکړی ځکه چې د اولیاوو صحبت د ګناه په پریښوولو کې کیمیا دی په خاصه د خپل شیخ صحبت، که هغه نه رسیدی نو د خپل شیخ په پوښتنې سره د نورو نیکو خلکو په صحبت کې کښینی ځکه چې د اولیاوو څه د الله محبت حاصلیږی او

د چا سره چې محبت وي د هغه نافرماني نه کیږي. حضرت تهانوي رحمه الله فرمايي په کوم موټر کې چې تيل نه وي نو تر څه وخت به هغه ټيله کوي، ماشين ته يې تيل واچوه بيا وګوره چې څنګه ځغلي او ټيله کونکي چې خولې خولې کيدله هغه به هم پکښې کښيني. لهٰذا تر څه وخته به د خوف په سوټې عمل کوي زړه ته د خداى د محبت تيل واچوه بيا به ستا رفتار داسې وي چې خلک به حيران پاته سي. د اولياوو صحبت د دين او د دنيا د خيرونو مجموعه ده، هم په ديني مجلسو سره دين خپور سوى دى. څونه وخت چې پيدا سي هغه قيمتي کړى او د کوم بزرګ سره چې مو زړه لګيږي د هغه صحبت ته تګ راتګ وساتي او خپله اصلاح په وکړي.

## د ملک او د کور د مشرانو ذمه وارياني

وې فرمايل چې حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه روايت کوي چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمان دى واورى په تاسې کې هر شخص د خپل رعيت نګران دى او (د قيامت په ورځ) په تاسې کې به هر شخص د خپل رعيت په باره کې جواب ورکوي. لهٰذا د حکومت سربرا نګران دى هغه به د رعيت به باره کې جواب ورکوي، نارينه د خپل کور والاوو نګران دى هغه به د خپل کور والاوو په باره کې جواب ورکوي، ښځه د خپل خاوند د کور او د هغه د اولادو نګرانه ده هغه به د دوى د حقوقو په باره کې جواب ورکوي(مشکوٰة:(قديمى)،ص۳۲۰)

د دغه حديث په رڼا کې د ټولو تر مخه د حکومت خلکو ته موږ دغه وايو چې پر ميډيا باندې فحاشي، عرياني نشرول او فحش ويب پاڼې دې بند کړي او د کور مشرانو ته هم وايو چې داسې شيان کور ته مه راوړي چې په هغه د کور خلک برباد سي. په عام توګه د کور مشران خپل حرام خواهشات د پوره کولو دپاره کور ته دغه شيان راوړي، هلکوان او انجوني تلويزيون او کمپيوټر د بازار څه نه راوړي او نه ډيش لګوي، په دغه خاطر د خداى دپاره خپل کوچنيان د فحاشي د دې طوفان څه وساتي.

## اولاد او د کور کسان د خرافاتو څه د ساتلو طريقې

① **پر اولاد باندې سخت نظر وساتي:** خپلو اولادو ته انټرنيټ هيڅکله مه ورکوي، که د يو مجبورى په خاطر ورکړل سي نو سختي پر وکړي چې يوازي يې کار نه کړي، په خونه کې کمپيوټر داسې کښيږدي چې ستاسې نظر پر مبنلى، کله کله د کوچنيانو په استعمال کې د انټرنيټ هسټري ګوري چې کوچنيانو انټرنيټ غلط نه وي کار کړى، که

يې غلط کار کړي وي نو کوچنيانو ته دا وواياست چې د هغو په زړونو کې بيره کښيني. د کور کسان که تلويزيون، موبايل يا بل ناروا شي وغواړي نو اول يې په محبت منع کړي، که ضد وکړي نو د حکمت څه کار واخلی پوه يې کړي، د اولياوو سره صلاح وکړي. په ځنې کورو کې دغه خرافات نه وي لاکن کوچنيان يې په مکتب کې د خپلو ملګرو څه په ميموری کارډ کې راوړي، مور و پلار د خطا ايستلو دپاره د هغو وخته يو ميموری کارډ کاروی او په تنهايي کې بل. په کوم مکتب او فاکولته کې چې رقص، غزلې، ډرامې او نور خرافات کيږي په داسې ادارو کې کوچنيانو ته داخله مه وراخلئ.

**② خپله سل فيصد پر دين باندې عمل وکړی:** الله تعالیٰ په بنه حکمت سره خلکو ته د دين دعوت ورکولو حکم کوي. په دغه مثال سره په حکمت ځان پوه کړی چې د همسايه سپې وړې دي او د هغه په خوله کې وچ هډوکې دي، ستا زړه پر وسوځي او د کوره دې غوښې ورته راوړې، اوس نو د هغه د خولې څه هډوکې د ايسته کولو درې طريقې دي ① په سوټي وهلو سره، لاکن په دا حال کې به هغه تا وخوري ② د غوښو فضايل او خوند په بيانولو سره، په دې به يې هم په مشکل سره پريږدي ③ د خلتې څه غوښې راوباسه د هغه وخته يې کښيږده، هغه به خپله هډوکې پريږدي او غوښې به خوړل شروع کړي، په دې پوه سې چې په اولادو او د کور په کسانو که د ګناوو هډوکې پريښوول غواړې نو درې طريقې دي ① په سختۍ کولو سره د ګناه پريښوولو کوښښ، لاکن هغه به نور ضدناکه سي او د دين څه به بيزاره بلکې د دين په باره کې به په بې ادبۍ کولو سره ايمان د لاسه ورکړي ② که ته فقط زباني د انټرنيټ، ډيش، موبايل او داسې نور زيانونه او د ځان ساتلو فضايل ورته بيان کړې نو هم يې پريښوول مشکل دي ځکه چې هغو ته ګناوې حرام خوند ورکوي ③ خپله سل فيصد پر دين باندې په عمل کولو سره اولاد ته داسې مثال وړاندې کړې چې په کتلو سره هغه هم د ګناوو ناقراره ژوند پريږدي او خوندور ژوند د حاصلولو کوښښ شروع کړي.

**③ اولاد د روا تفريح څه مه راګرځوی:** د دې شي ډيره کمی ده چې د ښځې او اولادو د روا خوشحالۍ هم انتظام نه کوي چې په دغه سبب هغه بيزاره سي، اولاد ته د ديني ماحول سره د روا بازۍ کولو اجازه ورکړي، روا تفريح ورکړي، لوڼو ته خواړه پخول، د کور کار او خياطي ور زده کړي، تجويد، بهشتي زيور کتاب، د ديني کتابو

مطالعه، د نیکی قصې او نور ښه اصلاحی کتابونه د خپل شیخ او بزرګانو څه وپوښتی وریې کړی، د اولادو عزت هم وکړی، د هغو تربیت په محبت سره وکړی، په محبت او نرمی یې دین ته راوبولی. په دین کی د وریښمو په شان سی چی نرم څونه وی لاکن مضبوط دونه چی څوک یې پرې کولای نسی. مور د اولاد پر بد لاری باندی باید سترګی پټی نه کړو چی اوس کوچنیان دی خپله به سم سی، دغه رنګه په ایله ورکولو سره هغه نه سمیږی. که اولاد زموږ نافرمانی وکړی نو هغه ته سزا ورکوو او د الله تعالیٰ پر نافرمانی باندی د ګونګیانو په شان چپ ناست یو. لکه د پیشی د حملې پر وخت چی کوتره سترګی پټی کړی نو آیا پیشی هغه پریږدی؟ همدا رنګه نفس و شیطان به زموږ اولاد را پریږدی؟ هیڅکله نه، بلکې زموږ هیڅ نه ورته ویل به د هغه بد لاری کول نور آسانه کړی.

**④ د ګناوو څه پر راګرځولو باندی په صبر سره اولاد ولی سی:** کله چی اولاد ووایی چی موږ هیڅ مصروفیت نه لرو په دغه خاطر موږ ته تلویزیون، موبایل، ګیم او داسی نور شیان راوړه چی موږ دیغ نسو، نو مور و پلار کور ته دغه خرافات راوړی او عذر کوی چی کوچنی د بل چا کور ته تلی په دغه خاطر مو کور ته راوړه. د هغو په خدمت کی وایم که کوچنی د زهر خوړلو دپاره د بل چا کور ته ځی نو آیا تاسی به زهر کور ته راوړی؟ هیڅکله نه، بلکې تاسی به هغه منع کړی لهٰذا دلته هم هغو ته هیڅکله د ګناوو آلات مه ورکوی. زموږ شیخ به فرمایل کوم مور و پلار چی د اولاد ناروا خواهشات ورپوره نه کړی تر دې حده چی کوچنیان ورته وژاړی چی تاسی زموږ سره محبت نه لری د هغو اوښکی برداشت کړی یا هم هغو ته ناروا شیان ورنه کړی ان شاءالله همداغه مور و پلار به خپل اولاد د خدای دوستان ووینی.

**⑤ د اولاد په تربیت کی د دعا اهمیت:** د اولاد په تربیت کی د مور و پلار دعا ته ډیر اهمیت حاصل دی لاکن موږ پر خپل لاس او بازو باندی ډیر اعتماد کوو چی موږ به اولاد خپله سم کړو. په وهلو ټکولو او سختی سره هغه د دین څه نور لیری کړی، کله چی هغه یاغی سی نو مور و پلار دونه بیزاره سی چی د ډیپریشن مریضان سی، په دغه خاطر نااميده کیږی مه او مه ځان مریضان کوی، د هغو او زموږ هدایت د الله په لاس کی دی، په دغه خاطر دعاوی ډیری کړی، کله وختی بیده سی تهجد ته راپورته سی او د هغو د هدایت دپاره داسی دعا وکړی څنګه چی موږ د خطرناکه بدنی ناجوړیو د

شفاء دپاره په ناقراری سره الله ته ژاړو، د دې معمول جوړ کړی، اوښکی په توېولو سره خو وګوری چې څنګه فضل کېږی ے

**آہ جائے گی نہ میری رائیگاں**

**تجھ سے ہے فریاد اے ربِ جہاں**

**ترجمه**: زما آه به نه ضایع کیږی، تاته می فریاد دی اې د جهان ربّه

## زموږ د شیخ صاحب یو الهامی دعا

زموږ شیخ صاحب وفرمایل د یو ځا د زوی په باره کی دغه دعا په زړه کی راغله چې داسی دعا وکه یاالله! زما د زوی د ګمراهی تر طاقت ستا د هدایت طاقت بالا او قوی دی، ته د خپل هدایت د لمر یوه شغله زما پر زوی واچوه، ما خو ټوله تدابیر وکړه، زه عاجز یم ته قادر یې، زموږ د ګمراهی د انتها دپاره ستا د هدایت ابتدا کفایت کوی. دغه جمله ماته حق تعالیٰ په یو خاص معامله کی راته عطا کړه. ما چې دغه دعا وکړه نو داسی راته احساس سوه چې د حق تعالیٰ د رحمت دغه عنوان خوښ سو، دا جملې داغسی نه وی چې د هغو تعلق فقط د دماغ سره وی بلکې حق تعالیٰ یې د بزرګانو په برکت په خاص توګه زما زړه ته عطا کوی(خزائن معرفت و محبت)

## د نفس او شیطان د شر څخه د حفاظت دپاره څو دعاګانی

وې فرمایل د یو څو دعاګانو اهتمام په ډیر ژړا سره وکړی

① **اَللّٰهُمَّ ارْحَمْنِیْ بِتَرْكِ الْمَعَاصِیْ وَ لَا تُشْقِنِیْ بِمَعْصِيَتِكَ** یاالله! پر ما باندی رحم وکه چې زه ګناوی پریږدم او د ګناوو په سبب ما مه بدنصیب کوه.

② **يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ بِرَحْمَتِكَ اَسْتَغِيْثُ اَصْلِحْ لِیْ شَاْنِیْ كُلَّهٗ وَلَا تَكِلْنِیْ اِلٰی نَفْسِیْ طَرْفَةَ عَيْنٍ**

اې حقیقی ژوندیه! اې قایم ساتونکې! ستا رحمت ته زه فریاد کوم چې زما د ټولو احوالو اصلاح راوکړې او د سترګو د رپ په اندازه ما خپل نفس ته په لاس مه ورکوه.

③ **اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُكَ الْهُدٰی وَالتُّقٰی وَالْعَفَافَ وَالْغِنٰی** یاالله! زه سوال کوم ستا څخه د هدایت، پرهیزګاری، پاک لمنی او مالداری.

④ **اَللّٰهُمَّ وَاقِيَةً كَوَاقِيَةِ الْوَلِيْدِ** یاالله! ته زموږ داسی حفاظت وکه څنګه چې مور د خپل کوچنی حفاظت کوی.

⑤زموږ د شیخ لاندی ذکر سوی مضمون "امامُ المتقین و امامُ الفاسقین" وایاست

## امامُ المتقین یا امامُ الفاسقین، مونږ څه شی جوړیدل غواړو؟

وې فرمایل ځنی محدثینو فرمایلی دی هر انسان چې د کور مشر دی هغه هم عادل امام جوړیدای سی، پر خپله ښځه او اولاد دی عدل وکړی، د فابریکې خاوند دی د خپل کارخانې پر مزدورانو عدل وکړی، ځوک چې د کمپنی مالک دی په هغه کمپنی کی دی عدل او انصاف وکړی نو هر مشر پر خپلو ماتحتو باندی په عدل کولو سره به د حدیث شریف په نعمت کی شامل سی او هغه به هم عادل امام وی. دلیل د قرآن پاک دغه آیت دی

﴿ رَبَّنَا هَبۡ لَنَا مِنۡ اَزۡوَاجِنَا وَذُرِّیّٰتِنَا قُرَّةَ اَعۡیُنٍ وَّاجۡعَلۡنَا لِلۡمُتَّقِیۡنَ اِمَامًا ﴾

**(سورت الفرقان:آیت۷۴)**

*ترجمہ:* اې زمونږ پروردګاره! مونږ ته د خپلی ښځی او اولادو څه د سترګو یخوالی راکه او مونږ د پرهیزګارانو امام وګرځوه.(آسان ترجمه قرآن) نو ددې آیت په حساب هر انسان د خپل کور عادل امام دی. دوهمه شرح یې دغه ده چې هر شخص د خپل کارخانې، د خپل کور امام دی. په دغه خاطر حضرت تهانوی رحمۃ اللہ علیہ فرمایي چې دلته د متقیانو امام د جوړیدو شوق مقصد نه دی بلکې یاالله! تا زه د کور مشر جوړ کړی یم، زه د خپل خاندان مشر یم، د ښځی او اولادو مشر یم لاکن که دوی نافرمان پاته وه نو امامُ الفاسقین به پاته یم، ته دوی تقواداره که چې زه امامُ المتقین جوړ سم ځکه چې امامت خو زما دی. د حضرت تهانوی رحمۃ اللہ علیہ علوم وګوری! **اُولٰٓئِكَ اٰبَآئِیۡ فَجِئۡنِیۡ بِمِثۡلِهِمۡ** یاالله! زما ښځه او اولادونه زما د سترګو یخوالی وګرځوه. زما ذریات، خاندان، ښځه او اولادونه ته متقین وګرځوه، دوی ټوله صالحان که، زه د هغو امام خو یم لاکن زما ښځه او اولادونه که بې لمانځه پاته وه نو به زه امامُ الفاسقین پاته یم لهٰذا مقصد می دغه دی چې زما ښځه او اولادونه تقواداره که، امام جوړیدل زما مقصد نه دی (مواعظ اختر نمبر۶کیف آه و فغاں) .

## قرآن مجید پر سینه ومښلوی

وې فرمایل چې رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم به د قیامت په ورځ د قرآن پرېښوولو په باره کی د خپل اُمت پر خلاف شکایت وکړی

﴿ وَقَالَ الرَّسُولُ يٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هٰذَا الْقُرْاٰنَ مَهْجُورًا﴾

(سورت الفرقان: آیت ۳)

**ترجمه:** او رسول(ﷺ) به ووايي اې ربّه! زما قوم دغه قرآن بالکل پری ایښی وو. **تشریح:** که څه هم د سیاق او سباق په رڼا کی دلته د قوم مطلب کافر دی لاکن دا د مسلمانانو دپاره هم د ېیری ځای دی چی د مسلمان کیدو سربیره که قرآن کریم تر شا واچوی نو داسی نه وی چی هغه هم د دې سختی جملې مصداق جوړ سی او نبی ﷺ د شفاعت پر ځای شکایت وکړی. والعیاذبالله العلی العظیم(آسان ترجمه قرآن)

مفتی اعظم حضرت مفتی شفیع صاحب رحمة الله علیه لیکی چی په ځنی روایتو کی دا هم راغلی دی کوم مسلمان چی پر قرآن خو ایمان ساتی لاکن نه د هغه د ویلو پابندی کوی نه پر هغه باندی د عمل کولو کوښښ کوی هغه هم په دغه حکم کی داخل دی. حضرت انس رضی الله عنه فرمايي چی پیغمبر ﷺ وفرمایل کوم شخص چی قرآن وویلی لاکن بیا یې هغه په بند ساتلو سره په کور کی معلق کړی، نه یې د تلاوت پابندی وکړه، نه یې د هغه په احکامو کی فکر وکړی د قیامت په ورځ به قرآن د هغه په غاړه زړیری راسی او د الله په دربار کی به شکایت وکړی چی ستا دغه بنده زه پرې ایښی وم اوس ته زما او د ده د معاملې فیصله راوکه. (معارف القرآن: جلد۶،صفحه ۴۷۱) علامه(عماد الدین اسماعیل) ابن کثیر رحمة الله علیه د قرآن پریښوولو پنځه مطلبونه لیکلی دی، پر هغه ایمان نه ساتل او تصدیق یې نه کول، د قرآن علم نه حاصلول(یعنی ناظره، تجوید، حفظ، معناوی، د تفسیر علم نه حاصلول) په هغه کی تدبر او غور و فکر نه کول، د هغه پر احکامو(اوامر و نواهی) باندی عمل نه کول، قرآن په پریښوولو سره په شعر و شاعری، افسانو، غزلو، لهو و لعب اخته کیدل (تفسیرابن کثیر: جلد۳،صفحه۵) .

**د فکر لمحه:** د دغه آیت تفسیر موږ باید په وارو وارو ووایو او خپله محاسبه وکړو چی موږ قرآن پرې ایښی خو نه دی؟ راځئ چی همت وکړو، پر قرآن باندی د ایمان راوړلو وروسته د یو مستند قاری صاحب څخه د قرآن الفاظ او تجوید زده کړو، لږ تر لږه یو څو سورتونه په یاد کړو، پر یو مستند عالم باندی د قرآن ترجمه او تفسیر ووایو یا د حضرت مفتی تقی عثمانی صاحب حفظه الله آسان ترجمه قرآن، د حضرت مفتی شفیع صاحب رحمة الله علیه معارفُ القرآن، د علامه شبیر احمد عثمانی رحمة الله علیه تفسیرِ عثمانی ووایو او په کومه خبره چی

مو سر خلاص نسي نو د علماوو څه يې وپوښنتو، د مستند علماوو د قرآن په درس کی کښينو، د خپل ژوند لمحې قيمتی کړو، که موږ قرآن پر سينه ومښلوی، خپلو اولادو ته مو ور زده کړی نو د موبايل، انټرنيټ، کارټون او ګيم د لعنت څه به موږ او زموږ اولادونه ان شاء الله وساتل سو.

**ديندارو والدينو ته تسليت:** وې فرمايل په کومو کورو کی چې تلويزيون، کمپيوټر، کارټون، ګيم او نور خرافات نسته داسی خلک د خپلو اولادو اکثره شکايت کوی چې کوچنيانو ډير په عذاب کړی يو، هر وخت شوخی او يو د بل سره جنګونه کوی، د هغو په خدمت کی وايم چې په مينه يې برداشت کړی، صبر وکړی، زړه مه تنګوی، کوچنيان مه وهی بلکې په محبت يې پوه کړی، په خاطر د دې چې په کومو کورو کی دغه خرافات نه وی نو شيطان کوچنيان په عذابوی چې مور و پلار مجبوره سی او دغه خرافات ورته راوړی او کله چې دغه شيان وی نو هغه به ولی په عذابول کوی، لاکن د هغو آينده بلکې آخرت به يې هم برباد سی او نور به ستاسی نافرمانه سی. ځنی کوچنيان مور و پلار بيروی چې زما د ټولو ملګرو څه موبايل سته ماته هم غټ موبايل راوړی او انټرنيټ را ولګوی کنې زه د کوره تښتم يا ځان وژنم يا داسی نوری خبری، داسی کوچنيانو ته خپل مور و پلار ظالم په نظر ورځی لاکن مور و پلار ته پکار دی چې هيڅکله د هغو ناروا خواهش ورپوره نه کړی کنې هميشه به يې بيا داغه رنګه بيروی، د بزرګانو سره صلاح وکړی.

## د اُمّت د مصلحينو په خدمت کی درخواست

***رحمت کا ابر بن کے جہاں بھر میں چھائیے***
***عالم یہ جل رہا ہے برس کر بجھائیے***

**ترجمه:** د رحمت اوريځ سه پر جهان وغوړيږه، دغه عالم سوځی پر واوريږه

وې فرمايل د اُمّت د مصلحينو، خطيبانو او واعظانو په خدمت کی د زړه څه درخواست کوم چې د موبايل، تلويزيون، انټرنيټ، ډيش، بدنظری په باره کی دی د ممبر څه لازمی بيان وکړی، د خلکو د خبرو پروا دی نه کوی، اُمّت دغه مضمون ته ډير ضرورت لری. په دې باره کی زما د دوهم شيخ سيد عشرت جميل مير صاحب رحمة الله عليه خبره په ياد وساتی هغه فرمايي ۴۶ کاله ترمخه چې زه د حضرت مولانا شاه حکيم محمد اختر صاحب رحمة الله عليه

خدمت ته حاضر سولم نو ما حضرت صاحب ولیدی چې داغه مضمون بې له ناغې بیانوی، حضرت صاحب په هغه زمانه کې وفرمایل "زه د عریانی او فحاشي سیلاب راروان وینم نو آیا زې د راګرځولو کوښښ ونه کړم؟ ځنی خلک اعتراض کوی چې دا خو هم یو مضمون بیانوی نور مرضونه نه بیانوی، زه وایم چیری چې کولرا(هیضه) راغلې وی نو هلته به طبیب د کولرا علاج وکړی او که د ریزش او زکام؟ ځنی خلک پر ما بدګمانی کوی چې یو خبره خو ده چې داغه مرض بیانوی لاکن زه د خلکو هیڅ پروا نه کوم زه د الله دپاره د خپل عزت څه په بې پروا کیدو سره دغه مضمون بیانوم او بیانوم به یې".
خلکو د حضرت صاحب استقامت ولیدی چې په حق ویلو کی د هیڅا څه متاثره نسو او په ټوله دنیا کی په خاصه په اروپایي ملکو کی هر چیری چې د حضرت صاحب سفر وسو ځوانانو دا تسلیم کړه چې حضرت صاحب د دې ځای په غلط ماحول کی زموږ ځوانی راوساتل کنې موږ به د دې ځای په غلاظتو کی خپل ژوند ضایع کړی وای.

## دینی او دنیاوی تعلیم حاصل کونکی ځوانانو ته نصیحت

① د ټولو ګناوو څه د شرق او غرب لیریوالی وساتی ځکه چې په ګناوو سره حافظه ډیر متاثره سی، په خاصه د موبایل ډیر استعمال او په هغه کی فیسبک، یوټیوب، انټرنیټ، دا رنګه تلویزیون، ډیش او داسی نور ټولو خرافاتو څه په مکمل توګه ځان وساتی کنې زړه او دماغ به په هغه اخته وی. امام شافعی صاحب رحمه الله فرمایي ما خپل استاذ امام وکیع رحمه الله ته د حافظې شکایت وکړی نو استاذ د ګناوو د پریښوولو وصیت راته وکړی. په خاطر د دې چې د دین علم د الله نور دی او د الله نور یو ګناهګار ته نسی حاصلیدای. همداغه سبب دی چې د ګناوو په سبب په درس کی زړه نه لګیږی او نه سبق یادیږی.

② د ګیم او کارټون څه هم په مکمل توګه ځان وساتی که څه هم ساده ګیم ولی نه وی، په خاصه کوچنیان د دې څه باید ډیر وساتل سی.

③ د اخبار، ناول ویلو، خبرونو او داسی نورو څه هم ځان وساتی، په ناول ویلو کی اکثره دینداره انجونی هم اخته دی.

④ پر موبایل باندی د تلیفونانو، پیغامونو او بې ځایه تعلقاتو څه هم ځان وساتی، په خاطر د دې چې په دغه سره ذهنی توجه ختمه سی.

⑤ د مجازی عشق او بدنظری څه ډیر لیری واوسیږی او د زړه هم ډیر حفاظت وکړی، په خاصه د علم د خاوندانو دپاره د لغږزنو هلکوانو څه او انجونی دی هم د خپل همجنس څه ډیر احتیاط وکړی.

# راځئ چې توبه وکاړو او خپل ربّ راضی کړو

د الله تعالیٰ فرمان دی

﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ (سورت الروم: آیت ۴۱)

***ترجمه:*** خلکو په خپلو لاسو چې څه وګټېه د هغه په سبب پر وچه او لنده باندی فساد جوړ سو په دغه خاطر چې هغو څه کارونه کړی دی الله په هغو کی د یو څه خوند په دوی وڅکی، شاید چې هغه لاس واخلی(آسان ترجمه قرآن) **تشریح:** دغه آیت سبق راکوی چې د عام مصیبتو پر وخت که څه هم هغه د ظاهری اسبابو په سبب په وجود کی راغلی وی پر خپلو ګناوو باندی استغفار او الله تعالیٰ ته د توجه کولو طریقه باید اختیار سی. نن سبا د ذاتی او اجتماعی ګناوو په سبب چې کوم سخت حالات پر اُمّتِ مسلیمه باندی راغلی دی په هغه کی د ډېری توبې او الله تعالیٰ ته د رجوع ضرورت دی. شاید چې یو داسی شخص وی چې د غټ موبایل په تاوانو نه وی خبر، ځان ځنی ساتل هم غواړی، د کور ماحول بدلول او اولاد نیک جوړول هم غواړی لاکن د میډیا او دین دښمنانو په فریب کی په راتلو سره د دین، مدرسو، علماوو او اولیاوو څه لیری سی، حال دا چې باید ورنژدې سو، د هغو سره صلاح وکړو، د خدای محبت ځنی حاصل کړو، ان شاءالله تعالیٰ د دې غفلت څه به راووځو. حضرت تهانوی رحمۃ اللہ علیہ وفرمایل چې په ګناوو کی د اخته کیدو سبب د الله سره د محبت کمی ده کله چې محبت ورسره ډیر سی نو په ګناه کی به مرګ په سترګو وینو او د خدای محبت د حاصلولو طریقه دغه ده ① د خدای نعمتونه او د هغه احسانونه په یادول ② د محبت د خاوندانو صحبت اختیارول یعنی اولیاوو ته تګ راتګ او تعلق ورسره ساتل ③یو څه د الله ذکر کول.

دوهمه حصه ختم سوه

**د نور تفصیل او اصلاحی مشورو دپاره**

**مسجد اختر C-96 ګلستانِ جوهر بلاک ۱۲ سندھ بلوچ سوسایټی ۲ دروازه، کراچی**

**تلیفون:** 44 - 34030643 - 021

**ویب پاڼه:** www.HazratFerozMemon.org **ایمیل:** Ask@HazratFerozMemon.org

## ارشادات

## حکیم الامت مجدد الملت حضرت مولانا شاه محمد اشرف علی تهانوی صاحب نور الله مرقده

### ګناه یو خراب او خطرناکه شی ده

وې فرمایل چې ګناه بدبخته بیخی ډیر خراب او خطرناکه شی ده، د دې څه د ځان ساتلو سخت ضرورت دی. هغه وخت او ساعت د بنده دپاره ډیر مبغوض او ناسی دی چې په هغه کې د خپل خدای نافرمان وی. که حس وی نو د ګناه کولو ورسته دستی پر زړه باندی ظلمت احساس سی او د بعضی نافرمانیو دغه اثر هم کیږی چې د آینده دپاره د عمل توفیق سلب سی. ډیره د بیری خبره ده. په ګناه کی یو بل خاصیت هم دی چې تابع کسان د هغه نافرمانی شروع کړی. یو بزرګ پر آس کښېنستی هغه شوخی شروع کړه وې فرمایل چې نن زما څه یو ګناه سوې ده د هغه په خاطر دا زما نافرمانی کوی. یو بل خاصیت تر ټولو سخت دی هغه دا چې کله په بې فکری او بې خیالی کی د صغیره څه کبیره(ګناه) وسی او هغه سبب د کفر سی. پدغه خاطر انسان دی یو وخت د ګناه کولو وروسته بې فکره کیږی نه، توبه استغفار دی کوی، لاکن دا هم نه چې داغه مشغله جوړه کړی او هم پداغه مراقبه اخته وی بلکې یوواری دی ښه د قاعدې په حساب توبه وکاږی په کار دی اخته سی او د دې وروسته بیا چې کله خیال وروګرځی اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ دی ووایی مخته دی روان سی، په کار دی اخته اوسی۔ (الافاضات الیومیه،ج٦،ص١٨٣)

### صغیره او کبیره ګناه

وې فرمایل کومه ګناه چې صغیره یعنی کوچنی بلل کیږی هغه د غټی ګناه په مقابل کی کوچنی ده کنې هره ګناه په دغه حیثیت چې په هغه کی د الله او د هغه د رسول ﷺ نافرمانی ده هم غټه ګناه ده. لکه د وچو وابښو دپاره چې غټه بڅرکه څنګه خطرناکه ده همدا رنګه د کوچنی بڅرکی هم هغه انجام دی چې هغه هم کله بل سی نو اور ځنی جوړ سی، پدغه خاطر په ګناوو کی د کبیره او صغیره تقسیم یو د بل د نسبت په اعتبار دی. صغیره ګناه هم په کوچنی بللو سره لاپرواهی کول خپل بربادی ته دعوت ورکول دی۔ (مجالسِ حکیم الامت،ج ٢٤ ص ١٨٢)

دغه کتاب مفت تقسیم کیږی
د دې د خرید او فروخت اجازه نسته